
واتموا الحج والعمرة لله (القرآن)

# د حج او عمرے

## مسنون طریقه



تالیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری
حفظه الله تعالی



مکتبه محمدیه
منگل مارکیټ بیرون گنج پیښور

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستانو اگر كه تفصيلا دا مسائل ډير وقت (او ضخيم كتاب غواړي) ليكن ان شاء الله دا مسائل تحقيق شده دي عمل پرے پكار دے۔

او مونږ حتى الوسع د دليل نه راويستلي دي۔

نو د خپل حج او عباداتو اصلاح اوكړئ او د رسول الله ﷺ په مخالفت سره ئے بربادول پكار نۀ دي۔ او تفصيل دپاره فتاوى الدين الخالص (١٠) جلد عربي ته رجوع كيدے شي۔

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه اجمعين وقع الفراغ من الضميمة ليلة الثلاثاء عام ١٠/ ١٤٢٦هـ شوال ١٠/١٣۔

OOOOOO

كمپوزنگ وتصحيح

ابوزهير سيف الله شيخ آباد نمبر ٤ پشاور۔



# فهرست د كتاب


| مضمون | صفحه |
|---|---|
| **مقدمه** : په دے كنبے درے بحثونه دي | ٦ |
| **اول بحث** : فوائد الحج : د حج فائدے | ٦ |
| يوه عظيمه فائده | ٩ |
| د حرمينو شريفينو فضيلت | ١١ |
| د حج مبرور – يعنے مقبول حج – فائده او علامه | ١٢ |
| فائده : حج يو قالب دے | ١٤ |
| **دويم بحث** : صحيح نيت، صحيح عقيده دريم بحث د مال حلالوالے | ١٥ |
| عجيبه نكته | ١٦ |
| **اول باب** : د عمرے، حج قِران، حج إفراد او حج تمتع بيان | ٢١ |
| د حج تمتع بيان | ٢٢ |
| تبصره : څو بدعات او غلط فهميانے | ٢٢ |
| كوم حج غوره دے ؟ | ٢٣ |
| د ډيرو عمرو كولو حكم | ٢٤ |
| **دويم باب** : د عُمرے تفصيل | ٢٦ |
| د ميقاتونو بيان اودا پنځه دي | ٢٨ |
| د تلبيه الفاظ | ٢٩ |
| د حج يا عُمرے دپاره عربئ وغيره ژبه كنبے نيت نشته | ٣١ |
| د ذو الحليفه خصوصيت : چه هلته به مونځ كولے شي | ٣٢ |
| محرم دپاره څه كارونه جائز او څه منع دي | ٣٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



په احرام کښے او د احرام نه مخکښے بدعات او غلطیانے ٣٧
کله چه د مکے کورونه اووینی ٣٩
مکے مکرمے ته د ورځے داخلیدل افضل دی ٤٠
د کعبے لیدو په وخت هره دعاء کول جائز دی ٤١
طواف اود هغے متعلقات ٤٢
تنبیه : د حجر اسود خکلولو په وخت صرف الله اکبر وئیل سنت دی ٤٢
د رکن یمانی او حجر اسود مینځ کښے دعاء ٤٣
په طواف کښے اضطباع (ښیٔ اوګه ښکاره کول) ٤٣
په حجر اسود باندے تندے کیخودل سنت دی ٤٤
فائده : د کعبے د مورے نه په طواف کښے ځان ساتل ٤٤
د طواف، حجر اسود او رکن یمانی فضیلت ٤٥
په طواف کښے بدعات او ناروا کارونه (١٩) ٤٦
کله چه طواف ختم کړی شنګه به اوځی ؟ ٥٠
بیا به دوه رکعته مونځ اوکړی، ددے مسائل ٥٠
د طواف نه پس دوه رکعته هر وخت کول جائز دی ٥١
بیا به زمزم ته لاړ شی او اوبه به اوسکی ٥٣
د زمزم اوبو څښلو په وخت اودریدل شته که نه ؟
په زمزم کښے بدعات ٥٤
کله چه فارغ شی نو سعی ته دے متوجه شی ٥٥
سعی او د هغے مسائل ٥٥
په سعی کښے د صحابه کرامو نه منقوله دعاء ٥٧
په سعی کښے بدعات (٩) ٥٧



بیا دے سر اوخرئی، احرام نه اووتلو، عمره پوره شوه ٥٩
د حلق او قصر - یعنے سر خرئیلو یا لنډلو - بیان ٥٩
په حلق او قصر کښے بدعات (١٥) ٦٠
**فصل : د زنانه د عمرے** بیان (٨) مسائل ٦١
په عمره کښے فرائض ٦٤
**دریم باب** : د حج اود هغے د احکامو تفصیل ٦٥
احرام به د کوم ځائے نه تړی ؟ ٦٥
مِنیٰ کښے مخکښے ځایونه نیول بدعت دے ٦٦
فرض طواف مخکښے کول نه دی جائز ٦٧
په حج کښے فرائض ٦٧
په حج کښے واجبات (٧) ٦٨
عرفات اود هغے متعلقات ٦٩
د عرفات مسائل (٥) ٧٠
په عرفات کښے بدعات او ناروا کارونه (١٦) ٧٢
مزدلفه اود هغے متعلقات ٧٥
مزدلفه نه مخکښے مونځ کول خلاف سنت دی ٧٦
مزدلفه کښے شپه تیرول واجب دی ٧٧
په مزدلفه کښے بدعات (٦) ٧٨
مزدلفے نه د نمر خاته نه لړ مخکښے روانیدل سنت دی ٧٩
مِنیٰ اود هغے متعلقات ٧٩
د اختر په ورځ صرف یوه جمره عقبه ویشتل دی ٨٠
حلق - سر خرئیل ٨٠
د ذبح طریقه ٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيطان په ويشتو او ذبح کښې بدعات (۱۱) ۸۱
د سر خرئيلو نه پس جامې اغوستل او طواف زيارت له تلل ۸۳
**مهمه مسئله** ۸٤
ددې طواف نه پس سعي شته اوکه نه ؟ ۸٤
هرکله چه مِنیٰ نه واپس لاړ شي ۸۵
د مِنیٰ په ورځو کښې ذکر او عبادت کولو ترغيب ۸٦
کله چه د اختر په دويمه ورځ جمرات ويشتلو اراده وي ۸٦
د دوو جمرو ويشتلو نه پس دعاء کول (او طريقه) ۸۷
دريمه ورځ ته نه ايساريدلو جواز ۸۷
د دعاء د قبليدو ځايونه او وختونه (۱۸)۔ ۸۸
د دعاء شرطونه ۹۰
د حج نه واپسي ۹۱
کله چه بيت الله نه اوځي ۹۲
ځان سره زمزم يا هديه راوړل ۹۲
د حج تکليفونه يادول د محبت تقاضا نه ده ۹۴
د حج نه واپسئ کښې بدعات ۹٤
څلورم باب : د حج بعضې مسائل (۲٤)۔ ۹٦
د احرام او ميقات مسائل ۱۰۱
د حج قِران، تمتع او حج افراد مسائل ۱۰۵
**عجيبه فائده :** مسجد حرام کښې د مونځ گذار مخې ته تيريدل څنګه دي ؟ ۱۰٦
دَم په څه لازميږي ؟ او ضروري خبردارے ۱۰۷
د طواف، سعي او جمراتو مسائل ۱۱۱



د هدی احکام ۱۱۸
د حرم شريف حدود ۱۱۹
د عرفات، مزدلفه او مِنیٰ مسائل ۱۲۱
نا شنا مسئله ۱۲٤
د ماشومانو د حج بيان (۷) مسائل ۱۲۵
په حج کښې نائب نيول اوشرطونه ۱۲۷
زنانه بغير د محرم نه حج نشي کولے ۱۳۰
طواف وداع ۱۳۳
**خاتمه د کتاب :** د مسجد نبوی او غارونو زيارت کول ۱۳٦
د نبی ﷺ په زيارت کښې موضوعي حديثونه ۱۳۸
کله چه مدينې طيبې ته اورسي، اول به مسجد ته لاړ شي ۱۳۹
رسول الله ﷺ به بقيع مقبرې ته تللو ۱٤۱
مدينې طيبې ته د تللو بدعات (۲٤) ۱٤۲
غار حراء او غار ثور ته تلل ۱٤۵
بيت المقدس ته سفر کول ثواب لري ۱٤۵
اختتام کتاب ۱٤٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جمله حقوق محفوظ دی**


د کتاب نوم ــــــــــــــــ د حج او عمرے مسنون طریقه

د مؤلف نوم ــــــــــــــــ شیخ ابو محمد امین الله بشاوری حفظه الله

سنۀ طباعت اول ایډیشن ذی القعده : ١٤٢٦ هـ

سنۀ طباعت دویم ایډیشن شعبان ١٤٣٢/٢٠ هـ

تعداد ــــــــــــــــ ١١٠٠

کمپوزنګ وتصحیح ابو زهیر سیف الله عفی عنه

اخراج ــــــــــــــــ ابو سلمان حضرت محمد عفی عنه

ناشر

**مکتبه محمدیه**

بیرون گنج گیټ منگل مارکیټ پیښور




بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسوله محمد وآله وصحبه اجمعین :

**امابعد** : د کتاب پدے طبع (ایډیشن) کښے بعضے ضروری مسائل چه مخکښے کتاب کښے نۀ وو - د بعضے ملګرو په مشوره - اضافه کړے شول۔ الله تعالی دے ددے فائده نوره هم عامه کړی۔ آمین۔

ابو محمد امین الله البشاوری۔

ذو القعده : ١٤٢٦/١٢ هـ

OOOOOOO

بسم الله الرحمن الرحيم

## تمهید

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ فَرَضَ عَلٰی عِبَادِهٖ فَرَائِضَ وَحَدَّ لَهُمْ حُدُوْدًا وَسَكَتَ عَنْ اَشْیَاءَ رَحْمَةً بِهِمْ لَا نِسْیَانًا بَلْ مَغْفِرَةً وَاِحْسَانًا، وَمِنْ اَهَمِّهَا الْفَرَائِضُ الْخَمْسَةُ الْمَذْكُوْرَةُ فِیْ حَدِیْثِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا الَّذِیْ رَوَاهُ فِی الصَّحِیْحَیْنِ. وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بَلَّغَ عَنِ اللّٰهِ مُرَادَهٗ بِاَوْضَحِ بَیَانٍ وَاَتَمِّ تِبْیَانٍ، تَرَكَهُمْ عَلَی الْمَحَجَّةِ الْبَیْضَآءِ لَا یَزِیْغُ عَنْهَا اِلَّا هَالِكٌ وَعَلٰی آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ اِلٰی یَوْمِ التَّنَادِ۔

**اما بعد :**

په هر قسم علم کښې کتابونه لیکلے شویدی او په هره مسئله پوره پوره کتابونه مسطور دی لیکن مونږ دا رساله د حج د بعضے احکامو په بیان کښې اولیکله ځکه چه شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائیلی دی چه د مسائلو په اعتبار سره په عباداتو کښې حج ګران عبادت دے، اګرکه پدے باب کښې ډیر کتابونه شته لیکن صحیح کتابونه په عربئ ژبه کښې دی او اردو کښې هم شته لیکن بعضے ډیر اوږده او بعضے ډیر مختصر دی او په اکثرو کښې د



بدعاتو اثبات هم شویدے۔

ځمونږ دا رساله به ان شاء الله تعالی تاسو ته د کتاب د حوالے او د کتاب د نوم سره سره هغه احکام پیش کوی چه هغه د رسول الله ﷺ یا د صحابه کرامو رض نه ثابت وی۔

او ددے سره سره به زه هغه بدعات هم لیکم چه د حج په مراسمو کښې ئے خلق کوی، ځکه چه کله عبادت په داسے طریقه اوشی چه هغه د سنت مطابق وی او بدعت په کښې نه وی نو هغه د الله په دربار کښې ښه قبلیږی او دیته احسن عمل وائی۔

پدے رساله کښې یوه مقدمه او څلور بابونه او یوه خاتمه ده۔

❀❀❀❀❀❀❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مُقَدِّمَة

## په دې مقدمه کښې درې بحثونه دي

اول بحث د حج او د عمرې او د مسجد حرام او د مسجد نبوي د فضائلو په بيان کښې دې.

### ١- فوائد الحج والعمرة :

يعنې د حج او عمرې فائدې چه د هغې په معلومولو کښې د نيت صحيح کيدل راځي او احتساب په عمل کښې پيدا کيږي، دارنګه د عمل سره شوق پيدا شي، دغه فائدې زه د آياتِ قرآنيه او د احاديث د رسول الله ﷺ نه راخلم او صرف په حواله اکتفاء کوم بتوفيق الله تعالى وعونه.

په حج کښې ايماني، اخلاقي، ثقافتي او اجتماعي، سياسي او دنيوي فائدې شته. الله تعالى فرمائي: ﴿لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ﴾ چه حاجيان خپلو فائدو ته حاضر شي.

١- صحيح حج سبب د جنت دې .

٢- سبب د مغفرت دې. [رَجَعَ كَيَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ]. (بخاري مسلم).

٣- پرله پسې حج او عمره کول فقر ختموي .

٤- دارنګه ګناهونه ختموي (ترمذي).

٥- حج د ايمان او د جهاد نه روستو افضل عمل دې. (بخاري



ومسلم).

٦- د الله تعالى حکم اداء کول دي :

﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ﴾ .

٧- د نبي عليه السلام اتباع ده.

٨- حاجي ته په هره تسبيح او تکبير او تهليل باندې زيرې ورکول کيږي. (ترغيب وترهيب).

٩- حج مخکني ټول ګناهونه ختموي تردې چه حقوق العباد ليکن که پردې مال ورسره وي نو واپس کول د مال خپل مستحق ته ضروري دي. (صحيح مسلم وابن خزيمه).

١٠- حج جهاد د هر ضعيف انسان دې. (طبراني، عبد الرزاق)

١١- د زنانو دپاره حج ، جهاد دې.

١٢- د اسلام يو عظيم رکن دې.

١٣- پرله پسې حج او عمره عمر ډيره وي. (بيهقي).

١٤- حاجي به د خپلې کورنۍ خلقو دپاره سفارش کوي. په يو ضعيف روايت کښې راغلي دي چه د څلور سوه کسانو سفارش به کوي. (مسند البزار).

١٥- په هر قدم د اوښانو د حاجي باندې يوه نيکي ليکل کيږي او يوه ګناه لرې کيږي او يوه درجه اوچتيږي. (ابن حبان).

١٦- د حاجي او معتمر دعاء قبليږي ځکه د الله تعالى ميلمانه دي. (بزار، ابن ماجه، ابن حبان) .

١٧- او که دې استغفار غواړي الله تعالى ورته بخښنه کوي.

(نسائی) ۔

۱۸- او حاجی چه د چا دپاره بخښنه اوغواړی هغه هم الله تعالی بخښی۔ (الحاکم، ابن خزیمه)

۱۹- په دوه رکعاتو د طواف د یو مریئ (غلام) آزادولو ثواب ملاویږی۔

۲۰- صفا مروه کښې سعی باندې اویا (۷۰) مریانو ثواب۔

۲۱- د عرفې په ورځ الله تعالی آسمان د دنیا ته راځی او تولو حجاجو ته - او دوی چه د چا دپاره سفارش کوی - بخښنه کوی۔

۲۲- د جمراتو په یو یو گذار باندې یوه کبیره هلاکونکی گناه معاف کیږی۔

۲۳- قربانی ذخیره کیږی د الله تعالی په نزد۔

۲٤- د سر خرئیلو په هر ویخته باندې یوه گناه معاف او نیکی لیکل کیږی۔

۲۵- او طواف چه کله کوی نو تول گناهونه به دې معاف وی او یو ملائك به تا ته وائی، د سره عمل شروع کړه۔ دا روایت طبرانی ، ابن حبان راوړیدې ۔

( مجمع ٤/ ۲۷٦۔ المطالب العالیه - ٤، ٨٤، ٥٠٧، باسناد لابأس به)۔

۲٦- دارنګه په یو یو ویخته چه په زمکه پریوځی د قیامت په ورځ به نور ملاویږی۔

۲۷- که حاجی او عمرې والا چرته لاره کښې مړ شی نو تر قیامته به هغه له د حج او عمرې اجر لیکل کیږی۔( ابویعلی)۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸- او الله تعالی په عرفات والو باندې دارنګه په طواف والو باندې فخر کوی (طبرانی، بیهقی)۔

۲۹- د حاجی او عمرې والو ذمه واری الله تعالی اخستې ده که مړ شی جنتی به وی او که واپس راشی نو اجر او یا غنیمت به راوړی (طبرانی فی الاوسط ) ۔

۳۰- دارنګه حساب به ورسره نه کیږی۔

۳۱- دارنګه قیامت کښې به تلبیه حالت کښې راپاڅیږی

(بخاری، مسلم) ۔

۳۲- نفقه په حج کښې په اووه سوه ( ۷۰۰) چنده ده۔

(رواه احمد باسناد حسن) ۔

۳۳- په رمضان کښې عمرې د حج مقدار ثواب لری بلکه د رسول الله ﷺ سره د حج کولو ثواب لری۔

۳٤- حج هم سبیل الله دې ( ابوداؤد)۔

۳۵- د تلبیه ویونکی دپاره هر څوك ګواهی ورکوی ښی او چپ طرف والا۔ [رزین، ابن ماجه، ترغیب]۔

۳٦- په تلبیه او تکبیر کښې د جنت زیرې دې (طبرانی) ۔

۳۷- د طواف اجر په مقدار د مرئی (غلام) آزادولو دې۔

۳۸- د حجر اسود او رکن یمانی مسح کول د گناه د رژیدلو سبب دې۔ (ابن حبان)۔

۳۹- **یوه عظیمه** فائده دا ده چه مسجد حرام کښې یو مونځ په یو لاکهه دې او مسجد نبوی کښې یو په زر باندې دې۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



(عبد الرزاق، ابن حبان) ۔

۴۰- په طواف کښې د الله تعالی په رحمت کښې داخلیدل د...
(ابن ماجه) ۔

۴۱- د حجر اسود ګواهی به وی په هغه چا چه ښکل کړے ... وی په حق باندے۔ (ابن حبان) ۔

۴۲- دارنګه رکن یمانی به هم ګواهی ورکوی۔ (طبرانی) ۔

۴۳- د ذو الحجے په ابتدائی لس ورځو کښې نیک اعمال ډیر اجر لری۔ (بخاری)۔

۴۴- د عرفے په ورځ اکثر خلق د اور نه آزادولے شی ۔
[ابن خزیمه، ابویعلی]۔

۴۵- شیطان په ورځ د عرفے باندے سخت غصه او ذلیل وی ځکه د الله تعالی رحمت نازلیږی او لوئی لوئی ګناهونه معاف کیږی۔

۴۶- په رمی الجمار یعنی شیطان ویشتلو کښې د ابراهیم علیه السلام اتباع ده۔ (ابن خزیمه)۔

۴۷- د سرخریونکی دپاره رسول الله ﷺ د رحمت دعا کړیده۔ [اَللّٰهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِیْنَ۔ بخاری] ۔

۴۸- د زمزم د اوبو ډیرے فائدے دی لکه د هر مرض او جهل او بے تقوائی دپاره علاج دے۔ (طبرانی، ابن حبان)۔

۴۹- په حج کولو سره سړے د یهودیت او نصرانیت د مرګ نه بچ کیږی۔ (بیهقی، مشکاة) ۔

۵۰- الله تعالی فرمائی : کوم انسان چه ما ورته مال ورکړے وی



او هر پنځه کاله کښې حج نه کوی نو محروم دے یعنی د هر خیر نه۔(ابن حبان باسناد صحیح) ۔

۵۱- د مسجد قباء زیارت او هلته دوه رکعاته مونځ د عمرے په مقدار اجر لری هره ورځ۔ (احمد، نسائی) ۔

۵۲- په مدینه کښې که څوك مړ شو هغه دپاره خصوصی شفارس د رسول الله ﷺ شته۔ (مسلم) ۔

۵۳- دا قسم نور فوائد هم په کښې شته لکه دعا قبلیدل لږ وقت کښې ډیرے نیکیانے جمع کول، د الله تعالی د محبت نښه ده، دارنګه د هدایت ذریعه ده، دارنګه د حج او عمرے په وجه د دنیا بقا ده ﴿قِیَامًا لِّلنَّاسِ﴾ او بے شماره فوائد لکه ایمان تازه کول وغیره پکښې شته لیکن په شرط ددے چه شعور او فکر سره حج څوك اوکړی۔ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا زِیَارَةَ بَیْتِكَ الْمُحَرَّمِ آمین۔

## د حرمینو فضیلت

۱- حدیث کښې راځی، نبی کریم ﷺ فرمائی :

لَا تَشُدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا اِلٰی ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ، اَلْمَسْجِدِ الْحَرَامُ وَالْمَسْجِدُ الْاَقْصٰی وَمَسْجِدِیْ هٰذَا۔ (بخاری، مسلم)

ترجمه : د درے جماتونو نه غیر نورو جماتونو ته د عبادت دپاره سفر مه کوئ چه هغه مسجد حرام، مسجد اقصی او مسجد نبوی ﷺ دے۔ [بخاری ومسلم]۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حج مبرور (مقبول) فائده او علامه

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه کوم یو عمل بهتر دے؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل: په الله او رسول باندے ایمان راوړل، دا بهترین عمل دے. بیا ترے تپوس اوشو چه بیا کوم عمل بهتر دے؟ هغ[ه] اوفرمائیل: جهاد فی سبیل الله. بیا ترے تپوس اوشو، بیا کوم یو عمل بهتر دے؟ نو وے فرمائیل: حج مبرور بهتر عمل دے.

[بخاری، مسلم].

**د حج مبرور** ثواب دا دے چه جنت ته انسان داخلوی حج مبرور دیته وائی چه ګناه په کښے نه وی او حدیث کښے راځی:

[ إِطْعَامُ الطَّعَامِ وَلِيْنُ الْكَلَامِ ] .

(د الله تعالی بندګانو ته خوراک ورکول او نرمے خبرے ورسره کول دی) نو د حج د مبرور کیدو دپاره یو څو ګناهونو نه ځان ضرور ساتل پکار دی چه حج ئے مبرور شی:

۱ - اوله ګناه: **شرک** دے چه دا بنیادی ګناه ده مغفرت ئے نه کیږی ترڅو چه توبه دے ویستلے نه وی. د شرک مثال دا دے لک[ه] یاعلی مدد وئیل. یارسول الله مدد یا رسول الله اَغِثْنِیْ یا رسول الله یا بابا راورسیږه یا دا وئیل چه د فلانی ولی په مدد او طاقت مے دا کار اوکړو یا د اولیاؤ په نوم قسم او نذر کول یا د طاغوت قانون منل



او هغے ته ځان تسلیمول ځکه شرک سره هر عمل باطلیږی او خصوصا حج به دے باطل شی.

۲- **دویمه** ګناه: ګیره خرئیل یا وره کول دا یو عظیم جرم دے او داسے ګناه چه په سفر او حضر او خوب او په ویخه او مسجد کښے او بهر د مسجد نه هر وخت سرے پرے ګناهګار وی. او که دے حالت کښے مړے شوے نو بیا د خاتمے د خرابوالی علامه ده، د چا حج چه قبول نشی نو د هغے نښه دا ده چه ګناه نه پریدی، بار بار ئے کوی.

۳- دریمه ګناه: د سرو ګوته اچول دا په سړو حرامه ده.

۴- څلورمه ګناه: بے حیائی کول او په طواف او حجر اسود کښے د زنانو تیل کول چه دا ظلمِ عظیم دے او حال دا دے چه د نفلی طوافونو نه ځان حفاظت کښے ساتل زیات ضروری دی، بلکه په حج کښے نبی علیه السلام صرفِ درے طوافه کړیدی طواف قدوم، طواف فرض، اوطواف وداع نور نفلی طوافونه ئے ندی کړی پدے وجه بعضے علماء وائی چه حج کښے صرف دغه درے طوافونه عبادت دے باقی ضروری ندی، البته که نورو مسلمانانو ته تکلیف نه رسی نو بیا د نورو دلائلِ عامه نه د طواف استحباب معلومیږی (لیکن څوک چه نوی حج یا عمرے ته راځی هغوی ته د طواف موقع ورکول پکار دی او ځانله نور نوافل تلاوت وغیره کوه). نو زمونږ په زمانه کښ په نفلی طوافونو خلق خپله حیاء برباده وی او حیاء ډیر ضروری شے دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- پنځم: موبائل فون ځان سره ساتل او مطاف او طواف او مانځه کښې د هغې تلې (رنګ) راتلل سخته بے ادبي ده او عبادات بربادول دي دا ګناه دومره زیاته ده چه څوك ئې ګناه هم نه ګڼي۔

۶- شپږمه ګناه دا ده: خلقو سره بعد اخلاقي کول او ایذاء رساني کول دا هم ډیر حجاج کوي او حال دا دے چه مسلمان ته د هغه مال او بدن او عزت ته ضرر رسول ګناهِ کبیره ده۔

۷- تصویرونه ویستل او د عرفات، منی، مزدلفه نه میله جوړول او یا د تې وي (آله مصوره) ته ځان وړاندے کول او لاسونه خوزول په مسجد کښې دننه ډیره بے وقاري ده۔

**فائده**: په یو اثر کښې راځي چه د رمضان او د جمعې ورځ او حج درے واړه قالب دي که دے کښې انسان صحیح استعمال شي نو ټول کال او هفته او ټول عمر به برابر وي او که دیکښې غلط استعمال شوے نو بیا به دے باقي زندګي خرابه وي۔

[کما في اللمعة للسیوطي، والدین الخالص: ٦]۔

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیل ئې:

مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ۔

[بخاري، مسلم]۔

ترجمه: چا چه حج اوکړو او د ښځو او نا فرمانۍ خبرے ئې اونکړے نو دا د ګناه نه داسے (پاك) راواپس شو لکه چه د مور نه د پیدا کیدو په وخت کښې د ګناه نه پاك وو۔



**نو زه** ټولو حاجیانو ورونو ته درخواست کوم چه دا رساله په پوره توجه سره اوګوري او نورو ملګرو ته ددے دعوت ورکړي، دے دپاره چه حج مو د الله تعالی په دربار کښې مبرور او مقبول شي۔

والله المستعان وهو نعم المعین۔

## دویم بحث

## د صحیح نیت

## صحیح عقیدے او حلال مال په باره کښې دے

هر انسان چه د حج یا عمرے اراده اوکړي نو هغه لره د یو څو خبرو لحاظ ساتل ضروري دي ځکه چه حج او عمره د جهاد په شان دي۔ پدے کښې مال او نفس دواړه لګیږي او حدیث کښې راځي:

اَلْحَجُّ جِهَادُ كُلِّ ضَعِيفٍ۔ (اخرجه ابن ماجه)۔

حج د ضعیف انسان دپاره د جهاد په شان دے نو پدے کښې د اخلاص کوشش ضروري دے۔ ددے دپاره چه عبادت ئې بے ځایه لاړ نشي ځکه شیطان اول انسان عبادت ته نه پریږدي او کله چه د عبادت اراده اوکړي نو بیا ئې ورلره په ریا او شهرت وغیره سره بربادوي۔ د اکثرو خلقو د حال نه معلومیږي چه هغوی حج ددے دپاره کوي چه خلق ورته حاجي صاحب اووائي او بعضے خلق پدے نیت باندے ځي چه ځما ګاونډیان او خپلوان حاجیان شو خلق به وائي چه فلانکي سړي سره مال شته او حج ته نه ځي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضے خلق د سیال او سیاحت په نیت حج ته ځی۔ دلته یوه

**عجیبه نکته:** ده هغه دا چه په مکه مکرمه کښے الله تعالیٰ داسے شنه او مزیدار بوټی او ونے او ګلونه ندی پیدا کړی چه خلق ئے سیال ته لاړ شی بلکه یوه شره علاقه کښے الله تعالی دغه مقدس مقام پیدا کړیدے وجه دا ده چه کچرے دا مقام سر سبز، شاداب وے او نهرونه پکښے جاری وے نو زیات خلق به د خپل خواهش په بناء دغه ځائے ته تللے لیکن الله تعالی سر سبز او شاداب ددے وجے نه پیدا نکړو چه حج ته هغه خوك لاړشی چه هغه د الله تعالی او د هغه د کور سره مینه لری او بل څه مقصد ئے نه وی لکه چکر، خوراك، ښنکاك وغیره۔

لیکن دومره ده چه اوس داسے شیان پیدا شویدی چه خلق ئے الله رب العزت د عبادت نه منع کړیدی، د حج تولو ورځو کښے بازارونو کښے ګرځی او بهر ملکی ښیزونه ګوری او حرم ته هغه وخت راشی چه جمعه تیاره وی یا ولاړه وی او اکثر خلق په سرل اودریږی نور څه نشم وئیلے۔

**بعضے** خلق حج ته پدے نیت ځی چه فلانکے شے دلته ن خرڅیږی د سعودی نه به ئے راوړو هلته ارزان ملاویږی۔

بعضے خلق پدے نیت ځی چه بیا خلق ما په جرګو کښے کینو او اعتماد راباندے اوکړی، دارنګه نورے ارادے ئے هم وی چه شیط لوئی دشمن ئے د انسان په زړه کښے اچوی او انسان ته پته ن لګیږی نو هر مسلمان لره کوشش پکار دے چه دا عقیده اوسا



چه زه حج له ځکه ځم چه په ما فرض دے – او حدیث شریف کښے راځی چه په چا باندے حج فرض شی او دے په غیر د څه عذر نه اونکړی نو : مَاتَ يَهُوْدِيًا اَوْ نَصْرَانِيًّا۔

(اخرجه الترمذی باسناد ضعیف)۔

ومثله روی عن علی موقوفا۔ ارکان الاسلام (۲۸۵/۱)

**بله** دا چه د الله رب العزت خاص کور چه د برکتونو او رحمتونو نه ډك ځائے دے هغه زه اووینم او هلته عبادت اوکړم چه یو مونځ په کښې په یو لاکهـ دے۔

**بل** به دا نیت کوی چه هغه ځائے د هدایت دے چه زه د ځان سره هدایت راوړم او هدایت د الله تعالی په خزانو کښے بهترین شے دے دا وجه ده چه مونږ هر وخت وایو :

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ۔

اے الله ! مونږ ته سمه لار اوښایه۔ هدایت ته انسان په هره لحظه کښے محتاج دے۔ غرض دا چه انسان دے د حج کولو په وخت د دنیا ښیزونه مخے ته نه راوړی۔ بیا چه کله واپس راځی او د تحفے یا د هدیه په طور څه راوړی په هغه به دده اخلاص نه خرابیږی۔

**د اخلاص** سره یو بل اخلاص هم ضروری دے هغه دا چه انسان د الله تعالی په ذات او صفاتو او اسماؤ باندے پوره یقین اولری په هغے کښے تحریف اونکړی بلکه الله تعالی چه ځان دپاره کوم صفات بیان کړیدی یا ورلره رسول الله ﷺ بیان کړیدی په هغے کښے به تاویل، تحریف، تشبیه نه کوی او مخلوق لره به د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفات نه ورکوی چه مخلوق په هرڅه پوهیږی او یا په هر څه قادر دے یا د ورکولو اخستلو سره تعلق لری او دا یقین به هم انسان لری چه حاکم الله تعالی دے د هغه د قانون نه بغیر د بل چا قانون منل کفر دے، انګریزی، روسی، چینائی قوانین ټول د اسلام په ضد دی۔ نو مطلب دا دے چه انسان باندے دا درے قسمه توحید یادول ضروری او لازمی دی۔

۱ - اول: **توحید** اولوهیت۔ ۲ - دویم **توحید** ربوبیت۔

۳ - دریم **توحید** اسماء او صفات۔

دے سره د الله تعالی حاکمیت منل هم لازم دی لکه مخکښے مختصر ذکر کړے شو۔ دا مجملے خبرے ما اوکړے د بصیرت والاؤ دپاره دا کافی دی که د چا علم ته پوره نه وی پریوتی نو د کوم حق پرست عالم نه دے تحقیق اوکړی۔

**یو بل** عرض دا دے چه د حج نه مخکښے انسان دپاره د دینی کتابونو خاصکر د حج متعلق کتابونو متعلق مطالعه کول پکار دی چه اخلاص او ایمان او احکام زده کړی دا به ډیره ښه وی که دا نشی کولے نو د یو عالم سره دِے کینی چه د هغه نه د عباداتو او د حج متعلق مسائل او ترتیب زده کړی چه عبادت ئے کمال والا شی۔ هسے په پټو سترګو دِے عمل نه شروع کوی۔

OOOOOOO



## دریم بحث

## د مال حلالوالے

انسان چه حج ته ځی نو مال به لګوی دے خبره کښے ډیر زیات کوشش پکار دے چه د حاجی سړی مال څکه حلال پکار دے چه په حرام مال سره انسان الله تعالی ته نشی نزدے کیدے۔

حدیث کښے راځی: لَایَقْبَلُ اللّٰهُ اِلَّا الطَّیِّبَ ۔

[ اخرجه البخاری ومسلم ] ۔

مطلب دا چه الله تعالی پاك دے او د پاك او حلال مال نه بغیر نور مالونه نه قبلوی۔

**نو د سود** په مال حج کول یا دغش او دهوکے او یا په ظلم سره مال اخستل یا تول ناپ کښے نقصان کول پدے سره مال ګټل او بیا پرے حج کول دا هر مسلمان ته معلومه ده چه پدیسره حج نه قبلیږی او حدیثونه هم دے باب کښے ډیر راغلی دی۔

یو حدیث کښے راځی د مسلم شریف روایت دے چه یو انسان به پراګنده آلوده ویښتو والا (مسافر) وی او لاسونه به ئے اوچت کړی وی او د الله تعالی نه به دعا غواړی او حال به دا وی چه خوراك څکاك او لباس به ئے حرام وی نو دده دعا به څنګه قبوله شی۔ الحدیث۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کـه حاجی صاحب په بیت الله او یا په هغه ځایونو کښے دعا غـواړی چه هلته دعا ښه قبلیږی نو څنګه به ئے دعا قبوله شی چه مال ئے حرام وی او هغه ځایونه چه دعا پکښے ښه قبلیږی روستو بـه ذکر شی ان شاء الله تعالی۔ الله تعالی دے زمونږ د هرچا اصلاح اوکړی۔ [آمین]۔

OOOOOOOOO



# اول باب

## د عمرے، حج قران، حج

## افراد او حج تمتع بیان

عـمره کښے د علماؤ اختلاف دے چه آیا دا واجب ده او که سنت ده ؟۔ بعضے وائی چه واجب ده لکه امام شافعی او احمد – رحمهما الله – دا قـول کـوی او امـام ابـوحـنیـفـه او امام مالك رحمهما الله – وائـی چـه دا سـنـت ده او دا قـول شیـخ الاسلام ابن تیمیه ( فتاوی : ۵/۲۶) کښے غـوره کړیدے بیا عمره په ټول کال کښے کیږی لیکن پـه هغـه درے څلورو ورځـو د حـج کښ ئے کول نه دی پکار ځکه انسان د حـج نه کمزورے کیږی۔ کوم یو انسان چه د حج د میاشتو نـه مـخکښے په عمره لاړ شی نو دا به د عمرے پوره کولو نه روستو ځان حلال کړی۔

او کوم انسان چه د حج په میاشتو کښے لاړ شی نو ده لره دوه **طریقے دی : اوله** دا ده : که چرے د ځان سره ئے د خپل ملك یا د سعـودی د بـل ښار نه څاروے بوتلے وی نو دهٔ لره پکار دی چه د عـمرے نه روستو په احرام کښے پاتے شی تردے پورے چه حج په هم دغه احرام کښے اوکړی او دے ته حج قِران وائی۔ قِران معنی یو ځایٔ کـول دی نـو حـج قِران دیته وائی چه په یو احرام کښے حج او عمره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه اوکړې شي۔

**دويمه طريقه** : دا ده چه د عمرې نه پس به ځان حلال کړي او کله چه د حج ورځې راشي نو بيا به احرام اوتړي او د اختر په ورځ قربانی پدې دوه کسانو واجب ده۔ او دې ته حج تمتع وائی يعنې د حج په مياشتو کښې عمره کول او بيا ځان حلالول او بيا د حج دپاره احرام تړل او حج افراد ديته وائی : چه انسان د حج د مياشتو نه غير په رمضان يا په نورو مياشتو کښې عمره کړې وي او بيا صرف حج اوکړي او يا د پاکستان نه روان شي او د حج ورځو ته ورسيږي او عمره اونکړي او يا د حج په مياشتو کښې لاړ شي عمره اونکړي صرف طواف اوکړي نو ده لره پکار دي چه د حج پورې په احرام کښې اووسيږي ترڅو پورې چه ئې حج نه وي کړې احرام به نه لرې کوي او پدې حاجی باندې قربانی واجب نه ده۔ او د حج مياشتې درې دي : شوال، ذي القعده، ذي الحجه۔

**تبصره :**

دلته يو څو بدعات او غلط فهمیانې دي چه خلق ئې کوي :

۱ - اول دا چه خلق وائی : څوك چه رمضان يا شوال کښې عمرې ته لاړ لو او حج ئې نه وي کړې نو په ده حج فرض شو، دا غلطه خبره ده او د حديث نه مخالفه ده ځکه چه حديث کښې راځي رسول الله ﷺ څلور عمرې کړيدي او ټولې ئې د ذي القعده په مياشت کښې کړيدي او حال دا دې چه مخکښې درې عمرو کښې هغه حج نه دې کړې بيا ئې روستو حج کړيدې نو دا مسئله د



اميانو ( بې علمو ) ده۔

۲ - **دويمه** مسئله دا ده چه : خلق حج قِران کوی او احرام ئې د حج د ورځو پورې تړلې وي او حال دا دې چه ده دخپل ملك او يا د سعودي د بل ښار نه ځاروې د ځان سره نه وي راوستې او په حج قِران کښې دا شرط دې چه ځاروې به ئې د خپل ځان سره راوستې وي، لکه رسول الله ﷺ چه ځان سره ځاروې راوستې وو او حج قِران ئې اوکړلو او نورو صحابه کرامو ( سوی ديو څو کسانو نه ) د ځان سره ځاروی نه وو راوستې نو هغوی ته امر اوشو چه د عمرې نه پس ځان حلال کړي تردې پورې چه د حج ورځې راشي۔

۳ - **دريمه** مسئله : هغه دا چه کوم يو حج غوره دې ؟۔

دې کښې د علماؤ اختلاف دې ليکن صحيح خبره چه مونږ ته معلومه شويده هغه دا ده چه حج قِران غوره دې ليکن دا پکښې شرط دې چه ځاروې به د ځان سره د خپل ملك او يا د سعودي د يو بل ښار نه بوځي۔ دا د رسول الله ﷺ عمل دې او شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله پدې باندې نورلس (۱۹) دلائل راوړي دي۔

**او حج تمتع** د هغه چا دپاره بهتر دې چه د ځان سره ئې ځاروې نه وي بوتلې لکه صحابه کرامو د ځان سره ځاروي نه وو بوتلي نو رسول الله ﷺ ورته امر اوکړو چه حج تمتع اوکړئ نو بيا ئې ځان حلال کړلو نو اوس هم هغه چا لره حج تمتع بهتر دې چه د ځان سره ئې ځاروې نه وي بوتلې او د حج په مياشتو کښې حج ته لاړ شي او علامه ناصر الدين الالبانیؒ په [ كتاب حجة النبی ] کښې دا خبره ذکر کړيده او د حج

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمتع د وجوب قول ئے اختیار کړیدے او صحیح دا ده چه حج تمتع بهتر دے او واجب نهٔ دے او هغه په اصل کښې د شیخ الاسلام ابن تیمیه د فتاوی ج ۷۸/۲۶) او د علامه ابن حزم د [ المحلی ] نه نقل کړیدے او زیاته تشریح ئے ابن قیم کړیده۔

**٤- څلورمه غلط فهمی دا ده :**

چه اکثر خلق عمرو ته لګیدلی وی تنعیم ته ځی او هلته مسجد عائشه رضی الله عنها نه احرام تړی او عمرے کوی او حال دا دے چه ډیر طوافونه د ډیرو عمرونه غوره دی، عقلا هم او شرعا هم۔ هرچه عقلا دی هغه دا چه په یوه عمره باندے ډیر وخت لګیږی چه په هغے کښې انسان ډیر طوافونه کولے شی۔

او هر چه شرعا دی نو هغه دا دی چه د نبی ﷺ نه په یو سفر کښې ډیرے عمرے ندی ثابت۔ او همدارنګه صحابه کرامو رضی الله عنهم دا عمل ندے کړے کوم چه د مدینے طیبے نه راغلی وو او مکه مکرمه کښې اوسیدل یو هم دا قسم عمرے ندی کړی۔ صرف عائشه رضی الله عنها بیماره شوے وه نو د رسول الله نه ئے د عمرے مطالبه اوکړه چه زه به پس د حج نه عمره اوکړم ؟ نو رسول الله ﷺ هغے ته اجازه اوکړه او د خپل ورور سره ئے د تنعیم نه عمره اوکړه کوم چه مشهور دے په مسجد عائشهؓ باندے۔

او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ډیرو عمرو ته بدعت وئیلے دے او ډیر دلائل ئے پرے پیش کړیدی لیکن زه اوس هغه نشم راوړے۔ د شیخ الاسلام (فتاوی ج ۴۱۶/۲۶ - ٤٤ - ٤٥) اوګوره هلته ئے زیات



تفصیل بیان کړیدے۔

**بله خبره** دا ده چه آیا پدے عمرے سره انسان تمتع والا ګرځی او که نه ؟۔ یعنے چه یو انسان د رمضان په میاشت کښې په مکه مکرمه کښې مقیم شو بیائے د حج په میاشتو کښې د تنعیم نه عمره اوکړه نو آیا په ده باندے قربانی لازم ده او که نه ؟۔

دیکښې د علماؤ اختلاف دے بعضے وائی : چه دا سړے متمتع شو، قربانی وربانده لازمه ده او بعضے نور علماء وائی : چه دا انسان متمتع نه دے یعنی قربانی پرے نه ده لازمه۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه - رحمه الله - فرمائی :

وَقَدْ تَنَازَعَ السَّلَفُ فِیْ هٰذَا هَلْ یَکُوْنُ مُتَمَتِّعًا عَلَیْهِ دَمٌ اَمْ لَا ؟ وَهَلْ تُجْزِئُهُ هٰذِهِ الْعُمْرَةُ عَنْ عُمْرَةِ الْاِسْلَامِ اَمْ لَا ؟

او شامی لیکلی دی :

ثُمَّ لَوْ اَحْرَمَ بِاُخْرٰی بَعْدَ دُخُوْلِ اَشْهُرِ الْحَجِّ وَحَجَّ مِنْ عَامِهٖ لَمْ یَکُنْ مُتَمَتِّعًا فِیْ قَوْلِ الْکُلِّ لِاَنَّهٗ صَارَ فِیْ حُکْمِ الْمَکِّیِّ بِدَلِیْلِ اَنَّ مِیْقَاتَهٗ مِیْقَاتُهُمْ۔ [ شامی ۱۹۵/۲]۔

**ترجمه** : که سړی رمضان کښې عمره اوکړه او بیائے د حج په میاشتو کښې د مکے نه عمره اوکړه نو دا تمتع والا نه دے د ټولو احنافو علماؤ په نزد باندے ځکه دا سړے د مکے والاؤ په حکم کښې دے دلیل پرے دا دے چه دده میقات او د مکے والاؤ میقات یو دے او حال دا دے چه په مکے والاؤ باندے تمتع نشته نو په ده باندے هم تمتع نشته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم باب

## د عمرې تفصيلي بيان

هر انسان چه دعمرې اراده اوکړي نو :

١ - اول به غسل کوي او دا غسل مستحب دے او غسلونه درے ثابت دي، ١ - يو د احرام تړلو دپاره.

٢ - دويم غسل د دخول مکه دپاره.

٣ - دريم : غسل د ورځې د عرفې دپاره. او دا په حسن حديث کښ راغلے دے.

اوګوره فتح البارى (١/٤٥) - نصب الرايه (٨٥) حجة النبى (١٢٣) فتاوى الدين الخالص (١٠).

بيا احرام سپين پکار دے او دا ښه دے ځکه حديث کښې راځي چه سپينې جامې په ژوند کښې اغوندئ او مړو ته هم کفن سپين ورکوئ (مشکاة کتاب الجنائز).

او که بل رنګ وو نو هم جائز دے، ديکښې د نبي ﷺ نه منع نه ده نقل. (فتاوى ابن تيميه - ١٠٩).

بله خبره دا ده چه احرام د ميقات نه تړل سنت دي البته که يو انسان د ميقات نه مخکښې د احرام جامه واچوي نو دا جائز ده نبي عليه السلام د ميقات نه مخکښ جامه د احرام اچولے ده خو د



احرام تړل يعنې تلبيه او نيت کول به د ميقات نه وي ددے نه مخکښې احرام تړل سنت ندي. بلکه امام مالك - رحمه الله - ورته بدعت وئيلی دی.

(مناسك الحج والعمرة ص١٣).

مګر کله چه سخت ضرورت راپيښ شي مثلا چه جهاز کښې ځي نو هغه ته کله د ميقات پته نه لګي نو پدے وجه که هغه په ائر پورټ کښې احرام اوتړلو نو دا به ان شاء الله جائز وي ځکه چه ضرورت دے.

❁❁❁❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ميقاتونو بيان

## ميقاتونه پنځه دي

١- **ذو الحليفه** : (أبيار علی) د مدينے والاؤ دپاره او هر څوا
چه په دغه طرف راتيريږي دا د مکے نه په (٤٥١) کلوميټ
مسافت باندے دے دا د ټولو نه لرے ميقات دے۔

٢- **جُحفه** : د شام والاؤ دپاره چه د مکے نه شمال مغربی طرف
د (١٨٧) کلوميټر په فاصله پروت دے او د رابغ سره نزدے دے۔

٣- **قرن المنازل** : (سيل) د نجد والاؤ دپاره دے چه د مک
نه مشرق ته د عرفات په طرف د (٩٤) کلوميټر په فاصله دے۔

٤- **يَلَمْلَم** : د يمن والاؤ دپاره چه د مکے نه جنوب ته ديرش
ميله يا (٥٤) کلوميټر فاصله لري۔

٥- **ذات عِرق** : د عراق والاؤ دپاره دے د مکے شمال مشرقی
طرف ته د (٩٤) کلوميټر په فاصله دے۔

دا ميقاتونه د هر هغه چا دپاره هم دی چه په دے ورتيريږي او ي
ددے په محاذات (برابرئ) ورتيريږي او څوک چه د ميقات نه دننه
اوسيږي نو هغه به د خپل کلي نه احرام تړي ليکن هوائی جهاز
والا له په هوائی اډه (ائرپورټ) کښے احرام تړل پکار دی او بحری
جهاز والا پاکستانی به د يلملم نه احرام تړي۔



**د احرام** نه پس که د فرض مونځ وخت وی نو اودے کړی نفل
وغيره دے نه کوی او که د فرض مونځ وقت نه وی نو بيا که دوه
رکعاته مونځ د تحية الوضوء په طور کوی نو اجازت شته او دا
خبره مو ځکه اوکړه چه د احرام دپاره مونځ د محمد ﷺ نه ثابت
نه دے او دا صحيح قول دے لکه شيخ الاسلام فرمائی :

وَإِلَّا فَلَيْسَ لِلْإِحْرَامِ صَلَاةٌ تَخُصُّهُ۔

يعنی : د احرام دپاره څه خاص مونځ نشته ۔

او همدارنګه ځان دے صفا کړی بريت، عانه (زيرناف ويښته) او
تخرګ وغيره اګرکه دا خبرے هم د احرام سره ضروری نه دی ليکن
صفائی ښه شے دے، بيا به يوځل تلبيه اووائی دا احرام تړلو سره
تلبيه وئيل ضروری دی لکه دا عمل د رسول الله ﷺ وو۔

**د تلبيه الفاظ** دا دی :

لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ
لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ۔

ددے سره دا الفاظ که څوک ملګری کړی نو بهتره ده ځکه دا هم
د رسول الله ﷺ نه نقل دی :

لَبَّيْكَ اِلٰهَ الْحَقِّ، لَبَّيْكَ ذَا الْمَعَارِجِ لَبَّيْكَ ذَا الْفَوَاضِلِ، لَبَّيْكَ
وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ وَالرَّغْبَاءُ اِلَيْكَ وَالْعَمَلُ۔

(متفق عليه)

باقی الفاظ په مرعاة شرح المشکاة او الدين الخالص کښ
اُوګورئ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ئے چه څومره خوښه وی په اوچت آواز سره دے وائی ځکه الله تعالی ته هغه حج زیات خوښ وی کوم کښے چه تلبیه ډیره اوویلے شی او وینه پکښے توئی شی یعنی قربانی پکښے اوکړے شی (مشکاة)۔

نو تلبیه ډیره وئیل افضل دی د تلبیه سره به کله کله نبی علیه السلام – لاَ اِلٰهَ اِلَّا الله — هم ملګرے کوله یعنی کله تلبیه او کله کلمه۔ رواه احمد (۱/۴۱۷)۔

دارنګه چه د احرام تړلو په وخت کښے ورسره داسے اووائی :

لَبَّيْكَ حَجَّةً (صرف حج کونکی به دا وائی)

یا لَبَّيْكَ حَجَّةً وَعُمْرَةً (د حج قِران کونکے به دا وائی) ۔

یا لَبَّيْكَ عُمْرَةً (صرف عمره کونکے به دا وائی) نو دا سنت طریقه ده۔ (بخاری)

د احرام تړلو وقت کښے قبلے ته متوجه کیدل او په ولاړه تلبیه وئیل پکار دی (بیهقی) او داسے دعاء وئیل هم بهتر دی :

اَللّٰهُمَّ حَجَّةً لاَ رِيَاءَ فِيهَا وَلاَ سُمْعَةَ.

(الضیاء فی المختارة – او ترتیب البغیة باحادیث الحلیة ۲/ ۴۳ رقم ۱۰۸۴) ۔

ترجمه : اے الله دا حج داسے حج اوګرځوے چه ریاء او اورول پکښے نه وی۔

بیا ئے که داسے اووئیل :

اَللّٰهُمَّ اِنِّى اُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهُمَا لِى

دا دعا د نبی علیه السلام نه اګرکه نده ثابته لیکن هسے یو دعا



ده که چا اووئیله نو د عامو دعاګانو پشان حکم لری جائز ده خو دلته یو قانون واوره ! هغه دا چه مبنی د حج په اعمالو ده په اقوالو نه ده یعنی په حج کښے ارکان زیات ضروری دی له دعاګانو او ذکرونو نه۔

**د حج یا د عمرے** دپاره څه خاص نیت په عربئ یا په پښتو یا په بله ژبه کښے نشته بلکه د ټولو عبادتونو لپاره که مونځ وی، که روژه وی که حج وی که زکات وی تلفظ په نیت سره پکښے بدعت دے اوګوره (مرقات ۱/۱۷) فتاوی شیخ الاسلام ۲۶/۱۰۵) ۔

وَالصَّوَابُ الْمَقْطُوْعُ بِهٖ اَنَّهٗ لَا يُسْتَحَبُّ شَيْئٌ مِنْ ذٰلِكَ۔

صحیح خبره دا ده چه په نیت باندے تلفظ کول په هره طریقه چه وی ندے مستحب۔

**بیا که عمرے** والا وی او که حج والا وی اشتراط دے اوکړی دا طریقه په حدیث کښے راغلی چه ضباعه بنت الزبیر ته نبی علیه السلام فرمائیلی وو چه داسے شرط اولګوه چه اے الله ! زه خو حج کوم لیکن که تا مریضه کړم یا ډِے په بل سبب زه د حج نه پاتے کړم نو زه به دغه ځائے کښے ځان حلالوم۔ نو فائده به داشی چه هدیه، قربانی به په شرط والا باندے نه وی کله که چرته بند شی په څه عذر (ترمذی وغیره کښے دا حدیث راغلی او بخاری او مسلم کښے هم راغلے دے او صحیح دے اګرکه بعضے علماء ترے خلاف کوی لیکن زمونږ حجت او دلیل قول د محمد صلی الله علیه وسلم دے د علماؤ خبرے چه د قرآن او حدیث نه مخالفے وی نو زمونږ دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیل نه دے او دا حدیث ددے صحابی پورے خاص هم نه دے۔

۔بیا که د ذو الحلیفه نه (کوم چه د مدینے والو میقات دے) احرام تړی نو په ذو الحلیفه کښے مونځ کول - که فرض وی او که نفل- غوره دی۔ بخاری کښے راځی :

اَتَانِیُ آتٍ مِنُ رَبِّیُ فَقَالَ صَلِّ فِیُ هٰذَا الُوَادِیُ الُمُبَارَكِ وَقُلُ عُمُرَةٌ وَحَجَّةٌ.

(ما ته جبرئیل راغلو چه پدے پاك میدان کښے مونځ اوکړه)

لیکن دا د احرام مونځ ندے بلکه ددے مکان سره تعلق لری۔

ooooooooo



## د محرم دپاره څه

## کارونه جائز او څه منع دی

۱- اوله مسئله : دا حرام نه مخکښے په بدن باندے تیل یا عطر لګول جواز لری نبی علیه السلام به دا کار کولو او بیا به دغه خوشبوئی د احرام حالت کښے باقی وه په سر کښے (بخاری) او په جامه باندے خوشبوئی مخکښے د احرام نه یا روسته د احرام تړلو نه جائز نه ده کچا کړے وی سمدس دے اوباسی او دے وینځی۔

[بخاری]۔

۲- جماع او اسباب د جماع به هم نکوی ځکه حج، عمره بل شے نه فاسده وی سوا د جماع نه لکه شیخ الاسلام فرمائی :

وَلَیُسَ فِی الُمَحُظُوُرَاتِ مَا یُفُسِدُ الُحَجَّ اِلَّا جِنُسُ الرَّفَثِ۔

او په نورو شیانو لکه لباس وغیره باندے انسان ګناهګاریږی سوا د جماع نه او حج پرے نه فاسدیږی په اتفاق د علماؤ سره یعنے په لباس وغیره باندے حج نه فاسدیږی صرف سړے پرے ګناهګاریږی۔ [فتاوی شیخ الاسلام ۲۶/۱۰۸]۔

۳- محرم سړے به موزے، بوټان، پرتوګ، قمیص، ټوپۍ، او پټکے او هره ګنډلے جامه به نه اغوندی هاؤ ! که چپلے نه وی نو موزه بوټهان اچولے شی بیا که پړکی (ګیټۍ) پکښے پټے شوے نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم جواز لري على القول الراجح ځکه د بخاري روايت کښې اجازت ورکړې شويدې او ( وَلْيَقْطَعْهُمَا اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ ) والا حديث منسوخ دې، د نسخ دليل شته تفصيل غواړي او دا د بعض علماؤ قول دې او جمهور علماء قطع (پريکولو) ته ترجيح ورکوي. او دا ځائې د تفصيل ندې.

٤- څلورم د بد نظرئ نه ډې ځان ساتي ځکه چه اوس دا ظلم ډير زيات شويدې، په طياره (جهاز) کښې او په مطار ( ائرپورټ) او په ټولو ځايونو کښې. والى الله المشتکى من هذه البلية.

٥- پنځم د جګړې نه ډې ځان ساتي خصوصا خپلو کارونو کښې او د دنيا په شيانو کښې او هر چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر دې نو په هغې کښې بحث کول کله مستحب وي او کله به واجب اوګوره [ المنسك لابن تيميه ص۱۰۷].

ليکن حاجيان صاحبان اکثر جګړې کوي ځکه چه شيطان ورباندې کوشش کوي چه حج ورله خراب کړي.

او قرآن کريم کښې فرمائي :

﴿ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ﴾

ترجمه : پس په چا باندې چه حج فرض شي په شروع کولو سره نو بيا دې جماع او د هغې متعلق خبرې نه کوي او جګړې او نافرماني ډې نه کوي. دا مفهوم د آيت دې.

٦- شپږم : خرابې بې ضرورته خبرې ډې نه کوي. شريح قاضي تابعي رحمه الله به چه کله احرام اوتړلو نو داسې به وو (كَالْحَيَّةِ



الصَّمَّاءِ ) لکه د مار په شان چپ چاپ. او دې کښې ډيرې فائدې دي چه هغه زه اوس نشم ذکر کولې.

۷- اوم : داچه ښکار به نه کوي.

۸- اتم : سر به نهٔ پټوي نه په احرام او نه په بله جامه کښې لږ ساعت دپاره که خطا سره ئې پټ کړو نو قرباني پرې واجبه نه ده آؤ که قصداً ئې دا کار اُوکړو نو بيا ګنهګار دې او د بعض علماؤ په نيز په دهٔ باندې دم لازم دې. د دم د لازميدو تفصيل روستو راروان دې.

۹- نهم : نوکونه به نه پرې کوي.

۱۰- لسم : ويخته به قصدا نه خروي او نه به ئې شوکوي.

۱۱- يولسم : څه به قتلوي هم نه صرف ضرري شيان وژلې شي لکه لړم، مار، مږه، کارغه، سپې، او د سپږې اووروې به وژلو سره هيڅ شې نشته دې.

**د شريعت** مطهره اصول دا دي چه د بندګانو سره آساني اوکړې شي هرڅه کښې خصوصا په باب د احکامو کښې چه د ځان نه څه غير ضروري شيان ضروري نکړي يا مباح شيان حرام نه کړي لکه د مثال په طور باندې :

۱۲- د احرام په حالت کښې غسل کول جائز دي لکه بعض خلق دا بد ګنړي. (بخاري باب الغسل)

۱۳- په حالت د احرام کښې د سر مږل په غسل کښې جائز دي بعضې خلق ئې غلط ګنړي.

۱٤- د سر ګرول جائز دي اګر که يو ويښته يا دوه ويښته يا زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترے پرېوځي لیکن بعضے خلق وائی فدیه ورکول ضروری دی۔ بلا دلیل - په دے باره کښے حدیث د ابو ایوب انصاریؓ په بخاری کښے شته )

۱۵ - وینه ویستل حجامت کول یعنی د سر نه وینه ویستل جائز دی اګر که لږ شان ویخته لرے کړے شی نو دا کار جائز دے نبی علیه السلام کړیدے رواه البخاری ( اِحْتَجَمَ فِیْ رَأْسِهٖ )۔

کوم علماء چه وائی پدے صورت کښے فدیه ورکول لازم دی د هغوی قول بے دلیله دے، ځکه رسول الله ﷺ دا کار اوکړو او فدیه ئے ورنکړه۔ من ادعی فعلیه البیان۔

۱۶ - د کشمالی یا خوشبویه شی بوئی کول روا دی او لږول د عطرو نو جائز ندی، دارنګه مات نوك غورزول روا دی لیکن بعض خلق ئے جائز نه ګڼړی بلا دلیل۔

۱۷ - په چهتریٔ یا کانړی یا د خیمے لاندے کیناستل روا دی بعضے خلق د ګاړی نه سر لرے کړی او چهتریٔ یا خیمه بده ګڼړی محرم دپاره، نو دا غلط دی ځکه رسول الله ﷺ په حالت د احرام کښے د جامے د لاندے او د خیمے د لاندے ناست دے۔

۱۸ - د کمر بند تړل یا همیانیٔ تړل یا لنګ تړل عند الضرورت روا دی۔ او که ضرورت نه وی نو تړل ئے ندی پکار، لیکن بعضے خلق دے مسائلو کښے تشدد کوی۔ او جائز ئے نه ګڼړی بلا دلیله۔ دارنګه چشمے، ګوته، ګینته اچول روا دی۔

۱۹ - دارنګه د یخنیٔ په وقت کښے بعضے خلق خپے په څادر پټے



کړی ان شاء الله دا جائز دی صرف بوټان، موزه اچول او جرابے اچول احرام کښے تیك ندی لیکن بعضے خلق د ناپوهیٔ په وجه مطلق خپے پټول ناروا ګڼړی او تشدد دین کښے پیدا کوی۔

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه هغوی د یخنیٔ په موسم کښې خپل بدن پټ کړے وو۔ (تُلْقِیْ عَلَیَّ بُرْنُسًا) (بخاری)

## په احرام کښې او د احرام نه
## مخکښې بدعات او غلطیانے

۱ - بعضے خلق د صفر میاشت کښے سفر نه کوی د مخلوق نه یریږی دا خبره بے بنیاده ده۔

۲ - بعضے خلق وائی چه د مسافر نه روستو کور مه جارو کویٔ دا غلطه خبره ده۔ [ مدخل ۲/۶۷ ]۔

۳ - دوه رکعاته مونځ کول چه اول رکعت کښے به : قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ- وائی او دویم کښے به قُلْ یَا اَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ- وائی او کله چه فارغ شی نو داسے به وائی: اَللّٰهُمَّ بِكَ انْتَشَرْتُ وَاِلَیْكَ تَوَجَّهْتُ او آیة الکرسی به وائی۔ دا ټول بدعات دی خلافِ سنت طریقے دی او دا بدعات امام غزالیؒ په خپل کتاب [ احیاء العلوم ] کښے لیکلی دی او دے مونځ او دعا باره کښے چه کوم حدیثونه راغلی دی هغه ضعیف بلکه منکر دی اوګوره [سلسله الاحادیث الضعیفه ص ۳۷۲-

حجة النبی ص ۱۰۶] للالبانی۔

٤- بعضے خلق کله چه په سفر ځی د سورت بقرے آخری آیتونه وائی یا اِنَّا اَنْزَلْنَاهُ- وائی یا آیت الکرسی وائی یا سورت فاتحه وائی په دے گمان چه پدے سره د دنیا او آخرت حاجتونه پوره کیږی داخبرے غلطے دی۔

٥- سفر یواځے کول پدے نیت چه زه د الله تعالی سره محبت لرم یا متوکل یم داخبره غلطه ده۔

٦- ډیر لوئی بدعت او حرام کار دا دے چه کله حج ته ښځه ځی نو پردی سړی سره په غیر شرعی طریقه سره نکاح اوتړی او یا همدغه شان ورسره ځی۔ دا دواړه کارونه حرام دی۔

[ السنن والمبتدعات ص ۱۰۹]۔

٧- احرام مخکښے د میقات نه تړل بے ضرورته دا ناروا ده۔ پوره تشریح په حجة النبی (۱۱۱) کښے اوگوره او د امام مالکؒ قول مونږ مخکښے ذکر کړلو۔

٨- اضطباع په وقت د احرام کښے یعنے وُلے (اوګه) ښکاره کول ځکه دا په طواف کښے سنت دی، مخکښے له طواف نه او پس د طواف نه ئے کول بدعت دے۔

[ شامی ۲/۲۱۵- فتح القدیر ٤/۱۵۰- تلبیس ابلیس ۱۵٤]۔

٩- نیت کول په خوله باندے چه نیت مے کړے د زړه د اخلاص د حج تر آخره - دا بدعت دے۔

۱۰- په یو آواز سره د ډیرو خلقو تلبیه وئیل ندی مشروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوګوره [ مدخل ۲/۲۲۱]۔

۱۱- بعضے وائی چه په وینه وتلو سره قربانی لازمیږی دا غلطه خبره ده ځکه په حدیث کښے راځی چه رسول الله ﷺ په احرام کښے په سر مبارك باندے ښکر لګولے وو۔ (بخاری)۔

۱۲- غسل کول په احرام کښے جائز دی کوم ویخته چه په غسل کښے پریوځی له سر نه یا د ګیرے نه نو هیڅ ګناه پکښے نشته یا په ګرولو د بدن سره څه ویخته پریوځی نو هیڅ باك پکښے نشته دے- [المنسك لابن تیمیة فی الفتاوی -۱۱٦]۔

۱۳- تلبیه صرف اول کرت وئیل او بیا نه وئیل دا هم خلاف سنت دی نن صبا خلق تلبیه وئیلو باندے شرمیږی او حال دا چه د تلبیه د فضیلت نه خبر نه وی چه نبی علیه السلام فرمائی: نشته یو تلبیه ویونکے چه تلبیه وائی مګر دده خی او ګس طرف ته چه څه کانړی او ونے او لوټے دی هغه (هم) دده سره تلبیه وائی تردے چه دخی او ګس طرف نه زمکه ختمه شی- رواه الترمذی وابن ماجه وابن خزیمه باسناد حسن- نو تلبیه د حج شعار دے او سنت دا ده چه دا ډیره اووئیلے شی کله چه د انسان حالت بدلیږی مثلا جهاز ته د ختلو په وخت یا په جهاز کښے بیا د کوزیدو په وخت دغه شان په توله لاره باندے تر طواف پورے۔

**کله چه د مکے مکرمے** کورونه محرم سړے اووینی تلبیه دِے بنده کړی (لږ ساعت دپاره) ځکه نور کارونه شروع کیږی چه هغے ته متوجه شی (او فکر ورته برابر کړی)- (بخاری مجمع الزوائد

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣/٢٢٥) او ددې نه روستو تلبیه وئیلې شي تر طواف کښې داخلیدلو پورې.

**مکې** ته د ورځې داخلیدل افضل دي لیکن د شپې جائز دي. (بخاري، ابوداود).

**مکې** ته نبي علیه السلام د باب المعلات د طرف نه راغلې وو او مسجد ته د باب بني شیبه نه داخل شوې وو لیکن د هرې دروازې نه داخلیدل جائز دي. قال علیه السلام:

مَكَّةُ كُلُّهَا طَرِيْقٌ يَدْخُلُ مِنْ هٰهُنَا وَيَخْرُجُ مِنْ هٰهُنَا

رواه الفاکهي باسناد حسن.

خو افضل دا ده چه د باب بني شیبه نه داخل شي (کوم چه د صفا مروه مینځ کښې راځي د باب السلام په خوا کښې).

**بیا د مسجد** چه کوم اذکار او آداب دي د هغې لحاظ دې اوکړې شي او داخل دې شي، کله چه کعبه اووینی نو که (د دعا دپاره) لاس اوچتوی نو د ابن عباسؓ نه نقل شته چه هغه به دلته لاسونه اوچتول. رواه ابن ابی شیبهؒ او مرفوعا هم نقل دي لیکن باسناد ضعیف (الضعیفة– ١٠٥٤).

بیا هره یوه دعا دلته کولې شي څه خاص معین ذکر لازم ندې او عمر بن الخطابؓ به دا دعا وئیله:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ فَحَيِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ.

رواه البیهقي (٧٢/٥) ابن ابی شیبه (٩٧/٤)

کله چه به ئې په بیت الله نظر اولګیدلو نو داسې به ئې فرمائیل:



اَللّٰهُمَّ زِدْ هٰذَا الْبَيْتَ تَشْرِيْفًا وَتَعْظِيْمًا وَتَكْرِيْمًا وَمَهَابَةً وَبِرًّا وَزِدْ مَنْ شَرَّفَهُ وَكَرَّمَهُ مِمَّنْ حَجَّهُ اَوِ اعْتَمَرَهُ تَشْرِيْفًا وَتَعْظِيْمًا.

(فتاوی ابن جریر ص ١٢٠) ددې په سند کښې کلام دې لیکن دا یوه عامه دعاء ده لوستل ئې جائز دي.

لیکن په حدیث کښې راغلي دي چه د جابر رضی الله عنه نه تپوس اوشو چه سړې بیت الله اووینی نو لاس به اوچتوی؟ نو هغه اوفرمائیل: چه مونږ د رسول الله ﷺ سره حج کړې دې مونږ دا کار نه دې کړې یعني لاسونه مو نه دي اوچت کړي.

[ترمذی، مشکاه ٢٢٧/١].

نو که انسان اونکړلو نو جائز دي او ددې حدیث په سند کښې کلام هم دې.

بیا مسجد ته چه کله داخلیږي نو:

بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ – اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ.

به اووائی، په اطمینان سره دې حجر اسود ته ځان اورسوی او تحیة المسجد به (پدې وخت کښې) نه کوی ځکه د مسجد حرام تحیه طواف دې. [المنسک ص ١٢٠].

OOOOOOOO

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طواف او د هغې متعلقات

طواف د کعبې نه ګرزېدلو ته وائي، طواف بيت الله پورې خاص دې د بل ځائے نه طواف د مشرکانو کار دے طواف د حجر اسود نه شروع کيږي او په حجر اسود ختميږي که د انسان وسع کيږي نو حجر اسود دې چپ کړي او که ژړا ورځي نو دغه ځائے د ژړا دے او که دا نه وي نو لاس دې وروړي او لاس دے چپ کړي او که دا طاقت ئے هم نه وي نو اشاره دې ورته اوکړي په لاس باندې او لاس دې نه چپوي او که لرګے چوکه وغيره وروړي نو د هغې خکلول سنت دي او کله چه حجر اسود ښکلوي يا اشاره ورته کوي نو بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَرُ دې وائي فقط يا صرف الله اكبر ـ بيا دې د کعبې شريفې نه ګرد وګرځي د حطيم نه شاته ځکه حطيم جزء د کعبې دے (نو بيا طواف په مينځ د کعبه کښې راځي او حال دا چه طواف به د کعبې نه بهر کولے شي) او کله چه رکن يماني ته راورسيدلو نو هغې باندې به صرف لاس راکاږي او لاس به نه چپوي او که دا وسع ئے اونه شي نو رکن يماني ته اشاره نشته بيا چه حجر اسود ته را ورسيږي نو بيا دې شروع شي په مخکښې طريقې سره ـ تردې چه اووه (۷) ګردشه اوکړي نو دا يو طواف پوره شو ـ

**تنبيه** : د حجر اسود د خکلو يا اشاره کولو په وخت کښې د نبي عليه السلام نه صرف اَللهُ اَكْبَرُ نقل دے لکه بخاري



(۴۷۵/۳) کښې د ابن عباس په حديث کښې راغلي دي ـ او بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر وئيل د نبي عليه السلام نه مرفوعا ندي نقل ـ البته د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه په صحيح سند سره نقل دي چه هغه به بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر وئيل ـ بيهقي (۷۹/۵) ـ

نو ددې وجه نه بعض علماؤ ليکلي دي چه په ابتداء کښې دې بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَكْبَر وائي او باقي ګردشونو کښې دې صرف اَللهُ اَكْبَر وائي ـ نو په دواړو به عمل اوشي ـ او که څوك په ټول طواف کښې صرف اَللهُ اَكْبَر باندې اکتفاء کوي نو دا هم سنت ده ـ وکذا قاله الالباني في تعليق حجة النبي ﷺ ـ

د رکن يماني او حجر اسود مينځ کښې دې دا دعا وائي :

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

(ابوداؤد رقم ۱۶۵۳ – احمد ۴۱۱/۳ وسنده صحيح)

**او طواف** چه شروع کوي نو اضطباع دې اوکړي يعني ښئ اوګه دې ښکاره کړي (په ټول طواف کښې) دا سنت دي ـ همدارنګه رمل يعني پهلواني کول (پهلواني ديته وائي، چه اوچت اوچت تنګ ګامونو اخستو سره اوګے اوخوزوي لکه ورزش والائے چه ځنګه کوي) صرف په اول دريو ګردشونو کښې که د انسان طاقت وي نو سنت طريقه ده بله دا چه په طواف کښې د ضرورت خبرې جائز دي ليکن غلطې خبرې يا کنځل يا بد اخلاقي کول حرام دي ـ

**د طواف** په وخت کښې هر ذکر جائز دے او ډيرې خبرې ندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکار کله چه دنیاوی وی۔

رسول الله ﷺ فرمائی : فَاَقِلُّوا فِيهِ الْكَلَامَ. رواه الترمذی۔

(یعنے طواف د مانځه پشان دے په دے کښے (دنیاوی) خبرے کمے کړئ)۔

**حجر اسود** ښکلول او په هغے سجده کیخودل د نبی علیه السلام او عمر فاروق او ابن عباس رضی الله عنهم نه ثابت دی۔

حجر اسود ته اشاره په یو لاس کافی ده او استقبال قبلے ته افضل دے تَعْظِيْمًا ځکه نبی علیه السلام به ورته دومره متوجه کیدلو چه سجده به ئے پرے کوله۔

**فائده ۱ :** حجر اسود مخے ته په زمکه توره نیغه پټه راخکلے شویده۔ دے پټے (کرخے) نه ډیے اشاره مخکښے نه کوی بلکه کله چه په دغه کرخه باندے خپه کیدی نو اشاره ډیے اوکړی۔

**فائده ۲ :** د سعودی علماؤ په خپلو کتابونو کښے دا خبره لیکلے ده چه د یو انسان د حجر اسود خکلولو اراده وی نو ددے خبرے لحاظ ډیے ساتی چه د کعبے شریفے موړه (کومے ته چه د کعبے شریفے غلاف تړلے شی) باندے بره او نه خیژی (لکه چه عوام خلق دا کار کوی) ځکه چه دا موړه د کعبے نه جزء دے د هغے نه حساب ده نو که فرض طواف کښ وی نو هغه به ئے خراب شی دغه موړے ته عربئ کښے شاذَرْوَان وائی۔

(التاج والاکلیل ۳/ ۷۰)۔



## د طواف او حجر اسود

## خکلولو او رکن یمانی مسه کولو فضیلت

۱- نبی ﷺ فرمائی :

لَيَبْعَثَنَّ اللهُ الْحَجَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ، وَيَشْهَدُ عَلَى مَنْ اِسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ۔

اخرجه الامام احمد وحسّنه الترمذی۔

**ترجمه :** خامخا الله تعالی به د قیامت په ورځ حجر اسود راپورته کړی او د هغه دپاره به سترگے وی چه لیدل به کوی او ژبه به وی چه خبرے به پرے کوی او په هغه چا به گواهی کوی چه په حق (توحید) سره ئے خکل کړے وی۔

۲- دارنگه فرمائی : مَسْحُ الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ وَالرُّكْنِ الْيَمَانِيِّ يَحُطَّانِ الْخَطَايَا حَطًّا. حسّنه الترمذی وصححه ابن حبان۔

**ترجمه :** په حجر اسود او رکن یمانی باندے لاس راخکل ضرور گناهونه ختموی۔

۳- نبی علیه السلام فرمائی : چا چه ددے کوټے نه اووه گردشه اوکړل (یو طواف) دا داسے ده لکه یو غلام آزادول – او دا انسان چه یو قدم اړدی او بل اوچتوی نو یو گناه ئے ختمیږی او یو نیکئ ورته لیکلے کیږی۔ رواه الترمذی وقال حدیث حسن۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په طواف کښې بدعات او ناروا کارونه

۱– اول : په حجر اسود باندے زنانو سره ملاویدل او ځان نه بچ کول حال دا دے چه حجر اسود ښکلول سنت دی او د پردو زنانو نه ځان ساتل فرض دی نو څوک چه د سنت دپاره فرض پریږدی د هغه حکم هر سړی ته معلوم دے۔

۲– په حجر اسود ښکلولو باندے خلقو ته تکلیف ورکول ندی جائز۔ قال علیه السلام :

يَا عُمَرُ إِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ فَلَا تُؤْذِي الضَّعِيفَ وَإِذَا أَرَدْتَ إِسْتِلَامَ الْحَجَرِ فَإِنْ خَلَا لَكَ فَاسْتَلِمْهُ وَإِلَّا فَاسْتَقْبِلْهُ وَكَبِّرْ۔ رواه احمد والشافعي وغيرهما۔

یعنے نبی علیه السلام عمرفاروق رض ته وئیلی وو چه که گنړه نه وه نو حجر اسود ښکلوه او که گنړه وه نو صرف ورته مخامخ لاس اوچت کړه او اَللّٰهُ اَکْبَرُ وایه هسے نه چه ضعیفانو ته تکلیف ورنکړے۔

دا منع په هغه وخت کښے ده چه تیل د حد نه ډیر وی او مخلوق ته تکلیف اورسیږی او کله چه هغوی هم تکړه خلق وی او تکلیف ورته نه رسیږی نو بیا لږ لږ تیل (مزاحمت) جائز دے،

دلیل پدے باندے دا دے : عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه د حجر اسود د ښکلولو فضیلت چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے نو زه حجر اسود نه په گنړه کښے او نه پغیر د گنړے نه



پریږدم نو که چا د صحابی د عمل تابعداری اوکړه نو ښه کار دے۔

۳– دریم : غسل کول د طواف دپاره بدعت دے۔

۴– څلورم : بعضے خلق چه طواف کوی نو جورابے په خپو کوی دے دپاره چه د کونترو په گندگۍ باندے ئے خپے گنده نشی دا بدعت دے ځکه کونترے د رسول الله ﷺ د زمانے نه تر اوسه پورے شته او محمد ﷺ دا کار نه دے کړے او نه ئے پرے خپل امت ته امر کړیدے۔ اوگوره فتاوی ص (۱۲۶)۔

۵– پنځم : بدعت دا دے چه کله حجر اسود ته اشاره کوی نو لاس ښکلوی او حال دا دے چه په دے صورت کښے لاس ښکلول نشته۔

۶– شپږم : بدعت د طواف دپاره په خوله باندے نیت تړل چه نیت مے کړے د طواف د اووه گردشونو ...... [زاد المعاد ج۱/ ۴۵۵] کښے ابن قیم لیکلی دی : چه دا په خوله باندے وئیل بدعت دے۔

۷– اووم بدعت دا دے : چه په طواف کښے بعضے خلق خاص ذکرونه کوی او بعضے خلقو سره کتابچے وی او هغه وائی۔ دا ښه کار نه دے بلکه هر ذکرئے چه خوښ شی هغه ډے کوی، دیکښے محمد ﷺ څه خاص ذکرونه ندی متعین کړی۔ اوگوره [المنسك : ۱۲۲] هغے کښے وائی :

وَيُسْتَحَبُّ لَهُ فِي الطَّوَافِ اَنْ يَذْكُرَ اللّٰهَ وَيَدْعُوْهُ بِمَا شَرَعَ وَاِنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ سِرًّا فَلَا بَأْسَ بِهِ وَلَيْسَ فِيْهِ ذِكْرٌ مَحْدُوْدٌ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ لَا بِاَمْرِهٖ وَلَا بِقَوْلِهٖ وَلَا بِتَعْلِيْمِهٖ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَدْعُوْا فِيْهِ بِسَائِرِ الْاَدْعِيَةِ الشَّرْعِيَّةِ وَمَا يَذْكُرُهٗ كَثِيْرٌ مِنَ النَّاسِ مِنْ دُعَاءٍ مُعَيَّنٍ تَحْتَ الْمِيْزَابِ فَلَا اَصْلَ لَهٗ

۸– اتم بدعت : مسجد حرام دپاره په مسجد حرام کښې تحیة المسجد کول دا بدعت دے ځکه بیت الله طواف کول دا د بیت الله تحیه ده خو دا حکم د هغه چا دپاره دے چه ابتداء کښې په حالت د احرام کښې داخل شی او که هلته اوسیږی نو بیا ددے حکم د نورو مساجدو پشان دے بیا به تحیه المسجد کوی کله ئے چه د طواف اراده نه وی۔

۹– نهم بدعت : بعضے خلق داسے نیت تړی لکه څنګه چه د مونځ نیت تړی غوږونو ته لاس پورته کوی۔ دا غلطه طریقه ده، صرف حجر اسود ته لاس مخامخ کول او الله اکبر وئیل پکار دی۔

[زاد المعاد ۳۰۳/۱ – سفر السعاده صـ ۷۰]

۱۰– لسم بدعت : د حجر اسود په ښکلولو کښې اواز او شور کول دا مکروه عمل دے۔ [المدخل ۲۲۴/۱]۔

۱۱– یولسم بدعت : بعضے خلق چه امام سلام اوګرځوی نو سمدستی د حجر اسود د ښکلولو دپاره منډه وهی او بعضے د ملتزم دپاره منډه وهی دا غلط کار دے او د محمد ﷺ نه ځان مخکښې کول دی او د مسجد حرام بے ادبی کول دی۔

۱۲– دولسم بدعت : بعضے خلق د حجر اسود او رکن یمانی په خوا کښې لمن اوچتوی او بعضے پرتوګ اوچتوی دا بدعت دے۔

(حجة النبی ﷺ)۔



۱۳– بدعت : بعضے خلق رکن یمانی ښکلوی دا خلاف سنت طریقه ده۔

۱۴– څوارلسم بدعت : اکثر خلق د کعبے شریفے ټول طرفونه ښکلوی دا هم د رسول الله ﷺ نه خلاف ورزی ده۔

[اقتضاء صـ ۲۰۴ – مجموعه الرسائل ۳۷۱/۲]۔

د کعبے نور ګودونه مسح کول یا ښکلول نشته صرف حجر اسود ښکلول یا مسح کول دی او صرف رکن یمانی له لاس وروړل دی۔ عبد الرزاق په خپل مصنف کښې روایت راوړیدے (۸۹۴۵)۔

عن یعلی بن امیة قال طُفْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخطابؓ وَفِیْ رِوَایَةٍ مَعَ عُثْمَانَ فَلَمَّا كُنْتُ عِنْدَ الرُّكْنِ الَّذِیْ یَلِیْ الْبَابَ مِمَّا یَلِیْ الْحَجَرَ اَخَذْتُ بِیَدِهٖ لِیَسْتَلِمَهٗ فَقَالَ : اَمَا طُفْتَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قُلْتُ : بَلٰی قَالَ فَهَلْ رَاَیْتَهٗ یَسْتَلِمُهٗ ؟ قُلْتُ : لَا۔ قَالَ : فَانْفُذْ عَنْكَ فَاِنَّ لَكَ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ (ﷺ) اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ۔

ترجمه : یعلیٰؓ فرمائی ما د عمرؓ لاس اونیولو چه رکن شامی ښکل کړی۔ هغه اوفرمائیل : تا د رسول الله ﷺ سره طواف ندے کړے؟ ده اووئیل : ولے نه ! وے فرمائیل تا پدے کار لیدلے دے ؟ هغه اووئیل نه ! نو وے فرمائیل د رسول الله ﷺ اتباع کښې ستا ښائسته اقتداء شته۔ (صرف د هغه اتباع کوه)۔

۱۵– پنځلسم : د کعبے یا د مقام ابراهیم پورے ځان مخل یا لاس وروړے راخکل یا د هغے چپول بدعت دے۔

(السنن والمبتدعات – ۱۱۳)۔

۱۶– شپاړسم : ملتزم پورے خیته جوختول پدے نیت چه دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا مینځ دې دا غلطه خبره ده دعا ملتزم کښې شته حدیث د ابوداود کښې راغلی دی او دا مسئله به روسته ان شاء الله تعالی۔

۱۷ – اوولسم : بعضې خلق د میزابِ رحمت نه چه کومې د باران اوبه راپریوزی نو په هغې تبرك حاصلوی ددې څه اصل نشته دې۔

۱۸ – اتلسم : بعضې ظالمان مونږ پخپله لیدلی دی چه د شیخ عبد القادر جیلانیؒ ذکر کوی په طواف کښې یا غوث اعظم وائی دا شرك دې او دا کار مشرك سړې کوی۔

۱۹ – نورلسم : د حجر اسود په ښکلولو کښې یا په اشاره کولو کښې د بسم الله الله اکبر نه زیات کلمات وائی دا د محمد ﷺ نه ندی ثابت نو ځان په بدعاتو باندې مه ستړې کوئ۔

**کله چه طواف ختم** کړی نو اوګه دې پټه کړی او نیغ دې نه اوځی ځکه دې سره طواف والاؤ ته تکلیف ملاویږی نو د هغوی سره دې روان وی لږ لږ دې بهر کیږی۔

## بیا به دوه رکعته مونځ اوکړی

بیا به دوه رکعاته مونځ اوکړی او دا مونځ سنت دې او دا صحیح قول دې که چا اونکړل نو طواف ئې شوېدې لیکن خلاف سنت کار دې۔

**دلته یو څو مسائل واوره :**

۱ – **اوله مسئله** : کله چه خلقو ته تکلیف نه وی نو دا مونځ



د مقام ابراهیم سره کول سنت دی او چه کله ده یا نورو خلقو ته تکلیف وی نو بیا ئې بل ځائې کښې کول پکار دی ځکه په سنت طریقه کولو باندې خلقو ته تکلیف ورکول حرام دی۔

۲ – **دویمه مسئله** : قُلْ یَا اَیُّهَا الْکَافِرُوْن به اول رکعت کښې وائی او دویم کښې به قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد وائی کما فی الحدیث۔

۳ – **دریمه مسئله** : بعضې کم عقله فرض مونځ یا دا دوه رکعته د میزاب رحمت مخې ته او د حطیم شاته کوی پدې ګمان چه د ترکیانو په زمانه کښې دلته د امام ابوحنیفهؒ مصلی پرته وه، او دا کار اکثر افغانان کوی او دا ګمان غلط دې ځکه دا کار غلطو خلقو کړې وو او بله دا چه د احادیثو نه معلومیږی چه دا مونځ د کعبې مخې ته کول بهتر دی۔

٤ – **څلورمه اختلافی مسئله :**

بعضې خلق وائی چه دا مونځ به په اوقات مکروهه کښې نه کوی ځکه پدې درې اوقاتو کښې د مونځ کولو نه منع راغلې ده او بعضې علماء وائی چه دا مونځ په هر قت کښې کیږی ځکه چه دا سببی مونځ دې او په دې باندې ډیر احادیث راغلی دی۔ او همدا غوره قول دې۔

**اول حدیث** کښې راځی :

عَنْ جُبَیْرِ بْنِ مُطْعِمٍ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ : یَا بَنِیْ عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوْا اَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَیْتِ وَصَلّٰی اَیَّةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَیْلٍ اَوْ نَهَارٍ۔

(رواه الترمذی والنسائی وابوداود – وصححه الالبانی فی صحیح ابی داود)۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : رسول الله ﷺ بنی عبد مناف ته فرمائيلی وو چه تاسو هيڅوك مه منع كویٔ چه طواف د بيت الله نه اوكړی او يا هر وقت چه غواړی مونځ اوكړی كه شپه وی كه ورځ۔ (ترمذی)

همدا وجه ده چه بعضے علماء وائی چه په مكه كښے اوقات مكروهه نشته بلكه نفلونه چه د چا څومره خوښ وی او په هر ټيم كښے چه وی جائز دی ځكه هغه ځائے د عبادت دے۔

**دويم حديث :**

عَنْ اَبِىْ ذَرٍّ قَالَ وَقَدْ صَعِدَ عَلٰى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ مَنْ عَرَفَنِىْ فَقَدْ عَرَفَنِىْ وَمَنْ لَّمْ يَعْرِفْنِىْ فَاَنَا جُنْدُبٌ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ لَاصَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ اِلَّا بِمَكَّةَ اِلَّا بِمَكَّةَ اِلَّا بِمَكَّةَ ۔ رواه احمد ورزين۔

**حاصل** د حديث دا شو چه د صبا د راختلو نه پس د نمر ختو پورے نفلی مونځ نه كيږی او همدارنګے د مازيګر مانځه نه بعد تر نمر پريوتلو پورے مونځ نه كيږی مګر په مكه كښے كيږی او دا خبره ئے درے كرته اوكړه او په دے نور هم ډير دلائل شته او په دے مسئله باندے شيخ الاسلام ابن تيميه په فتاوی كښے تفصيلی بحث كړيدے او دا مسئله ئے ثابته كړيده نو كه دا مونځ په اوقات مكروهه كښے كوی نو اعتراض پرے مه كوه او كه تاسو اوكړلو نو هم جائز دے بے دليله خبرو پسے مه روانيږئ۔

٥ – **پنځمه مسئله** : د طواف نه روستو د دوه ركعاتونه زيات مونځ كول لازم نه دی بعضے خلق د طواف نه روستو د مقام



ابراهيم سره دوه ركعته كوی دوه له ملتزم سره كوی او دوه په حطيم كښے كوی دا په دے طريقه نه دی ثابت چه د طواف نه روستو به شپږ ركعتونه كوی صرف دومره ده چه حطيم كښے يو كرت مونځ كول پكار دی، ځكه دا داسے ده لكه چه د كعبے شريفے مينځ دے او رسول الله ﷺ په فتح مكه كښے يا په حجة الوداع كښے يو ځل داخل شويدے بار بار نه دے داخل شوے نو علماء وائی چه سړے يو ځل حطيم كښے مونځ اوكړی نو دا سنت ادا كيږی بار بار ننوتلو ته ضرورت نشته۔

## بيا به زمزم ته لاړ شی او به اوسكی

او په سر باندے به ئے هم واچوی ځكه نبی ﷺ داسے كړيدی دا اوبه كه په ولاړه اوسكی نو هم جائز ده ځكه نبی عليه السلام په ولاړه سكلی دی او په ناسته ئے سكل هم جائز دی۔ او فضيلت ئے دا دے چه حديث كښ راغلی دی : انه طعام طعم رواه مسلم وفی روايه ابی داود وشفاء سقم۔ دخوراك نه خوراك دے او د بيماریٔ علاج دے۔ او بل روايت كښ دی : ماء زمزم لما شرب له۔ د زمزم اوبه چه په كوم نيت اوسكلے شی نو هغه الله تعالی پوره كوی۔

د زمزم اوبه شفاء ده په ښه نيت ئے څكل پكار دی لكه د علم او شفاء او تقوی دپاره۔ ابن عباسؓ به د زمزم څكلو نه پس داسے دعا وئيله :

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَشِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ.

(ترغيب وترهيب)۔

**مسئله** : د زمزم اوبو څکلو وقت کښے اودريدل او مخ قبلے ته کول دا شته او که نه ؟ نو صحيح دا ده که ولاړ وے نو بيا کينه مدام که ناست وے اودريدل نشته۔ او قبلے ته مخ کول يو حديث کښے راغلی دی ابن ماجه رقم (۳۰٦۱) ليکن ضعيف دے ځکه هغے کښے محمد بن عبد الرحمن راوی دے لم يوثقه غير ابن حبان ليکن ابن مبارکؒ به پرے عمل کولو لکه ترغيب وترهيب کښے شته۔ دارنګه يو اثر په مصنف عبد الرزاق کښے شته (۱۱۲/۵) د ابن عباسؓ چه هغه به هم استقبال قبلے ته کولو ليکن د هغے سند کښے ضعف دے زمعه بن صالح راوی په کښے راغلے دے نو ځکه محققين علماء وائی پدے وخت کښے قبلے ته متوجه کيدل سنت طريقه نده۔ ليکن د زم زم په اوبو کښے هم بدعات شته۔

## په زم زم کښې بدعات

۱-اول : بعضے خلق په زم زم غسل کوی دا هم بدعت دے۔

۲-دويم : بعضے خلق چه د زم زم اوبه په هرځائے کښے سکی نو اودريږی او قبلے ته مخ کوی او بيت الله ته ګوری۔ بعضے خلق د کفن کپړے له او بعضے ګيرے له او بعضے جانمازونو له د زم زم



اوبه ورکوی دا ټول بدعات او عبث کارونه دی-

السنن والمبتدعات (۱۱۳)-

آؤ د مرض په ځائے باندے زمزم اچول صحيح دی- كَانَ يَصُبُّ عَلَى الْمَرْضٰى [الصحيحة :۸۸۳]-

٤- څلورم : بعضے خلق د زمزم څکلو وخت کښے څه خاصه دعا وائی دا بے اصله خبره ده بلکه چه کومه دعا ورته ورځی نو اودے کړی-

٥- پنځم : بعضے خلق ګمان کوی چه د زمزم او به ډيرے څکل اسراف دے دا غلطه خبره ده بلکه زمزم باندے ځان مړول پکار دی-

**بيا چه کله فارغ شی د دينه نو سعی ته دِے متوجه شی** ۔ ليکن حجر اسود دِے ښکل کړی مخکښ له تللو نه صفا مروه ته دا سنت دی او ډير خلق ترے خبر هم ندی-

## سعی او د هغے مسائل

اول دِے انسان د صفا غونډۍ ته لاړشی ځکه چه هغه حجر اسود ته مخامخ ده نو هلته دِے اوخيژی-

او رسول الله ﷺ چه کله ورتللو نو وے فرمائيل : اَبْدَءُ بِمَا بَدَءَ اللهُ بِهٖ – زه شروع کوم په هغے باندے چه الله پرے شروع کړيده چه په خپل کتاب کښے ئے صفا مخکښے کړيده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ ﴾

نو کله چه انسان صفا ته نزدے شی نو دغه ځائے کښے به دغه آیت اووائی دا آیت په روایت د مسلم کښے صرف د من شعائر الله پورے راغلے دے او که ټول ئے اولوستلو نو هم خیر دے او بیا به داسے اووائی : اَبْدَءُ بِمَا بَدَءَ اللّٰهُ بِهٖ۔ کله چه صفا ته اوخیژی نو بیت الله ته دِے مخ کړی تردے پورے چه هغه اووینی لیکن نن صبا انسان د عمارت د وجے نه هغه نشی لیدلے نو لاسونه دِے پورته کړی او داسے دعاګانے دِے کوی :

اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ اَنْجَزَ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ.

او دارنګه نورے دعاګانے دِے کوی نبی ﷺ دلته دا دعا درے ځله کړیده۔ او د هرځل لوستلو نه پس دے ځان له او نورو مسلمانانو له دعا غواړی ۔

**بیا به مروه** طرف ته روان شی او الله ته دِے عاجزی کوی او دعاګانے دِے غواړی ۔کله چه هغه عَلَمِ اَخْضَر (یعنے شنو بلفونو ته کوم چه خی او ګس طرفته دی) ورسیږی نو منډه دِے اوکړی تر هغه بل پورے نبی علیه السلام به دومره تیزه منډه کوله چه لنګ مبارك به ورته بیرته راتاؤ شو۔

مخکښے زمانه کښے دلته کنده وه اوس حکومت هغه د بره نه بنده کړیده، دلته منډه وهل سنت عمل دے د سرو دپاره بیا چه



مروه ته اورسیږی نو هلته به هم مخ قبلے ته کړی او دغه مذکورے دعاګانے به اووائی ځنګه ئے چه صفا کښے لوستلے وے۔ بیا به صفا ته راشی او همدغه مذکوره طریقه به وکړی تردے چه اووه ګردشه پوره شی۔

سعی په صفا مروه کښے په سورلئ جائز ده او پیدل تلل افضل دی۔ رواه ابونعیم فی مستخرجه علی صحیح مسلم۔

او د صفا مروه په مینځ کښے دا دعا د ابن مسعودؓ او ابن عمرؓ او مسیب بن رافعؒ، عروه بن الزبیرؒ – نه نقل ده :

رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ۔

(ابن ابی شیبه (٤/٦٨)۔

## په سعی کښې بدعات

١– **اول بدعت** : بعضے خلق دے ته سعی وائی چه خوارلس کرته لاړشی او راشی۔ دا بالکل غلطه ده کوم علماء چه دا وائی نو دا خطا شویدی بلکه د صفا نه تر مروه پورے دا یو چکر شو او بیا د مروه نه تر صفا پورے بل چکر شو د صفا نه شروع او په مروه به سعی بس کیږی، لیکن یوه مشوره واوریٔ هغه دا چه اکثر خلق پدے ګردشونو کښې خطا کیږی نو هغه له پکار دی چه اووه تسبیح پیدا کړی یا په ګوتو حساب کوی۔

٢– **دویم بدعت** : بعضے خلق وائی چه د صفا مروه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روستو به دوه رکعته حاجی صاحب کوی دا خبره بالکل غلطه ده دې باره کښې چه کومو علماؤ د شوافعو لیکلی دی نو هغه خطا شویدی بلکه دوه رکعته د طواف نه روستو شته او د سعی نه روستو مونځ نشته۔

۳– **دریم بدعت** : بعضې خلق صفا مروه لپاره اودس لازم گنړی په دې نیت چه وائی چه حدیث کښې راځی چه څا د صفا مروه سعی اوکړه په اؤدس سره نو په هر قدم به ده له ( اوویا زره ) نیکئ اولیکلې شی۔ دا حدیث هم موضوع دې او دا خبره هم غلطه ده بلکه اودس د صفا مروه دپاره په اتفاق د علماؤ سره ضروری نه دې بلکه اودس هر وخت مستحب دې۔

٤– **څلورم بدعت** : بعضې خلق د صفا سر ته ورخیژی تردی چه ځان د هغه دیوال سره یوځائې کړی دا غلطه ده بلکه صرف صفا ته ختل پکار دی۔

۵– **پنځم بدعت** : په ما بین د صفا مروه کښې څه معینه دعا نشته بلکه څه چه خوښوی هغه دې وائی چه قرآن او حدیث نه خلاف نه وی۔ او د صحابه کرامؓ نه رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ دعا نقل ده۔لکه چه مخکښې تیره شوه۔

٦– **شپږم بدعت** : باربار سعی کول هسې یا په حج عمره کښې دا غلطه طریقه ده (نووی شرح مسلم)۔

بعضې خلق د حج او د عمرې نه په غیر سعی کوی دې کښې ثواب نشته بلکه ثواب په طوافونو کښې دې هغه دې کوی۔



۷– **اوم بدعت** : بعضې خلق جمع پرېږدی ترڅو چه ئې سعی نه وی ختمه کړې دا غلط کار دې جمع دې اوکړی د هغې نه روستو دې بیا سعی شروع کړی د همغه ځائې نه کوم ځائې ئې چه جمع اوکړه۔ د سعی په کولو سره د جَمعې پرېخودل نشته۔

۸– **اتم بدعت** : بعضې خلق د سورلئ نه منع کوی چه د صفا او مروه په مینځ کښې به په سورلئ باندې نه سورېږی دا خبره غلطه ده بلکه سورلئ باندې سوریدل سنت ده ی او د رسول الله ﷺ نه ثابت دی لکه امام مسلم د جابر رضی الله عنه نه پدې باره کښې حدیث راوړیدې۔

۹– **نهم بدعت** : د مَسْعٰی په دویم چت باندې سعی کول د ضرورت په وجه جائز دی لیکن د دیوال غاړې ته دې ډیر نزدې نه ورځی چه د مسعی نه بهر اونه وځی دا مسئله د سعودی لوئ لوئ علماؤ لیکلې ده۔

**بیا دِې سر اوخروی** نو دې سره به د احرام نه اووځی او عمره به ئې پوره شی۔

## د حلق او قصر بیان

علماء لیکی چه انسان کله مُفرِد وی یعنی صرف حج کوی عمرې نه کوی یا قِران کوی یعنی حج او عمره شریکه کوی په نیت کښې او ځان سره ئې هدیه یعنی ښاروې هم راوستې وی د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملك نه نو دا به ځان نه حلالوی او تمتع والا به ځان حلالوی لیکن که ورځے حج ته ډیرے وی نو سر ډِے اوخروی او که ورځے حج ته کمے وی چه سر پکښے نه غتیږی نو بیا ډِے سر اوخروی ځکه په حج کښے سر خرئیل ډیر اجر لری دا د رسول الله ﷺ قوی سنت دی۔

## په حلق او قصر کښ بدعات

۱- اول بدعت: بعضے خلق چه سر خروی نو چپ طرف نه شروع کوی دا خلافِ سنت عمل دے نبی ﷺ چه کله سرخرولو نو حلاق (نائی) ته ئے اووئیل چه په ښی طرف شروع اوکړه۔

۲- دویم بدعت: بعضے خلق څلورمه حصه د سر خروی او څوك چه ډیرے عمرے کوی هغه هم دا کار کوی او حال دا دے چه څلورمه حصه د سر خرئیل بدعت دے بلکه د ټول سر خرئیل دا واجب دی لکه په حدیث کښے راغلی دی۔

۳- دریم: بعضے خلق وائی چه سر خروے نو قبلے ته به مخ کوے لکه په احیاء العلوم کښے ئے لیکلے ده دا خبره هم غلطه ده۔

٤- څلورم بدعت: بعضے د سر خرئیلو په وخت کښ دعا وائی لکه فتح القدیر کښے ئے لیکلے ده دا د محمد ﷺ نه نه ده ثابته نو د محمد ﷺ نه ځان مه مخکښے کوئ۔

۵- پنځم: بعضے خلق چه سر لنډه وی نو یو ویخته یا دوه تړنه



په قینچی واخلی او حال دا دے چه قصر دیته وائی:

اَلْاَخْذُ مِنْ مَجْمُوْعِ الشَّعْرِ لَا مِنْ جَمِیْعِهٖ۔

د مجموعه ویختو نه د گوتو د سرونو په مقدار اخستل او د هر ویخته نه اخستل لازم ندی نو پدے کښے زیات نقصان جائز نه دے۔ لکه چه د مروه په خوا کښے ناپوهه خلق ولاړ وی او قینچی ورسره وی او صرف معمولی ویښته پریکړی او دیته قصر وائی دا غلطه ده۔ بلکه تعمیم د ټول سر ضروری دے۔

## د زنانه د عمرے بیان

زنانه به دا اعمال هم کوی کوم چه مخکښے بیان شو صرف یو څو خبرو کښے ددے فرق دے۔

۱- اول: دا چه پدے احرام نشته بلکه خپلے عادتی جامے به اغوندی۔ حدیث کښے راځی چه زنانه به دستانے او نقاب نه اچوی صرف د بره نه کپړه رازوړندولے شی (ترمذی، مشکاة)۔

نو اوس به بورقع نه په سر کوی بلکه که سړی نه وی نو مخ ډِے ښکاره کړی او که ستر کوی نو بیا ډِے په مخ څه جامه وغیره واچوی که په مخ لړیږی او که نه لړیږی دواړه جائز دی۔ بعضے علماء وائی چه په مخ باندے ډِے پرده نه اچوی لیکن صحیح دا ده چه په مخ ډِے پرده واچوی که لگیږی او که نه ځکه چه د نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیبیانو څادرونه په مخ اچولی وو او رسول الله ﷺ ورته نه وو وئیلی چه د مخونو نه پرده لرے کړئ لکه شیخ الاسلام دا مسئله بیان کړیده:

[وَلَوْ غَطَّتِ الْمَرْأَةُ وَجْهَهَا بِشَيْءٍ لَا يَمَسُّ وَجْهَهَا جَازَ بِالْاِتِّفَاقِ وَاِنْ كَانَ يَمَسُّهَا فَالصَّحِيْحُ اَنَّهُ جَائِزٌ اَيْضًا وَلَا تُكَلَّفُ الْمَرْأَةُ اَنْ تُجَافِيَ سُتْرَتَهَا عَنِ الْوَجْهِ لَا بِعُوْدٍ وَلَا بِيَدٍ وَلَا غَيْرُ ذٰلِكَ لِاَنَّ اَزْوَاجَهُ ﷺ كُنَّ يَسْدُلْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِنَّ مِنْ غَيْرِ مُرَاعَاةِ الْمُجَافَاةِ وَلَمْ يَنْقُلْ اَحَدٌ مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّهُ قَالَ: اِحْرَامُ الْمَرْأَةِ فِيْ وَجْهِهَا وَاِنَّمَا هٰذَا قَوْلُ بَعْضِ السَّلَفِ لٰكِنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَاهَا اَنْ تَنْتَقِبَ اَوْ تَلْبَسَ الْقُفَّازَيْنِ] انتهیٰ.

ددے عبارت مقصد مخکښے بیان شو۔

۲- دویم: دا چه بعضے زنانه په سر باندے سپینه کپړه تړی او دیته احرام وائی دا کار غلط دے او بالکل صحیح نهٔ دے۔

۳- دریم: دا چه که ښځه حائضه (بیماره) شوه یا نفاس پرے راغے نو غسل دِے اوکړی او خوپورے چه پاکه شوے نه وی نو د حرم نه بهر دِے اوسیږی چه کله پاکه شی نو بیا دِے عمره شروع کړی ځکه چه زنانه لره د حیض په حالت کښے مسجد ته په غیر د ضرورت نه داخلیدل منع دی۔ او دا سے به هم نه کوی چه په حالت د حیض کښے سعی اوکړی او روستو چه پاکه شی نو بیا طواف اوکړی، ځکه چه صفا مروه مخکښے د مسجد نه بهر وو نو مخکښے ورله دا کار جائز وو لیکن اوس صفا مروه مسجد کښے شامل شویدی، نو دا هم د مسجد حکم لری نو حائضه زنانه به د



عمرے هیڅ رکن نه اداء کوی تر څو چه پاکه شوے نه وی-

دویمه وجه دا ده چه صفا مروه د طواف نه روستو کول پکار دی-

۴- څلورم: ښځه دِے د سرو نه جدا طواف کوی-

۵- پنځم: - زنانه به هم په تلبیه آواز اوچتوی مګر چه خوف د فتنے وو، بیا به آواز ښکته کړی لعموم الاحادیث او عائشهؓ به آواز اوچتولو (مسند احمد ۶/۳۲) وقال شیخ الاسلام:

وَالْمَرْأَةُ تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِحَيْثُ تُسْمِعُ رَفِيْقَاتِهَا -

ښځه به دومره آواز پورته کوی چه خپلے ملګرے ئے واوری-

۶- په حجر اسود باندے به تیل نه کوی، یو بل له دیکے ورکول ګناه ده-

۷- اووم: په زنانو رمل (پهلوانی) نشته لیکن په سعی کښے آیا زنانه منډے وهلے شی؟ نو پدے کښے د علماؤ درے قوله دی- ظاهر دا دے چه که د سړو تیل نه وی نو بیا منډه وهلے شی لکه المجموع (۸/ ۷۵) مناسك الحج والعمره (صـ ۲۷)۔ کښے اوګوره

۸- اتم: د حج او عمرے نه پس دِے سر نه خروی بلکه قصر دِے اوکړی-

**پس کله چه د عمرے نه فارغ شی** نو بیا دِے د حج انتظار کوی او حرم کښے ورلره اوسیدل جائز دی لیکن که چرته زنانه وی او مرض پرے راشی نو که ځان دپاره د حرم نه بهر کمره نیولے شی نو دا ډیره بهتره ده، او که وسع ئے نه کیږی نو په حرم کښے ورله اوسیدل هم جائز دی كَمَا حَقَّقَهُ شَيْخُ الْإِسْلَامِ فِيْ فَتَاوَاهُ جِدًّا-

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حرم نه بهر** اوسيدل ورلره د ډيرو وجو نه بهتر دي يو دا چه د حرم بے عزتی به ترے نه کيږی بل دا چه هلته به ترے بے ځايه خبرے نه کيږی، بله دا چه نبی ﷺ چه حج ته راغلے وو نو هم بهر په محصب کښے اوسيدلو هلته به ئے مونځو نه کول او صحابه (رض) سره حرم ته نه راتللو نو د هغے تابعداری به هم اوشی۔ (زاد المعاد)

## په عمره کښې فرائض

١- **اول** : د ميقات نه احرام تړل دا فرض دے لکه څنګه چه په حج کښے فرض دے۔

٢- **دويم** : يو ځل د بيت الله طواف کول۔

٣- **دريم** : په صفا مروه کښے سعی کول۔

٤- **څلورم** : د صفا مروه نه پس سر خرئيل يا لنډول لازم دی په هغه کس باندے چه صرف عمره کوی او يا د حج تمتع نيت ئے کړے وی۔

OOOOOOO





## دريم باب

## د حج بيان - او د هغه د احکامو تفصيل

کله چه د ذو الحجة مياشت داخله شی نو څوك چه قربانی کوی يا پرے واجبه وی نو سر دِے نه خروی او نوکه دِے هم نه پرے کوی او نور ويختان دِے هم نه اخلی، لکه دا حديث کښے راغلی دی۔

کله چه يوم الترويه يعنی اتمه ورځ د ذو الحجة شی نو احرام دِے اوتړی ليکن چه قِران والا نه وی، ځکه چه قارن خود مخکښ نه احرام کښے دے۔

**تنبيه** : ډير حاجيان چه احرام تړی نو ددے ورځے نه اضطباع (اوګه ښکاره) ګوی تر حج ختميدو پورے او دا خطائی ده بلکه اوګه به صرف په طواف کښے ښکاره کوی او هر طواف هم نه بلکه صرف طواف قدوم کښې ( چه ابتداء کښې بيت الله ته راشی)۔

**تنبيه** : د احرام تړلو او شرط لګولو بيان مخکښے اوشو۔

## احرام به د کوم ځائے نه تړی

بعضے وائی : چه احرام به د مسجد حرام نه تړی ليکن صحيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره دا ده چه د هغه ځائے نه به احرام تړی چه کوم ځائے کښې اوسیږی ځکه صحابه کرامو به د بطحاء نه احرام تړلو او هغوی هم هلته اوسیدل او هلته دیره وو لیکن د حج دپاره به د حرم نه احرام تړی (او مسجد حرام نه تړل ئے ضروری ندی د خپلے دیرے نه ئے اُوتړه) لکه دا مسئله د فقه په کتابونو کښې هم ده۔

بیا به په همدغه ورځ د ماسپخین نه مخکښې منی ته روان شی۔ سنت طریقه داده چه د ماسپخین مونځ هلته اورسوی (یعنې چه نهه لس بجے روان شی نو په آرام به ئے ماسپخین ته اورسوی)۔ او په لاره باندے به تلبیه وائی۔

**بعضے** خلقو په مِنیٰ کښې ځان له د مخکښې مقرر ځایونه نیولی وی دا کار د سنت طریقے دے ځکه چه حدیث کښې دی: مِنًی مُنَاخٌ مَنْ سَبَقَ ۔(الدارمی:۱۹۳۷) وحسن اسناده معلقه : حسین سلیم اسد والنووی فی خلاصة الاحکام]

منی د هر هغه چا ځائے دے چه څوک ورته مخکښې راغلو، پدے باندے د چا قبضه نۀ راځی۔

**بعضے** خلق طواف کوی او سعی کوی او د عرفات نه چه روستو راشی نو طواف نۀ کوی دا بالکل غلطه ده ځکه د عرفات نه بعد طواف کول فرض دی او دارنگه سعی په تمتع والا باندے واجبه ده۔ امام البانی دا مسئله ښه په تحقیق سره بیان کړیده۔

[التعلیق علی کتابه حجة النبی -۸۸]۔

ځکه کله چه احرام اوتړی نو طواف کول ورباندے نه دی لازم



ځکه چه طواف خو هر وقت مستحب دے ددے وقت د احرام پورے خاص ندے نو کوم خلق چه دا ضروری گڼړی چه د احرام تړلو نه روستو به طواف کوی او بیا به منی ته روانیږی (لکه دا کار اکثر امیان کوی) نو دا خبره غلطه او بے دلیله ده۔ او هر چه سعی ده نو هغه خو دے وخت کښې نشته دے، نو بهتره دا ده چه سعی روستو اُوکړے شی۔ بعض خلق وائی: چه (لاحرج) والا حدیث نه معلومیږی چه سعی مقدم کول هم جائز دی لیکن په هغه روایت کښې د صحت او ضعف د اختلاف په وجه نۀ دی کول پکار۔

**پس کله** چه منیٰ ته ورسیږی نو هلته به پنځه مونځونه کوی ماسپښین، مازیگر، ماښام، ماسخوتن او سحر او د نمر ختلو نه مخکښې د منی نه تلل د سنت خلاف دی۔

## په حج کښې فرائض

۱- **اول** : د حج دپاره په زړۀ کښې نیت کول۔

هر چه کپړے او تلبیه وئیل دی نو هغه ئے علامات دی۔

۲- **دویم** : د عرفے په ورځ باندے عرفات ته تلل فرض دی۔

۳- **دریم** : طواف زیارت کول فرض دی۔

دا څیزونه فرض دی که د چا نه وریکښې یو هم پاتے شو نو د علماؤ په اتفاق سره ئے حج نۀ کیږی نو ددے خیال ساتل ضروری دی۔ او په حج کښې نور فرائض هم شته په راجح قول د علماؤ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن د عوامو دپاره فرض او واجب معلومول ضروري نۀ دي صرف د حج طریقه پیژندل ضروري دي۔

## په حج کښې واجبات

۱ – **اول** : د میقات نه په غیر د احرام نه تیریدل واجب دي، د احرام نه مراد کپړې بدلول دي، که په غیر د احرام نه تیر شو نو هغه دپاره واپس کیدل لازم دي۔

۲ – **دویم** : سعی کول په مینځ د صفا مروه کښې واجب ده، دا د بعض علماؤ وینا ده مگر غوره دا ده چه دا سعی فرض ده ځکه چه حدیث کښې دي : [اِسْعَوْا، فَاِنَّ اللهَ کَتَبَ عَلَیْکُمُ السَّعْیَ]

[احمد و ابن ماجه– ارواء الغلیل: ۱۰۷۲] ۔

اے خلقو سعی کوئ ځکه چه الله تعالی په تاسو باندې سعی فرض کړیده۔

۳ – **دریم** : تمتع والا قران والا باندې قرباني واجبه ده۔

٤ – **څلورم** : په مزدلفه کښې شپه تیرول یا نیمه شپه تیرول واجب دي۔ په مزدلفه کښې د سحر مانځه نه روستو ایساریدل تر نمر راختلو نه لړ مخکښې پورې ضروري دي لکه چه په حدیث کښې ثابت دي۔

۵ – **پینځم** : شیطانان ویشتل۔

٦ – **شپږم** : د اختر په ورځ باندې د شیطانانو د ویشتلو نه



روستو سر خرئیل یا لنډول واجب دي۔

۷ – **اووم** : طواف وداع کول د آفاقي یعني د مسافر دپاره چه مکه مکرمه کښې نه اوسیږي۔ طواف وداع آخري د رخصتۍ طواف ته وائي۔ بیا به د نمر د راختلو نه پس عرفات ته روان شي او که د ضب په لاره روان شو نو زیاته غوره ده ځکه رسول الله ﷺ په دغه لاره تلے وو کله چه مسجد نمره ته اورسیږي نو هلته به ځان د خوراك، غسل او اودس نه فارغ کړي نو بیا به د زوال نه روستو عرفات ته داخل شي۔ او دا بهتره ده چه د زوال نه مخکښې مسجد نمره خوا کښې کیني یا مسجد ته داخل شي۔

**مسئله** : عرفات ته تللو وقت کښې تلبیه هم شته او که څوك تکبیرونه وائي هم صحیح دي۔ (بخاري)

## عرفات او د هغه متعلقات

دا په حج کښې بهترینه ورځ ده لکه دے باره کښې ډیر احادیث راغلي دي، لکه په حدیث کښې راځي چه په بندګانو سره الله تعالی په ملائکو باندې فخر کوي او په دے ورځ کښې الله تعالی د جهنم نه بندګان آزادوي۔

او په حدیث کښې راځي چه : «اَلْحَجُّ عَرَفَةُ» ۔ یعنې حج خو عرفه ده۔ یعنې دا په حج کښې بهترین جزء دے نو ددے ورځې احترام پکار دے او ډیرے دعاګانې او ذکرونه پکښې پکار دي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عرفات مسائل

**۱- اوله مسئله :** د نمر پریوتلو پورے به انسان د عرفات د حدودو نه نه اوځي او د عرفات حدود معلوم دي بورډونه لګیدلي دي۔

**۲- دویمه مسئله :** اول به مسجد نمره کښے خطبه واوری ځکه دا خطبه اوریدل سنت دي بیا به جمع بین الصلاتین اوکړی یعني د ماسپښین او مازیګر مونځ به یو ځائے اوکړی دوه رکعته به د ماسپښین او دوه به د مازیګر کوی دا په هر چا باندے لازم دی که مقیم وی که مسافر وی او دا قول د سنت مطابق دے او دا د نبی کریم ﷺ طریقه او د ابوبکر صدیق ، عمر فاروق بلکه د ټولو صحابه کرامؓ عمل دے، ددے طریقے مخالفت کونکے د نبی کریم ﷺ او د صحابو مخالف دے بلکه په مزدلفه کښے به هم داسے کوی او په منی کښے به فقط قصر مونځ کوی جمع بین الصلاتین به نه کوی او اوس هم عرب داسے ( سنت طریقه باندے عمل ) کوی هغوی په دین پو هیږی نو د هغوی تابعداری هم ښۀ ده (د هغوی سره په شریکه جمع کوه)۔

لیکن بعضے غلو کونکی متعصبین چه د سنت طریقے سره څه مینه او محبت نۀ لری دا طریقه نه کوی او وائی چه دا د امام صاحب مذهب نه دے۔ زه وایم که د امام صاحب مذهب نه دے نو



د نبی اکرم ﷺ مذهب خو دے (وَكَفٰى بِهٖ مَذْهَبًا) دومره سخت تقلید جائز نۀ دے چه د رسول الله ﷺ د صحیح حدیث مقابل کښے د یو عالم قول غوره کړے شی۔

بیا به د مونځ دپاره یو اذان او دوه اقامتونه اُوکړے شی۔

**۳- دریمه مسئله :** سنت به نۀ کوی۔

**۴- مسئله :** د علماؤ په اتفاق سره په عرفات کښے بے اودسه سړے او حائضه ښځه اودریدلے شی۔

**۵- پنځمه مسئله :**

بیا به په دعاګانو کښے مشغول شی - په ولاړه وی که په ناسته - او په خپله ژبه کښے دے د دنیا او د آخرت دعاګانے غواړی ځکه به په خپله ژبه کښے دعاګانے کوی چه که په عربئ کښے دعاګانے کوی او د هغے په مقصد باندے نه پو هیږی نو ډیره فائده نه لری - او دعاء د کولو شے دے، د لوستلو شے نۀ دے۔

او که ژړا ورځی نو ډیر ډیر اوژاړی او خصوصا د جهنم نه د آزادئ دعا ډیر غواړی ځان دپاره هم او عرفات والو دپاره هم بلکه ټولو مسلمانانو له ډیر هم دعا غواړی او که چرته دا ګناهګار بنده (یا ددے کتاب خورونکی) دریاد شی نو هغه دپاره هم د مغفرت او داور نه د خلاصیدو او جنت ته د داخلیدلو دعا اوغواړه (واجرك علی الله)۔

OOOOOOO

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په عرفات کښې

## بدعات او ناروا کارونه

ابلیس په دے ورځ ډیر غصه او ذلیل وی ځکه د الله رب العزت نعمتونه او رحمتونه نازلیږی نو مسلمانانو ورونړو ! د دغه رحمت قدر اوکړئ د بد نصیبئ په وجه بعضے خلق په دغه ورځ تصویران اوباسی او بعضے خوراکونه کوی او په هغے کښې مشغول وی بعضے چکرے وهی او دعرفات غونډئ ته خیژی د هغے دپاره کوشش کوی او حال دا دے چه هغے ته ختل نه سنت دی نه مستحب دی بلکه بدعت دے او بعضے په کښې سګریټ او چهلم سکی دا شیطانی اعمال دی او د شیطان د خوشحالولو اسباب دی۔

۶- **شپږمه مسئله** : په عرفات کښې څه معینه دعا یا ذکر نشته صرف د رسول الله ﷺ نه دا دعا نقل ده چه هغه دا دعا کوله او لاسونه ئے د سینے پورے اوچت کړی وو۔

اَللّٰهُمَّ لَكَ صَلَاتِیْ وَنُسُكِیْ وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ وَاِلَیْكَ مَآبِیْ وَلَكَ رَبِّیْ تُرَاثِیْ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَوَسْوَسَةِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الْاَمْرِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَجِیْئُ بِهِ الرِّیْحُ. (رواه الترمذی باسناد ضعیف)۔

او په روایت د طبرانی کښې دا هم راغلی دی :

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ تَسْمَعُ كَلَامِیْ وَتَرٰی مَكَانِیْ وَتَعْلَمُ سِرِّیْ وَعَلَانِیَتِیْ لَا یَخْفٰی عَلَیْكَ شَیْئٌ مِنْ اَمْرِیْ اَنَا الْبَائِسُ الْفَقِیْرُ الْمُسْتَغِیْثُ الْمُسْتَجِیْرُ وَالْوَجِلُ الْمُشْفِقُ



الْمُقِرُّ الْمُعْتَرِفُ بِذُنُوْبِیْ اَسْئَلُكَ مَسْئَلَةَ الْمِسْكِیْنِ وَاَبْتَهِلُ اِلَیْكَ ابْتِهَالَ الْمُذْنِبِ الذَّلِیْلِ وَاَدْعُوْكَ دُعَاءَ الْخَائِفِ الضَّرِیْرِ مَنْ خَضَعَتْ لَكَ رَقَبَتُهٗ وَفَاضَتْ لَكَ عَیْنَاهُ وَذَلَّ جَسَدُهٗ وَرَغِمَ اَنْفُهٗ لَكَ اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْنِیْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِیًّا وَكُنْ بِیْ رَءُوْفًا رَحِیْمًا یَا خَیْرَ الْمَسْئُوْلِیْنَ وَیَا خَیْرَ الْمُعْطِیْنَ۔

او په حدیث د مسند احمد کښې راځی چه رسول الله ﷺ به د عرفے په ورځ دا دعا وئیله :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِیَدِهِ الْخَیْرُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْئٍ قَدِیْرٌ.

او په حدیث د بیهقی کښې راځی د علی رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه دعرفے په ورځ اکثره دعا زما او د نورو پیغمبرانو دا ده :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْئٍ قَدِیْرٌ اِجْعَلْ فِیْ قَلْبِیْ نُوْرًا وَفِیْ صَدْرِیْ نُوْرًا وَفِیْ سَمْعِیْ نُوْرًا وَفِیْ بَصَرِیْ نُوْرًا اَللّٰهُمَّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ وَیَسِّرْ لِیْ اَمْرِیْ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَسَاوِسِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الْاَمْرِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا یَلِجُ فِی اللَّیْلِ وَشَرِّ مَا یَلِجُ فِی النَّهَارِ وَشَرِّ مَا تَهُبُّ بِهِ الرِّیَاحُ وَشَرِّ بَوَائِقِ الدَّهْرِ۔

(وهذه الأحادیث فی اسانیدها لین کما فی زاد المعاد ۲/ ۲۶۸)۔

۷- **مسئله** : دعرفات په سر نفلی مونځ یا د هغه قبه نه طواف کول دواړه بدعت دے۔

۸- **مسئله** : د مازیګر او د ماسپښین مونځ د حضے نه مخکښې کول بدعت دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- **مسئله** : د نمر د ډوبيدلو نه مخکښے راکوزيدل بدعت دے۔

۱۰- **مسئله** : بعضے وائی چه جمعه او عرفه دواړه جمع شی نو دا حج د دوه اويا ( ۷۲ ) حجونو سره برابر دے دا خبره باطله ده۔

۱۱- **مسئله** : عرفات ته به وختی نه ځی بلکه د زوال نه روستو به ځی ځکه نبی ﷺ د زوال نه روستو داخل شويدے۔

۱۲- **مسئله** : عرفات ته د مکے نه په يو سفر سره تلل دا بدعت دے بلکه اول به منی ته ځی هلته به شپه کوی او بيا به عرفات ته ځی۔

۱۳- **مسئله** : د حاجی دپاره روژه نيول بهتر کار نه دے ځکه هغه د فرائضو نه ضعيف کيږی او دا د جاهلو خلقو کار وی چه نفلو له زور ورکوی او فرض ترے پاتے او يا نيمګړی شی۔

**رسول** الله ﷺ په عرفات کښے ښکاره پيۓ اوسکل ددے دپاره چه امت ئے تابعداری اوکړی او خوك چه په عرفات کښے نه وی نو د عرفے د ورځے روژه ډيره بهتره ده د دوه کالو ګناهونه پرے معاف کيږی۔ (بخاری)۔

۱٤- **مسئله** : عرفات کښے که په خپو اودريږی او که په سورلۍ سوريږی دواړه جائز دی او که ستړے شوے نو کينه بيا د دعا دپاره اودريږه يا په ناسته اُوکړه ځکه چه په عرفات کښں وقوف راغلے دے او د وقوف معنیٰ ده په يو ځائے کښں پاتے کيدل او ايساريدل برابره ده که په ناسته وی او که په ولاړه او دغه شان خبره په مزدلفه کښں هم ده۔



۱۵- **مسئله** : په عرفات کښے تلبيه وئيل هم صحيح دی لکه دا د خلفاء راشدينو نه ثابته ده۔

۱۶- **مسئله** : دا خبره ياد ساتل پکار دی چه په عرفات کښے د مسجد نمره مخکښۍ د محراب حصه د عرفات په حدودو کښے نده داخله مسجد کښے د علامے دپاره شنه بلفونه لګيدلے دی نو که څوك په مسجد کښے وقوف کوی هلته حصاريږی او اخوا ميدان ته نه ورځی نو دا هم جائز ده خو دا خيال به کوی چه ددے شنو بلفونو نه شاته حصه د مسجد کښے کينی دے دپاره چه عرفات کښے داخل شی۔

## مزدلفه او د هغے متعلقات

کله چه نمر پريوزی نو د خپل ځائے نه به را روان شی۔ داسے نه ده پکار چه د مازيګر نه د عرفات دے سرته راشی او کله چه نمر پريوزی نو سمدست راوځی دا طريقه غلطه ده بلکه نبی ﷺ صحابوؓ ته فرمائيلی وو چه په آرام او وقار سره ځئ ځکه :

[ فَاِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بَالْاِيْضَاعِ ]۔

منډه وهل او جلتی کول خو نيکی نه ده بلکه په آرام او وقار سره تګ نيکی ده۔ البته که ګنړه نه وی نو تيز تلل سنت دی نبی عليه السلام به چه خلق رنګی اوليدل نو اوښه به ئے تيزه کړه۔

که په سورلۍ باندے ځی هم ټيك ده او که پياده ځی نو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح ده لیکن په سورلۍ باندے تګ غوره دے ځکه د نورو اعمالو نه به نه ستړے کیږی۔ او په لاره استغفار ډیر غواړه۔

**هرکله** چه مزدلفے ته را ورسیږی نو هلته به جمع بین الصلاتین اوکړی او په لاره به هم د ماښام مونځ نه کوی او په عرفات کښے به ئے هم نه کوی بلکه مزدلفه کښے به ئے یو ځائے اوکړی۔ اول به اذان اوکړی بیا به د ماښام مونځ درے رکعته اوکړی او سنت به نه کوی بیا به د ماسخوتن مونځ دوه رکعته اوکړی او وتر به هم کوی۔

البته که یو انسان یریږی چه مزدلفے ته به د نیمے شپے نه پس اورسیږم د ګنړے د وجے نه نو بیا ډے لاره کښے مونځ اوکړی چه مونځ ترے قضاء نشی ځکه د نیمے شپے نه اخوا مونځ قضاء دے۔ خو اکثر خلق تقریبا نهه لس یولس بجے رسی نو مونځ ورله په لاره باندے ندی کول پکار دا د سنت مخالفت دے۔

بیا به مزدلفه کښے اوده شی ځکه چه نبی ﷺ په دغه شپه کښے اوده شوے وو لیکن کوشش ډے کوی چه د سحر مونځ ترے خراب نه شی۔

که د یو انسان سره زنانه وغیره نه وی نو بهتره ده چه مشعر حرام مسجد کښے شپه اوکړی که وختی راورسی۔ هلته د ماښام او ماسخوتن کیږی هغے کښے به شریك شی او که وختی راونه رسی نو ځانله ډے اوکړی خو شپه ډے مسجد کښ اوکړی سحر مونځ وغیره کښے به ورته آسانی وی۔ دا یوه مشوره ده۔



**د بعضے** علماؤ په نزد باندے په مزدلفه کښے د سحر مونځ کولو پورے شپه تیرول واجب دی کله چه د سحر مونځ اوکړی نو دعا ګانے به غواړی – په ولاړه وی او که په ناسته – او قبلے ته ډے مخ کړی تردے پورے چه نمر ختلو ته رانزدے شی نو بیا ډے منی ته روان شی او دا د رسول الله ﷺ عمل او د هغه طریقه ده۔

خو افسوس چه اکثر خلق دا سنت پیژنی هم نه ۔ د مونځ کولو سره سمدست پاخیږی او روانیږی شیطان ورته وسوسه واچوی چه شیطانانو باندے ګنړه زیاته وی نو ځئ چه وختی ځان اورسوو۔

**او بعضے** علماء وائی: چه په مزدلفه کښے ډے نیمه شپه تیره کړه نو واجب اداء شو په تا باندے هیڅ نشته صرف د رسول الله ﷺ د عمل تابعداری درنه پاتے شوه لیکن نن صبا ډیر خلق جلتی کوی او دا واجب یا سنت پریږدی دا ډیره ناکاره خبره ده۔

بیا چه د سحر د مونځ نه روستو په مزدلفه کښے په هر ځائے کښے حصاریږی نو صحیح ده لیکن د جبل قزح سره نزدے حصاریدل مستحب دی۔

OOOOOOO

# په مزدلفه کښې بدعات

۱- اول: د مزدلفې د شپې دپاره غسل کول بدعت دے۔

۲- دویم: امام غزالی ؒ وائی: چه کله مزدلفه رانزدے شی نو د حرم د احترام دپاره به د سورلئ نه کوز شی داخبره غلطه ده ځکه محمد رسول الله ﷺ سور راغلے دے۔

۳- دریم: دغه ځائے کښې معینه دعا وئیل نشته دے۔

٤- څلورم: په مزدلفه کښې د جمراتو دپاره کانړی ټولول لازم ګنړل دا بدعت دے بلکه کوم ځائے نه چه دِے کانړی واخستل جائز دی۔ مزدلفه کښې هم راټولے شی او د منی په لاره هم۔

۵- ډیر حاجیان وغیره چه د عرفات نه راکوزیږی نو په لاره باندے د یو بل نه ګاړی مخکښې کوی او ریس لګوی دا ګمان ئے وی چه نبی علیه السلام تیز راغلے دے دا ګمان غلط دے ځکه چه نبی علیه السلام پدے مقام کښې خلقو ته د آرام او وقار سره تللو حکم کړیدے مګر که لاره کښې کولاو والے وی او خلقو ته تکلیف نه رسی نو لږ شان تیز تلل بهتر دی لیکن ددے خلقو دا کار سراسر خطاء دے ځکه پدے کار کولو سره ټول سواره خلق سره د ډرائیور نه د تلبیه وئیلو نه غافل شی۔

٦- مزدلفه کښې بعض خلق د سحر مونځ قبل الوقت کوی دا د الله په حدودو کښې تعدی او ظلم دے او قبول ندے۔



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیا به د مزدلفې** نه د نمر ختلو نه لږ غوندے مخکښې اوځی او په آرام آرام سره به څی تلبیه به وائی خو کله چه وادی محسّر (اصحاب الفیل د غرقیدو ځائے) ته اورسیږی نو لږ ساعت دِے لږ غونډے تیز لاړشی (که ممکن وی) تردے چه منی ته اورسیږی دا سنت عمل دے۔

# منیٰ او د هغې متعلقات

دا د اختر ورځ ده اول عمل به په منی کښې په اووه کانړو د جمره عقبه (یعنی جمره کبری - لوئی شیطان کوم چه حرم طرف نه اول راځی) ویشتل وی او دا د منی تحیه ده۔ طریقه د ویشتلو دا ده جمره عقبه ته به مخامخ شی او منی به خی طرفته کړی او کعبه به چپ طرفته اوګرځوی او شیطان به په اووه (۷) کانړو اولی وار په وار او د هر ځل ویشتلو سره به اَللّٰهُ اَکْبَر وائی۔ داسنت طریقه ده۔ خو کانړی به نه غټ وی او نه به ډیر واړه وی بلکه د چنړے په اندازه به وی په حدیث کښې راځی د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه د ټکری یعنی د چنړے په مقدار کانړی باندے شیطان اولئ او په دین کښې زیادت مه کوئ (نسائی)۔

دا طریقه سنت ده او د رسول الله ﷺ عمل هم په دغه طریقه وو۔ په دغه ورځ به بله جمره نه ولی صرف هم دا جمره به ولی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددے نه روستو دعا کول نشته۔ او کله چه جمره عقبه ولی نو تلبیه به ختمه کړی او کله چه منی او مزدلفے او عرفات ته ځی نو تلبیه به وائی کله چه د شیطان په ویشتلو شروع اوکړی نو تلبیه به پریږدی۔

لیکن په روایتُ د ابن خزیمه کښے راغلی دی چه تلبیه به د جمراتو په آخری کانړی ختموی۔ نو دواړه جائز دی۔

بهتره طریقه دا ده چه دا به د زوال نه مخکښے ؤلی او که د زوال نه روسته ئے اوویشتله نو هم جائز ده [حجة النبی]۔

**بیا به سر** اوخرئی ځکه سر خرئیل ډیر بهتر دی ۔ رسول الله ﷺ سر خرئیونکی ته درے ځل ( د الله د رحمت ) دعا کړیده او سر لنډونکی ته ئے یو ځل دعا کړیده۔

خو یا د ساتئ د عمرے او حج نه غیر په نورو وختونو کښے سر خرول غوره کار نهٔ دے۔ ددے د تحقیق دپاره نور ځایونه دی۔

خو یاد لره چه دا سر به هله خروی چه قربانی پرے نه وی که قربانی پرے وه لکه تمتع والا او یا قران والا باندے نو هغه به د جمره عقبه نه پس حلاله کوی او بیا به سر ګنجے کوی۔

امام ابوحنیفهؒ وائی چه د اختر د ورځے د اعمالو ترتیب پدے راتلونکے طریقه واجبُ دے [ر- ذ- ح]

(راء) کښے اشاره ده د شیطان ویشتلو ته او ( ذال ) کښے ذبح ته اشاره ده او ( حا ) کښے د سر خرئیلو ته اشاره ده۔ او نور علماء وائی چه دا ترتیب مستحب دے که چا پدے ترتیب باندے عمل اونکړو



نو هیڅ ورباندے نشته او دا خبره زیاته آسانه او غوره ده ځکه چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو نو هغه اوفرمائیل : چه په دے ترتیب پریخودلو کښے هیڅ ګناه نشته ( بخاری)۔

**او د ذبح طریقه دا ده** چه خاروے به قبلے ته مخامخ کړی او په خپل لاس دِے حلال کړی او بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُمَّ هٰذَا مِنْكَ وَلَكَ، اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّیْ — دِے اووائی او که بل څوک نائب کړی نو هم صحیح ده۔

## د جمرے په ویشتلو
## او ذبح کښې بدعات

۱- اول : کانړی وینځل بدعت دے۔

۲- دویم : غسل کول د جمراتو ویشتلو دپاره بدعت دے۔

۳- دریم : د جمراتو د ویشتلو په وخت کښے د الله اکبر — په ځائے باندے سُبْحَانَ اللهِ — وئیل بدعت دے۔

٤- څلورم : خاص طریقے سره ویشتل لکه بعضے وائی چه د غټے ګوتے په سر به کانړے کیدی او ولی به ئے دا غلطه خبره ده۔ احادیثو کښے ویشتل راغلی دی څه رنګ چه دِے خوښ وی څه معینه طریقه ورله نشته دے۔

٥- پنځم : بعضے خلق وائی چه په مینځ د شیطان یعنی جمره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې او په مینځ د ویشتونکی کښې به پنځه گزه فاصله وی داخبره غلطه ده بلکه د کوم مقدار نه چه کانړے ور رسیږی د هغے نه ډیے ویشتل کوی۔

٦- شپږم: بعضے خلق په چپړو غټو کانړو جمره ولی دا بدعت دے او د محمد ﷺ نه مخالفت دے په دے باندے شیطان خوشحالیږی۔ بلکه صرف او صرف په کانړو به ئے اوولی۔ نه بل شے۔

٧- اوم: بعضے خلق وائی چه ذبحه څه له کوم هسے به ضائعه لاړه شی دا مال به مسکین ته ورکړم داخبره بالکل خطا ده ځکه مقصد د الله په نوم ذبح کول دی او د الله لوئي وئیل دی او په وینه تویولو کښې د الله عبادت دے لکه حدیث کښې راغی بهترین حج هغه دے چه تلبیه په کښې زیاته اووئیلے شی او وینه پکښې زیاته توئے کړے شی۔ لیکن که کوم سړے شرکه الراجحی ته روپئ ورکړی چه دده دپاره ذبحه اوکړی نو بیا هم جائز ده۔

٨- اتم: د تمتع هدی د اختر د ورځے نه مخکښې ذبحه کول غلطه ده۔

٩- نهم: د جمراتو په خوا کښې چه کوم مساجد دی هغے ته تلل د عبادت په نیت بدعت دے۔

١٠- لسم: کوم حاجیان چه په منی کښې وی په هغوی داختر مونځ نشته۔

١١- بعض خلق دا عقیده لری چه پدے جمراتو کښې شیطان دے نو مونږ شیطان اوولو او حال دا چه دا خطائی او جهالت دے



ځکه دلته شیطان نشته لیکن مونږ چه دا ویشتل کوو نو دا اقتداء د نبی علیه السلام ده او د الله تعالی حکم دے او د ابراهیم علیه السلام تابعداری ده، او پدے باندے شیطان ته ضرر رسیږی چه د پیغمبر تابعداری اوشی ورنه دلته شیطان نشته۔ صرف دلته ابراهیم علیه السلام ته شیطان راښکاره شوے وو هغه پرے گوزار کړے وو او شیطان په زمکه کښې ښخ شوے وو دا کار درے کرته شوے وو لکه په صحیح سند سره د ابن عباسؓ نه امام حاکمؒ په مستدرك کښې دا روایت راوړیدے۔

نو الله تعالی مونږ باندے دا مقرر کړل چه تاسو هم دغه ځائے ولیٔ دا به داسے وی لکه شیطان ویشتل نو ځوك چه د پیغمبر د تابعداریٔ نه خلاف کوی او په غټ غټ کانړو یا څپلو وغیره ئے اوولی نو پدے باندے شیطان خوشحالیږی ځکه چه پدے کښې د پیغمبر مخالفت دے۔

## بیا چه سر اوخروی نو جامے به واغوندی او طواف زیارت دپاره به لاړ شی

او دا طواف فرض دے په هر حاجی صاحب باندے خو که مخکښې د زوال نه لاړ شی او طواف اوکړی نو زیاته ښه ده او که پس د زوال نه ځی بیت الله ته نو هم ټیك ده لیکن نبی ﷺ د ماسپښین مونځ په یو روایت کښې واپس منی ته ورے دے نو ددے عمل تابعداری کول بهتر دی او که پس د ماسپښین نه لاړ شی نو هم جائز ده لیکن شپه به ضرور منی ته اوړی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِنیٰ تـه شپـه ورځ د بعض علماؤ په نیز سنت دی او نور امامان وائی چـه واجب دی۔ او مکـه کښې بـه ددے ورځې تکبیرات نهٔ هیروی کوم چه د مونځونو نه روستو وئیلے شی :

اَللّٰهُ اَکۡبَرُ اَللّٰهُ اَکۡبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکۡبَرُ ، اَللّٰهُ اَکۡبَرُ وَلِلّٰهِ الۡحَمۡدُ.

او کـه دا طواف صبا تـه پریږدی نو هم صحیح ده تر درے ورځو پورے روستـه کـول جائز دی بلکه د ذی الحجے میاشتے آخر پورے ئے کولے شی۔

**مهمه مسئله** : د اختـر په ورځ که د چا نه طواف فوت، اُوشو نـو دا چـه بیـا طـواف کـوی نو شرط دا دے چه دوباره د احرام کپړے اچوی او په هغې کښې به طواف کوی، خپلو کنډلے شوو کپړو کښې بـه طـواف نهٔ کوی او پدے باره کښې صحیح ابوداود او معانی الآثار کښې احادیث منقول دی۔ دا مسئله ډیرو مولیانو ته نده معلومه نوځکه به ئے تکذیب کوی۔

## ددے طواف نه روستو سعی شته او که نه ؟

نـو کـه کـوم سړے تـمتع والا وی یعنی د حج په میاشتو کښې ئے عـمره کړے وی او بیـا ئے ځان حـلال کړے وی نو کله چه د طواف زیارت نـه فارغ شی نو ضرور به سعی کوی۔ دے خبره باندے دلیل حدیث د عائشه رضی الله عنها دے چه (بخاری او مسلم) راوړیدے او ددے مسئلے زیات تحقیق علامه ناصر الدین البانیؒ کړیدے د خپلے رسالے په تعلیق کښې ( حجة النبی ) د هغې نوم دے۔

او هغـه سړے چه عمره ئے نه وی کړې صرف د حج اراده ئے کړے



وی هغه به هم سعی کوی ځکه قرآن فرمائی :

﴿ فَمَنۡ حَجَّ الۡبَیۡتَ اَوِ اعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَیۡهِ اَنۡ یَّطَّوَّفَ بِهِمَا ﴾ ۔

لیـکـن ډیـر حـاجیـان نـن صبـا حج تمتع کوی ځـکـه د حج په میاشتـو کـښې لاړ شی او عمره اوکړی او بیا منتظر د حج وی نو په ده باندے دوه سعی دی یو په عمره کښې او بله په حج کښې۔ او هرچه قارن دے یعنی هغه کس چه حج او عمره ئے جمع کړے وی او هدیـه ئے د ځان سره بوتلی وی نو په هغه یوه سعی ده که په عمره کښې ئے اوکړه نو په حج کښې به ئے نه کوی او که په عمره کښې ئے اونکړه نو په حج کښې به ئے ضرور کوی۔ [ زاد المعاد ۱/۲۳۰ ]۔

**فائده** : کـوم سړے چه په رمضان کښې عمره اوکړی او بیا حج تـه پاتے شی او د حج پـه میاشتو کښې عمره اونکړی نو دے سړی بانـدے هم د طـواف فرض ( افاضه ) نه بعد سعی شته۔ دا سړے د مکے والو نه حساب دے،حاجی مُفرِد دے۔

## هر کله چه منی ته واپس لاړ شی :

نـو صبا له به د زوال نه پس شیطان ولی۔ د اختر په ورځ کښې به ئے د زوال نه مخکښې ولی او په دے نورو ورځو کښې به ئے د زوال نه روستـو ولـی د ماسپښین د مونځ نه مخکښې شو او که روستو نو هم جائـز دی ( لیکن ښه دا ده چه په مسجد الخیف کښې د جَمعے سره مـونـځ اوکړی ځکه هلته په اول وقت کښې مونځ کیږی او بیا جـمراتو ته متوجه شی) لیکن منی کښې اکثر خلق وخت په عبثو کښې تیـروی بعـضے پـکښې چکر وهی او بعـضے خلق پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګانې کوي او بعضې پکښې غارِ حراء ته او څوك غار ثور ته ځي ددې غارونو متعلق مسئله به روستو راشي.

او بعضې خلق نور نور کارونه کوي او حال دا دې چه قرآن کريم پدې ورځو کښې د ذکرالهي ډير ترغيب ورکړيدې لکه فرمائي :

﴿ وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَى وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾.

ترجمه : ياد کړئ الله تعالى په هغه ورځو شمار کړې شوو کښې (چه هغه د منى ورځې دى) پس که چا تلوار اوکړلو او دوه ورځې ئې منى کښې تيرې کړې (او آخرى ورځ ته پاتې نشو) نو هيڅ ګناه پرې نشته او که درې ورځو ته پاتې شو نو هم صحيح ده. (اجر پکښې ډير دې، نبى عليه السلام پاتې شويدې).

د ډيرې بد نصيبئ په وجه مونږ خلق د الله تعالى د ذکر نه او دارنګ د عبادت نه غافل يو هغه ذات چه د هغه بندګي محبت په مونږ فرض دې. الله رب العزت دې زمونږ په حال رحم اوکړي.

نو پدې ورځو د منى کښې به د الله تعالى ذکر او نوافل او صدقه او په مسلمانانو سلام اچول او هغوى خوشحاله کول او کولاو تندى سره ملاويدلو او دعوت الى الله کښې مشغول وى او مونځونه دې په مسجد الخيف کښې کوى ځکه دا هغه غوره مسجد دې چه نبى عليه السلام فرمائي : پدې مسجد کښې اوويا (۷۰) پيغمبرانو مونځ کړيدې . (مناسك الحج للالبانى).

**کله چه د اختر په دويمه ورځ د جمرات د ويشتلو** اراده



ئې وى نو د زوال نه پس به ئې ولى او سنت دا ده چه پيدل ئې اوولى او درې واړه جمرات به ولى په وړې به شروع کوى او په غټې جمرې يعنى شيطان به ئې ختموى وړه جمره منى ته نزدې ده (يعنى مسجد الخيف نه چه روان شې نو مخې ته وړه جمره بيا جمره وسطى بيا کبرى راځي) او غټه جمره کعبې ته نزدې ده کله چه وړه جمره ولى نو دعا کولو دپاره به چپ طرف ته واوړى د خلقو نه به جدا شى او قبلې ته به مخ کړى او لاسونه به اوچت کړى او دومره ساعت به دعا غواړى لکه د سورت بقره په لوستلو چه څومره ساعت تيريږى چه تقريبا دوه نيمې سپارې ده.

**بيا به دويمه** (مينځنئ) جمره اوولى په مخکنئ طريقې سره خو دعا دپاره به خى طرفته راواوړى د خلقو نه به جدا شى او د سورت بقرې په مقدار دعا غواړى او بيا به جمره عقبه ولى اود دعا دپاره به نه اودريږى.

(پدې دويمه ورځ نور کارونه د حج متعلق نشته).

**بيا صبا له** (۱۲ - دولسمه ورځ) به هم د زوال نه روستو درې واړه جمرات ولى په هم دغه طريقې سره چه اول به جمره صغرى بيا وسطى بيا کبرى اوولى اود اولنو دوه جمراتو نه روستو به اوږدې دعاء ته اودريږى، لکه چه مخکښې بيان شو.

ددې ورځې نه روستو که ستا جلتي وى او صبا (ديارلسمې ورځې) ته نئ ايساريږې نو دا ياد ساته چه د نمر پريوتو نه مخکښې مخکښې به ځان د منى نه اوباسې که نمر د باندې پريوتو نو بيا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا جمراتو ته ایساریږې تر ماسپښین پورې - او دیارلسمې ورځې ته پاتې کیدل غوره دي یو خو نبی علیه السلام پاتې شویدې

دویم : د رمی فضیلت به درته حاصل شي- او که تللې نو هم اجازه ده- لیکن دا درېمې ورځې د منی د اختر د ورځونه سوا دي-

اوس بعضې ځایونه او وختونه د دعا د قبلیدلو ذکر کوم، کوم چه په احادیثو کښې راغلي دي-

## د دعا د قبلیدو ځایونه او وختونه

۱- اول ځائے د دعا د قبلیدلو د **صفا** غونډئ ده په حج یا په عمره کښې- ۲- دویم : په مروه باندې په حج یا په عمره کښې-

۳- دریم : د زوال نه روسته تر ماښامه پورې په عرفات کښې د عرفې په ورځ چه لاسونه به ئې اوچت کړي وي-

٤- څلورم : په مزدلفه کښې پس د صبا د مونځ نه او مخکښې د نمر ختلو نه-

٥- پنځم د اولې جمرې او دویمې جمرې سره د اختر په صبا اول صبا له او لا بل صبا له د زوال نه روستو- دا هغه ځایونه دي چه رسول الله ﷺ پکښې دعاګانې غوښتې دي په حج او عمره کښې نو د رسول الله ﷺ د اتباع په وجه به الله ستا دعا هم قبلوی ان شاء الله العزیز-



۷- اووم : په ملتزم کښې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : چه دا ځائے ( ملتزم ) د دعا د قبلیدو د پار مجرّب دے کما فی ( اَلْقِرٰی لِقَاصِدِ اُمِّ القُرٰی ۱/۳۱۰) او زه وایم چه دا خبره بالکل مجربه ده او رسول الله ﷺ هم په ملتزم کښې سره د صحابو نه دعا غوښتلې ده لکه دا حدیث ابوداود ذکر کړیدے-

۸- اتم : د اذان او اقامت په مینځ کښې دعا نه رد کیږی لکه حدیث کښې راغلی دی-

۹- نهم : د اذان په وخت کښې هم دعا ضرور قبلیږی-

۱۰- د ماښام په وخت کښې دعا قبلیږی او پدے دعا سره امر راغلی دے- [مشکاة] -

۱۱- کله چه د مونځ صف اودریږی-

۱۲- د فرض مونځ نه روستو-

۱۳- د تهجدو په وخت کښې دعا ښه قبلیږی -

۱٤- د روژه دار دعا ښه قبلیږی-

۱۵- د مسافر دعا ښه قبلیږی-

۱٦- د پلار دعا د بچو دپاره ښه قبلیږی-

۱۷- د غائب سړی دعا د بل غائب سړی دپاره ښه قبلیږی-

۱۸- د مظلوم دعا ښه قبلیږی - دا ټول په احادیثو کښې راغلی دی ما د اختصار په طریقه ذکر کړل علماؤ ته دا حدیثو نه معلوم دی- لیکن د دعاء دپاره شرطونه دی-

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دعا د قبليدو شرطونه

۱ - اول : دعا کونکے به يقين لرى چه زما دعا قبليږى۔

۲ - دويم : ددروغو نه ځان ساتل۔

۳ - دريم : د حرام خورئ نه ځان ساتل۔

٤ - څلورم : جلتى نۀ کول۔

٥ - : درود شريف وئيل او بيا د الله تعالىٰ حمد او ثنا وئيل او بيا حاجت غوښتل په هغه الفاظو سره خصوصاً ښه قبليږى کوم چه په احاديثو کښې نقل شويدى۔

٦ - او ضرورى شرط دا دے چه سړے په کښې اعتداء اُونکړى، د زوره دعا اُونکړى په پټه ئے اُوکړى او ښۀ په عاجزئ سره ئے اُوکړى او د الله تعالىٰ نه سوا د بل چا نه ئے اونه غواړى۔

ليکن ددے سره په مسجد خيف کښې د امام سره مونځونه کول دا بهتر عمل دے او منى کښې به مسافرانه مونځ کولے شى اګر که په مکه مکرمه کښې اوسيږى ۔ دا د محمد ﷺ طريقه ده او د ابوبکر صديق او عمر فاروق – رضى الله عنهم – طريقه ده۔

OOOOOOO



## د حج نه واپسى

بيا چه کله د منى نه فارغ شو نو سمدست به کور او خپل ملك ته نه ځى بلکه ضرور به بيت الله ته راځى او طوافِ صدر ( چه وداع او رخصت ورته هم وائى) به کوى او دا طواف وَاجب دے په هر حاجى صاحب باندے چه کله د مکے مکرمے نه رخصتيږى نو ضرور به دا طواف کوى او که په مکه کښې اوسيږى نو بيا پرے دا طواف نشته ليکن که څوك د يو څو ورځو دپاره مقيم وو په مکه کښې نو کله چه تللو د هغه ځائے نه نو دا طواف به اوکړى او دا طواف په حائضه او نفاسه ښځه باندے نشته کله چه په وخت د تلو کښې پرے دا مرض راغلے وى او که د طواف نه بعد ملتزم ته لاړو او ځان دپاره ( اومونږ او ټول امتِ مسلمه دپاره) ئے دعا اوکړه نو زياته غوره ده۔

عبد الله بن عباس – رضى الله عنهما – به دلته دا دعا کوله :

اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ اَمَتِكَ حَمَلْتَنِىْ عَلٰى مَا سَخَّرْتَ لِىْ مِنْ خَلْقِكَ وَسَيَّرْتَنِىْ فِىْ بِلَادِكَ حَتّٰى بَلَّغْتَنِىْ بِنِعْمَتِكَ اِلٰى بَيْتِكَ وَاَعَنْتَنِىْ عَلٰى اَدَاءِ نُسُكِىْ فَاِنْ كُنْتَ رَضِيْتَ عَنِّىْ فَازْدَدْ عَنِّىْ رِضًا وَاِلَّا فَمِنَ الْآنَ فَارْضَ عَنِّىْ قَبْلَ اَنْ تَنْاٰى عَنْ بَيْتِكَ دَارِىْ فَهٰذَا اَوَانُ انْصِرَافِىْ اِنْ اَذِنْتَ لِىْ غَيْرَ مُسْتَبْدِلٍ بِكَ وَلَا بِبَيْتِكَ وَلَا رَاغِبٌ عَنْكَ وَلَا عَنْ بَيْتِكَ اَللّٰهُمَّ فَاصْحَبْنِىْ الْعَافِيَةَ فِىْ بَدَنِىْ وَالصِّحَّةَ فِىْ جِسْمِىْ وَالْعِصْمَةَ فِىْ دِيْنِىْ وَاَحْسِنْ مُنْقَلَبِىْ وَارْزُقْنِىْ طَاعَتَكَ مَا اَبْقَيْتَنِىْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَاجْمَعْ لِيْ بَيْنَ خَيْرَيِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْر.

( موطأ مالك ١/٤٢٤) رقم (٩٥١) البيهقي في الكبرى (٥/١٦٤) رقم (٩٥٤٨)

**بیا چه کله د بیت** الله نه اوځی نو په شا باندے به نه اوځی بلکه صحیح په مخه باندے به اوځی او بیت الله ته شا اړول په مزل کښے څه ګناه نه لري او نه بے ادبی ده ځکه د رسول الله ﷺ نه زیات دابناك څوك نشته او هغه په شا نه دے تلے نو بل څوك دے چه د هغه نه اوچت شی ؟

او که د ځان سره د زمزم اوبه راوړی نو دا سنت طریقه ده لکه په اخبار مکه د فاکهی او الدین الخالص (۱۰) کښ ئے کتلے شئ۔

او د علماؤ نه سلفاً او خلفاً همدا طریقه نقل ده چه هغوی به د ځان سره د زمزم اُوبه راوړلے لیکن کجورو کښے څه فضیلت، نشته د هغے راوړل څه ضروری نه دی او نه مستحب دی البته د عجوه کجورو فضیلت راغلے دے چه څوك صبا کښے اووه دانے د عجوه کجورے اوخوری نو په دغه ورځ به ورته نه سِحر رسیږی او نه به ورته څه زهر تکلیف رسولے شی۔ (بخاری)۔

او همدارنګه که د ځان سره څه هدیه د کور، ماشومانو دپاره راوړی نو جائز دی بلکه بهتر دی لیکن د لوبو سامانونه یا ریډیو، ټی وی، وی سی آر – یا نور داسے سامان چه په دین کښے ئے ضرر وی د هغے راوړل حرام دی حاجی به په ځان کښے تقویٰ پیدا کوی پس د حج کولو نه۔

حاجیانو له دانه دی پکار چه امیلونه واچوی ځکه دا تکبر دے



او بل دا چه څه پته لګی چه حج ئے قبول شویدے او که نه دے قبول شوے۔ ځکه قرآن کریم فرمائی : چه مومنان هغه کسان دی چه کله څه نیکی اوکړی نو بیا هم یریږی چه شاید چه په دربار الهی کښے به قبوله نشی ځان عاجز، کمزورے ګنړی او په خپل عمل تکبر نه کوی۔

**دغه شان** کله چه خپل کلی ته اورسیږی نو اول دے مسجد ته لاړ شی او دا هم ضروری ده چه د شپے ناوخته دے خپل کور ته نه راځی۔ دا خلافِ سنت طریقه ده چه انسان په سفر کښے ډیره موده تیره کړی او بیا ناوخته د شپے کورته راځی۔ نو بیا به مسجد کښے دوه رکعته مونځ اوکړی او مسجد کښے به کینی د کلی حال احوال به واخلی بیا به کورته داخل شی او که څوك دده نه دعا غواړی نو پکار ده چه دعا ورته اوکړی ځکه د حاجی دعا ښه قبلیږی او خاصکر هغه وخت چه کورته نه وی داخل شوے۔

او ددے سره دا **خبره** یاد ساته ! چه دا ډیره بے وفائی ده چه یو انسان حج اوکړی او بیا د حج تکلیفونه او مشقتونه په هر مجلس کښے ذکر کوی چه مونږ باندے داسے داسے تکلیفونه د الله په لاره کښے تیر شو دا د ایمان کمزورتیا ته او د عمل بوج ګنړلو ته اشاره ده بلکه هر کله چه تا عمل د الله دپاره اوکړو او د آخرت اراده دے وی نو مخلوق ته د الله د عبادت تکلیف مه ذکر کوه دا د محبت او بندګئ سره مناسب خبره نه ده۔ الله دے زمونږ او ستاسو عملو نه په خپل دربار کښے قبول کړی۔ آمین۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حج نه واپسۍ کښې بدعات

۱-بعضے خلق د ځان سره دومره سامان راوړی چه اسراف اوشی

۲- اکثر حاجیان ځان ته سیرے او امیلونه اچول خوبن گنړی دا بدعت دے۔

۳- د حاج لفظ وئیل هم بدعت دے ځکه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ټولو حج کړے وو او یو بل ته ئے حاجی، یا الحاج یا المعتمر- نه وو وئیلے بلکه خپل نوم به ئے اخستلو- نو دا به لقب نه گرځوی۔

٤- خیرات کول- دا یاد اوله ! چه نبی ﷺ به چه کله د سفر نه واپس شو نو څه خیرات به ئے کولو دا د حج د سفر پورے خاص نه دے بلکه هر سفر چه وی (بخاری) لیکن نن صبا خلقو خیرات فرض گرځولے دے که وئے نکړی نو خلق ورپورے خاندی او بعضے د تکبر په وجه ډیر مالونه (جانور) حلالوی۔

د حج نه په هغه خیرات خرچه ډیره اوشی داطریقه اوس نن صبا رواج گرزیدلے دے نو ددے رسم او رواج د ختمولو دپاره دا خیرات کول ندی پکار بلکه مسجد ډے پرے جوړ کړی مدرسه کښې ډے ورکړی طلباء او علماؤ ته ډے ورکړی خپلوانو، مسکینانو ته ډے ورکړی، علماؤ له ډے پرے کتابونه واخلی یا نور د دین کارونه ډے پرے اوکړی، مجاهد، مبلغ ته ډے ورکړی پدے کارونو کښې ئے نوم



نه کیږی او جنت ورته ملاویږی او په هغه خیرات کښې به نوم اوشی په ظاهر کښې لیکن د الله په غضب به اخته شی او بل دا چه خلق به حج ته نه ځی ځکه د خیرات پیسے به ورسره نه وی نو د حج نه به ددے رسم او رواج په سبب باندے پاتے شی - والله الموفق۔

بیا به حاجی صاحب د نیکۍ کوشش کوی او دنیا سره به تعلق کموی او آخرت سره به تعلق جوړوی نو هله به کامیاب شی - والله المستعان وهو نعم المعین۔

OOOOOOOO

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورم باب

## د حج بعضې مسائل

۱- **مسئله** : کوم سړے چه حج تمتع اوکړی او همدا حج ضروری دے او بیا د اختر په ورځ هدیه نه مومی ځکه فقیروی مال ورسره کم وی نو دا چه کله خپل ملك ته واپس شی نو لس روژے به نیسی درے به مخکښې د حج نه او اووه (۷) به روستو د حج نه نیسی کله چه فارغ شی د احکامو د حج نه او وطن ته راشی۔

۲- **مسئله** :

اضحیه یعنی د اختر قربانی دا په مسافر سړی نشته که حاجی وی او که غیر حاجی وی لیکن کوم کس چه قِران یا حج تمتع کړے وی نو په هغه هدیه لازمه ده ضرور به هغه ذبحه کوی او که نه وی نو لس روژے ډِے اونیسی لکه مخکښې بیان شول۔

۳- **مسئله** : چه کله ذبح د حیوان کوی نو قبلے ته ډِے متوجه کوی او بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَاِلَيْكَ اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّیْ کَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ اِبْرَاهِیْمَ خَلِیْلِكَ دا ډِے اووائی، او که اوښ ذبح کوی نو په ولاړه ئے ذبح کول یکار دی او که غوا، ګډ ذبح کوی نو په چپ طرف باندے به ئے څملوی۔

۴- **مسئله** : د شیطان په ویشتلو کښے بے ضرورته بل څوك



نائب کول ندی جائز لکه بعضے خلق خپلو زنانو له شیطان ولی یا بعضے خلق هسے جلتی کوی بلکه که انسان سخت بیمار وی چه طاقت نه لری نو بیا بل څوك نائب کولے شی۔

۵- **مسئله** : کله چه انسان د شپے په مزدلفه کښے وی نو د صبا د آذان نه مخکښې ماشومان او زنانه منی ته لیږلے شی چه شیطان ولی په غیر د ګڼړے د خلقو نه چه تکلیف ورته نه وی۔ او کوم سړے چه د هغوئ سره ځی نو هغه هم په دے حکم کښے داخل دے۔

۶- **مسئله** : کله چه انسان د اختر په ورځ شیطان ولی او قربانی اوکړی او سر اوخروی نو دا حلال شو احرام ډِے لرے کړی هر هغه څه ورلره جائز شو چه په احرام سره پرے حرام شوی وو لکه عطر لګول، نوکونه پرے کول وغیره شو لیکن خپلے زنانه ته به نه نزدے کیږی ترڅو پورے چه طواف زیارت ئے نه وی کړے او کله چه طواف زیارت اوکړی نو بیا پوره حلال شو خپله بی بی ورته هم حلاله شوه۔

۷- **مسئله** : زنانه به پس د عمرے او حج یعنی د شیطان د ویشتلو نه او د قربانئ کولو نه روستو که چرته پرے لازمه وه نو سر به نه خروی ځکه ښځے دپاره سر خرئیل حرام دی لکه سړی له ګیره خرئیل حرام دی او د بعضے حاجیانو ګیرے په حج کښے ښے راغلے شی لیکن د بد نصیبئ په وجه بیائے د اختر په ورځ د ښځو سره مشابه کړے وی دا دے عظیم جرم نه مسلمانانو ځان اوساتئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو دوستانو ته ترغيب ورکړئ نو الله به ستا سو دپاره اجر عظيم اوليکی ان شاء الله تعالی۔

او ښځه به د گوتو د سرونو په اندازه يا ددے نه کم سر لنډوی يعنے د ويښتو بعضے سرونه به واخلی۔ او سړے هم قصر کولے شی خو مره ويښته چه اخلی ليکن يو يا دوه ويښته پريکول قصر نه دے ځکه د قصر تعريف مخکښے بيان شويدے مخکښے صفحو کښے ئے اوگوره۔

۸-**مسئله**: د شيطان ويشتو کښې هغه نيغ ديوال ويشتل ضروری نه دی بلکه هغه جور ځائے ته کانړے ورغورځول ضروری دی کما فی حجة النبی۔

۹- **مسئله** : محرم سړے به د احرام په حالت کښے نه نکاح کوی او نه به خوك په نکاح ورکوی۔

۱۰- مسئله : محرم سړے سر وينځلے شی۔

۱۱- مسئله : محرم دوائی هم کولے شی۔

۱۲- **مسئله** : محرم سړے په موټر جهاز وغيره کښے کيناستلے شی او پدے سره دده سر نه پټيږی۔

۱۳- **مسئله** : که د محرم سړی په سر کښے څه تکليف وی او وے خروی نو بيا به کفاره کښے يو گډ ورکوی يا به شپږ مسکينانو ته طعام ورکوی نيم اوگے (يعنی تقريباً پاؤباندے يو کيلو)۔ يا ډے درے روژے اُونيسی۔

-- **مسئله** : که داسے تيل وی چه بالکل پکښے خوشبوئی



نه وی نو محرم سړے ئے لگولے شی او جائز دی۔ (ترمذی)۔

۱۵- **مسئله** : محرم سړے د اوچے ښکار نشی کولے او که بل چا دده دپاره کړے وی دده په اشاره يا دلالت سره هم نه به ئے خوری۔

۱۶- **مسئله** : د درياب حيوانات محرم نه ښکار کول جائز دی او ملخ ورله هم جائز دے ځکه دا دريابی حسابيږی۔ [ابوداود]۔

۱۷- **مسئله** : کوم سړی نه چه دعرفے ورځ لاړه شی او عرفات ته او نه رسيږی نو د اختر شپے ته ډے ځان عرفات ته ورسوی۔

د صبا د راختونه مخکښے او که د اختر صبا راوختلو او دا عرفات ته نه وی تلے نو دده نه حج فوت شو او راتلونکی کال نه به بيا حج کوی۔

۱۸- **مسئله** : په منی کښے د اختر د ورځے نه پس شپے تيرول ضروری دی۔ که څه سخت ضرورت نه وی نو انسان ډے هلته ضرور شپه کوی۔ منی کښے د اختر د ورځے نه پس يوه شپه، دوه شپے کول ضروری دی او که دريمه کوی نو هم هغه ته اختيار دے۔

۱۹- **مسئله** : د خپلے قربانئ نه خوړل بهتر دی ليکن که جنايت ئے کړے وی او د هغے قربانی وی نو بيا به ئے نه خوری صرف مسکينان به ئے خوری۔

۲۰- **مسئله** : مسجد حرام ته بلکه هر مسجد ته د خپلو سره ننوتل جائز دی کله چه څه ظاهری گندگی ورباندے نه وی په ډيرو احاديثو کښې راغلی دی۔ او دے مسئلے ته ځکه ضرورت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کوم انسان ډیر طوافونه کوی نو د هغه ښپے خوګیږی نو بیا لرے ورځے پس هغه طواف نه شی کولے لکه دا تجربه تاسو اوکړئ نو که څوك چپل وغیره د طواف دپاره په خپو کړی نو بالکل جائز دی۔ جاهل سړے به تا منعه کوی۔

**ما یو** سړے اولیدلو چه هغه د چپلو سره طواف کولو نو بعضو جاهلانو منع کولو نو ما ورته اوویل چه دا خو د رسول الله ﷺ نه ګڼړو احادیثو کښے ثابت دی زمونږ دین آسان دے د یهودیانو د دین په شان نه دے۔ بلکه طواف په سورلئ سره هم ثابت دے او همدارنګه نبی ﷺ سعی په صفا مروه کښے په اوښ باندے کړے وه، نو مسلمانانو د خپل دین نه ځان خبر کړئ!۔

۲۱- **مسئله** : عمره او حج دواړو کښے رمل یعنے پهلوانئ سره تلل شته که څوك عمره کوی نو هم په اولنو درے ګردشونو کښے به پهلوانی کوی او که څوك حج کوی نو هم دا رمل پهلوانی به کوی دا سنت طریقه ده په شرط د طاقت باندے یعنے چه طاقت ئے رسیږی نو کوی به ئے۔ (بخاری)۔

۲۲- **مسئله** : کوم سړی چه خپله بی بی خکل یا مسه کړه نو په هغه باندے توبه ویستل واجب دی باقی دم یا فدیه پرے نشته او چا چه پرے دم واجب کړیدے د هغوی سره هیڅ دلیل نشته۔ اُوګوره (فقه عطاء/۳۲٤)۔

۲۳- **مسئله** : خپلو سره احرام تړل صحیح دی څه ممانعت پکښ نشته لیکن د خپو ظاهر طرف ښکاره کول پکار دی۔



۲٤- **مسئله** : په سر باندے په حالت د احرام کښے توکرئ یا څه پنډ وغیره کیخودل جائز دی او سر په توپئ یا په څادر باندے پټول ندی جائز۔

## د احرام او میقات مسائل

۱- اول: په حج کښے ډیر فرائض دی - یو پکښے احرام دے او احرام عبارت دے د نیت کولو نه، لیکن نیت سره تلبیه یو ځائے کول هم پکار دی دارنګه ګنډلے شوے جامے لرے کول پکار دی نو بیا به دا محرم اوګرځی او نیت د زړه سره تعلق لری په ژبه ئے وئیل ندی ثابت۔

۲- دویم: د یو سړی احرام د دوه حجونو یا د دوه عمرو نه نه صحیح کیږی بلکه په یو احرام یو حج او یوه عمره ادا کیږی۔

۳- دریم: د احرام نه پس دوه رکعاته کول اکثر علماء ئے مستحب نه ګڼړی که چا اونکړل نو څه حرج ورباندے نشته ځکه صحیح حدیث کښے چرته دا دوه رکعاته ندی ثابت او کوم علماء چه په یو مجمل حدیث باندے استدلال کوی چه هغه دا دے:

أَتَانِي آتٍ مِنْ رَبِّي فَقَالَ صَلِّ فِي هٰذَا الْوَادِي الْمُبَارَكِ وَقُلْ عُمْرَةٌ وَحَجَّةٌ۔

[ اخرجه الشيخان]۔

نو ددے نه فرض مونځ هم مراد کیدے شی او نفل هم مراد کیدے شی۔ بلکه دا چه دا مونځ ددے ځائے ( ذو الحلیفه ) شخصی فضیلت دے ددے ځائے پورے خاص دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤- څلورم : د ميقات نه مخکښے احرام تړل په غير د ضرورت نه بدعت دے ځکه رسول الله ﷺ د ميقات نه مخکښے احرام نه دے تړلے البته که جامه مخکښے واچوی نو دا به جائز وی خو نيت د احرام يعنی تلبيه د ميقات نه کوی۔ او امام مالکؒ يو سړی ته دا اووئيل : هغه مدينے نه احرام تړلے وو چه تا بدعت اوکړلو۔

٥- پنځم : پاکستانے يا افغانستانے سړے د جدے نه احرام نشی تړلے يعنی يو سړے چه په هوائی جهاز کښے لاړ شی او بيا په جده کښے احرام تړی نو دا صحيح نه ده بلکه د اکثرو علماؤ په نزد باندے په ده باندے دم واجب شو ځکه جده د ميقاتونو نه دننه ده حرم شريف ته نزدے ده ليکن جدے والا او څوك چه جده کښ کار کسب کوی نو هغوی به احرام د حج او عمرے هم د دغه ځائے نه تړی هغوی دپاره ميقات ته تلل نشته ځکه رسول الله ﷺ فرمائی : څوك چه د ميقات نه دننه اوسيږی هغوی به احرام د خپل کور نه تړی (بخاری، مسلم)۔

٦- شپږم : څوك چه حرم ته د حج، يا عمرے دپاره نه ځی صرف د کار کسب يا د ملاقات وغيره دپاره ځی نو په ده باندے احرام تړل نشته ځکه رسول الله ﷺ فرمائی : لمن اراد الحج والعمره - يعنے احرام تړل د هغه چا دپاره دی چه د حج او عمرے اراده لری۔ (بخاری، مسلم)۔

نبی ﷺ د فتح مکه په ورځ ( بغير د احرام نه )حرم ته د وسلے سره ننوتلے وو- وَعَلٰى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ ۔



٧- اووم : څوك چه مکه کښ اوسيږی يا هلته د عمرے دپاره تلے وی ديره وی نو هغوی به د خپل کور نه احرام تړی مسجد حرام ته د احرام تړلو دپاره تلل ضروری نه دی او نه څه مستحب دی بلکه صحابه کرامو د نبی ﷺ سره د مکے مکرمے د يو خوړ نه چه ابطح ورته وائی- احرام تړلے وو۔

٨- اتم : د زنانو دپاره د احرام څه خاصه جامه نشته بلکه هغه به په خپلو جامو کښ احرام اوتړی مگر دومره ده چه دستانے به نه اچوی او پرده به هم په مخ نه اچوی ليکن که ځوانه زنانه وی او د فتنے يره وی نو بيا به په مخ باندے لوپټه وغيره اچولے شی او د بره طرفنه دے را واچوی د مخ نه جدا کول ئے ضروری نه دی ځکه د نبی ﷺ بيبيانو به په احرام کښ مخونه ښکاره کول کله چه به ئے څوك مخے له ورغلل نو مخونه به ئے پټ کړل۔

[مسند احمد، ابوداود، ابن ماجه، الحاکم، مشکاة، فتاوی ابن تيميه ۲۶/ ۱۱۲]۔

٩- نهم : د احرام دپاره څه خاصه طريقه په جامو اغوستلو کښ نشته صرف لنګ به اووهی او تړی دِے نه۔ عبد الله بن عباس به تړل بد ګڼړل او څادر به په دواړو اوګو واچوی او يوه اوګه به نه ښکاره کوی۔ مگر کله چه طواف ته ورځی نو ښیٔ اوګه به ښکاره کوی او د طواف کولو نه پس به ئے بيا پټوی۔

١٠- لسم : تلبيه به په عمره کښ په ټوله لار وائی، کوم ځائے کښ چه تغير د احوالو راځی او کله چه مسجد حرام ته داخل شی او حجر اسود خکل کړی نو بيا به تلبيه پريږدی لکه دا د ترمذی

حديث کښے راغے او چه د حج احرام ئے اوتړلو نو د شيطان ويشتلو پورے به تلبيه وائی۔ کله چه لوئی شيطان ويشتل شروع کړی نو تلبيه به بس کړی۔

١١- يولسم : د احرام دپاره غسل کول سنت عمل دے که په ائرپورټ کښے امکان نه وی نو کور کښې دِے غسل اوکړی او جامے دِے بيا ائرپورټ کښے بدلے کړی۔

١٢- دولسم : که محرم سړے د احتلام په وجه جنب شو نو په ده غسل کول لازم دی او احرام ئے نه خرابيږی او که په غسل کښے ترے څه ويښته اوختل نو هيڅ پرے نشته۔

١٣- ديارلسم : که محرم سړی قصداً يا د عذر د وجے نه د سر ويښته اُوخزئيل يا ئے لنډ کړل، نو په دهٔ ګډ لازم دے يا به شپږو مسکينانو ته خوراك ورکوی هر يو له نيم صاع دے۔ يا درے روژے دی لکه چه آيت کښې راغلی دی۔

١٤- څوارلسم : زنانه په احرام کښے جرابې اچولے شی صرف دستانے او نقاب به نهٔ اچوی۔

OOOOOOOO

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج قِران، حج تمتع او حج افراد مسائل

١٥- حج قِران بهتر حج دے ځکه چه نبی ﷺ کړيدے او دهغے طريقه دا ده چه احرام به د حج او عمرے دواړو دپاره اوتړی (لَبَّيْكَ حَجَّةً وَعُمْرَةً) به وائی او هديه به د ځان سره د ميقات نه روانه کړی او کله چه مسجد حرام ته اورسيږی نو طواف قدوم به اوکړی ځکه هغه سنت دے بيا به سعی اوکړی بيا به محرم اوسی تردے به ځان نه حلالوی چه ځان په حج کښې د اختر په ورځ حلال کړی۔ او بيا به د کعبے نه يو طواف اوکړی او سعی به نه کوی نو په حج او عمره دواړو کښې يوه سعی او يو طواف شو چه هغه فرض دے۔ (بخاری، مسلم)۔

او کومو خلقو چه د دوه طوافونو او دوه سعيو فتویٰ ورکړيده، د هغوی فتوی د سنت نبوی موافق نهٔ ده۔

١٦- حج تمتع دويمه درجه کښے دے او طريقه ئے دا ده چه د ميقات نه به د عمرے دپاره احرام اوتړی او مکے مکرمے ته به لاړ شی نو اول به طواف د عمرے اوکړی بيا به سعی اوکړی بيا به ځان حلال کړی او کله چه د ذوالحجے اتمه ورځ راغله نو د خپل ځائے د اقامت نه به د حج دپاره احرام اوتړی او ددے تمتع په وجه په ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندے هدیه لازمه شوه چه په یوم النحر کښې به ئے ذبح کوی۔

**په تمتع** کښې شروط دا دی چه عمره به ئے د حج په میاشتو کښې کړې وی او واپس به کور ته نه وی راغلے۔ او متمتع حاجی به د طواف زیارت نه روستو ضرور سعی کوی۔ په خلاف د حج افراد او قِران نه چه ددے په حاجی سعی نشته کله چه دوئ د طواف قدوم نه پس سعی کړې وی، او که چرته نه ئے وی کړې نو بیا په دوئ د طواف زیارت نه روستو سعی کول لازم دی ۔

(کما فی المغنی (۴۱۱/۳ – رد المحتار ۱۸۳/۲ – مناسك الحج : ۳۹)۔

۱۷ – که سړی د حج افراد احرام اوتړلو نو ده له غوره بلکه ضروری ده چه هغه فسخ کړی یعنی حج دِے په عمره باندے بدل کړی او بیا دِے په اتمه ورځ د حج نیت اوتړی نو حج تمتع به ئے اوشی او په دے باندے رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته حکم کړے وو۔ کما فی زاد المعاد۔

**عجیبه فائده** : په مسجد حرام کښې د مونځ گذار مخے ته تیریدل څه رنګ دی ؟۔

نو صحیح خبره دا ده چه د مونځ گذار مخے ته هر ځائے کښې تیریدل منع دی ځکه په دے باندے ډیر احادیث راغلی دی۔ صرف دومره ده چه په یو ضعیف حدیث کښې راغلی دی چه د طواف کونکی دپاره د مونځ کونکی مخکښې تیریدل جائز دی او هسے گرځیدونکے دپاره نه دی جائز او دا مسئله البانی په [حجة النبی] کښې تفصیلا کړیده، لیکن جاهلان خلق بے ضرور ته په حرم کښې



د مونځ گذار مخے ته تیریږی بلکه د جاهلانو په نزد باندے مسجد نبوی کښې هم د مونځ گذار مخے ته تیریدل جائز دی او حال دا چه رسول الله ﷺ منع په مسجد نبوی کښې کړیده ( هلته ئے دا حدیث فرمائیلے دے)۔

## دم په څه وجه لازمیږی ؟

۱ – اول : مخکښے تیر شویدی چا چه گنډلے جامے قصدا یا د عذر د وجے نه واغوستلے نو په هغه فدیه لازم شوه چه (گډ) دے دا به ذبح کوی۔

۲ – دویم : دارنګه دم په هغه چا لازم دے چه په څادر، ټوپئ، پټکی سره سر پټ کړی اوکه چرته خیمه یا موټر کښې کیناستلو نو څه حرج پکښې نشته دارنګه که څه ټکرئ وغیره ئے په سر کیښودله نو هم څه حرج نشته دارنګه په چشمو لګولو سره هم څه نشته۔

۳ – دریم : سر خرئیل یا د بدن نه په خپل اختیار ویخته خرئیل یا کټ کول په دے هم دم لازمیږی۔

٤ – څلورم : د نوکونو په پریکولو سره هم دم لازمیږی۔

٥ – پنځم : په خوشبوئی لګولو سره هم دم لازمیږی۔

٦ – شپږم : مباشرت سره هم دم لازمیږی۔ د مباشرت نه مراد خپله زنانه خکلول یا غاړه باسل یا نور داسے کارونه ورسره کول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که جماع ئے ورسره اوکړه نو حج ئے فاسد شو دوباره به ئے کوی. علماء وائی چه حج په هيڅ يو عمل نه فاسديږی سوا د جنس الرفث نه يعنی صرف پدے يو عمل. او د بعضے علماؤ په نزد باندے ددے په متعلقاتو باندے هم فاسديږی. ليکن دا قول غوره نهٔ دے.

۷- اوم : که محرم سړی ښکار مړ کړلو نو د هغے جزاء به ورکړی د هغے په شان حيوان باندے.

۸ - اتم : او که محرم د حرم گياه گانے کټ کړے نو د هغے بدله پرے هم لازمه ده.

۹ - که سړے د عرفات نه مخکښ د نمر پريوتلو نه راووتلو نو په ده باندے دم لازم دے د علماؤ په راجح قول کښ.

۱۰ - که محرم سړی د بل سړی سر اوخرولو نو په ده څه نشته کله چه هغه بل سړے محرم نه وی. نو دارنگ که نوکونه ورلره واخلی نو هم ورله جائز دی.

۱۱ - د وينے په وتلو باندے څه نشته که قصداً وی او که بے اختياره وی ځکه رسول الله ﷺ په احرام کښے وينه ويستلے ده. [بخاری].

۱۲ - که چا په مزدلفه کښ شپه تيره نکړه نو دم پرے لازم دے مگر د زنانو او کمزورو دپاره د نيمے شپے نه پس تلل جائز دی. ليکن پدے کښ غوره دا ده چه په مزدلفه کښ شپه تيرول فرض دی، ددے په پريخوستو سره حج فاسديږی.



۱۳ - د محرم دپاره د درياب ښکار جائز دے او دارنگ کورنی حيوانات هم ذبحه کولے شی صرف صحرائی حيوانات ښکار کول ورلره جائز ندی دی.

۱۴ - خوک چه د عرفات نه پاتے شو تردے پورے چه د اختر د ورځے صبا راوختلو نو په ده باندے هم دم لازم دے. کما فی الاثر (او دا مسئله د فائت الحج ده). او صرف عمره به اوکړی پدے کال ترے حج قضاء شو راتلونکی کال کښ به بيا حج کوی.

۱۵ - دم به د حرم د حدودو په داخل کښ ذبح کولے شی يعنی په منی وغيره کښ. د حرم د حدودو نه بهر د دم ذبح کول صحيح نه دی او د حرم حدود به روستو بيان شی ان شاء الله تعالی.

۱۶ - چا چه طواف وداع پريخودلو نو په هغه هم دم لازم دے ځکه هغه واجب دے ليکن حائضه زنانه باندے نه دے واجب.

۱۷ - که د چا نه د سر خرئيل او يا کمول پاتے شو نو په ده هم دم لازم دے. (الفتاوی الاسلاميه).

۱۸ - په منی کښ شپه تيرول د علماؤ په غوره قول کښ واجب دی نو که چا دا شپے د ضرورت نه په غير بل ځائے کښ اوکړے نو دم پرے لازم دے.

۱۹ - په يولسمه او دولسمه ورځ د زوال نه مخکښ د شيطان ويشتلو سره هم دم لازميږی.

۲۰ - چا چه شيطان ته اووه کانړی په يوځل ور واچول نو په ده باندے دوباره ويشتل ضروری دی او که بيا ئے اووه کانړی ورپوره

نکړل نمبر په نمبر نو په ده باندې دم لازم دې۔

۲۱- که چا په جمراتو کښې د ترتیب لحاظ او نه ساتلو اول ئې غټ شیطان بیائې مینځ والا بیائې وړوکے اوویشتلو مثلا نو په ده هم دم لازم دې۔ (الفتاوی الاسلامیه)۔

## ضروری خبردارے

دا دم لازمیدل غالباً د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما اجتهاد دې او ډیر علماء کرام دده موافق دی لیکن محققینو علماءِ کرامو لیکلی دی چه دم صرف په یو څو ځیزونو لازمیږی چه هغه دا دی :

(۱) څوک چه محصر شو یعنی په لاره کښې د حج د دشمن یا بلې خطرې په وجه بند کړے شو لکه دا په قرآن کښې راغلې دې۔

(۲) د سر په خرئیلو باندې۔

(۳) په حج تمتع او قران کښې دم (یعنی قربانی) لازم ده، چه دیته د تمتع او قِران هدیه وائی۔

(٤) کله چه ښکار قتل کړی نو د هغې په بدله کښې دم لازمیږی۔

(٥) په حالت د احرام کښې د بی بی سره جماع کولو باندې دم لازمیږی، او پدې دم کښې به اُوښه ورکوی لکه دا د عمر بن الخطاب رضی الله عنه فتویٰ ده او هیڅوک مخالف ئې نۀ دې موجود۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې پنځو ځایونو نه بغیر که چا دم ادا نکړو نو په هغه باندې هیڅ حرج نشته ځکه چه دا دم لازمول په نبوی احادیثو کښې ددې پنځو نۀ سوئ ندی موجود لکه اُوګوره

الموسوعة الفقهية الميسرة كتاب الحج۔

## د طواف، سعی او جمراتو مسائل

### طوافونه درے دی

۱- **اول طواف قدوم** : دا سنت دے کله چه اول سړے مکے مکرمے ته داخل شی نو دا به کوی دا طواف په حج قِران کښې هم شته او په حج افراد کښې هم شته او حج تمتع کښې طواف قدوم په اول کښې نشته یعنی کله چه حرم ته راشی نو د عمرے دپاره به طواف اوکړی او بیا به سعی اوکړی او بیا به ځان حلال کړی، لیکن د امام احمد وغیره نه نقل دی چه تمتع والا دِے هم طواف قدوم اوکړی کله چه د عرفات نه واپس شی۔ او بیا دِے سعی اوکړی او بیا دِے طواف زیارت اوکړی کما فی المغنی (۳/٤۷۵)۔

لیکن دا خبره صحیح نۀ ده۔

۲- **دویم طواف زیارت** دے دا فرض دے او د اختر په ورځ به کولے شی او د عذر د وجے نه ئے انسان درے ځلور بلکه زیاتو ورځو پورے روستو کولے شی بلکه که چا طواف زیارت اوکړلو او بیا خپل کلی ته را روان شو نو دا د طواف وداع په ځائے قائمیږی کما

(c) ketabton.com: The Digital Library



في الفتاوی الاسلامیه (۲/۲۵۳).

۳- **دریم طواف الوداع** دے دا هم هر حاجی باندے واجب دے کله چه وطن ته را روانیږی نو دا (د رخصتئ) طواف به اوکړی لیکن که زنانه بیماره وی نو په هغے نشته (بخاری، مسلم).

٤- طواف د شپے هم کیږی او د ورځے هم کیږی لیکن د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه هغوی به په اول د ورځ کښے طواف کولو بیا به ئے ماسپښین منی ته ځان رسولو. (مشکاة).

۵- په حج قِران اوافراد کښے یوه سعی ده که اول ئے سعی اوکړه اوبیا ئے طواف قدوم اوکړلو نو بیا پرے نشته او که اول ئے طوافِ قدوم اوکړلو نو بیا پرے سعی په یوم النحر کښ لازم ده او حج تمتع کښ دوه طوافونه او دوه سعی دی یو طواف او یوه سعی د عمرے دپاره او دویم طواف او سعی دحج دپاره.

٦- د ذو الحجے په اتمه ورځ بعضے خلق منی ته د تلو نه مخکښ طواف او سعی کوی او بیا روستو په یوم النحر باندے سعی نۀ کوی او حال دا دے چه حج تمتع والا دپاره دا صحیح طریقه نۀ ده بلکه سنت دا ده چه سعی د اختر په ورځ د طواف نه روستو اوکړی، لیکن احنافو علماؤ لیکلی دی چه د سعی دپاره وقت معین نشته نو ځکه ئے مخکښ کول هم جائز دی لکه رد المحتار ۲/۱۸۳- شرح الوقایه (۱/۲۷۰) کښے ئے لیکلی دی مګر خبره ئے خطاء ده.

۷- که په عمره یا په حج کښ چا سعی مخکښ اوکړه او



طواف ئے روستو اوکړلو نو دا هم روا دے لکه حدیث کښے راځی.

اِفْعَلْ وَلَا حَرَجَ - (بخاری)

لیکن سنت دا ده چه د ترتیب نه کار واخلی.

۸- که یو ناپوهه سړی سعی پریخوده بیا ورته چا خبر ورکړو چه په تا سعی لازم ده نو اوس به سعی اوکړی اګرکه دوه درے ورځے هم تیرے شوے وی ځکه چه پرله پسے والے په طواف او سعی کښ ضروری نه دے او په ده باندے څه نشته.

۹- که څوك د جمراتو کانړی د مزدلفے نه راوړی نو حرج پرے نشته او د هغے وینځل هم د خیر کار نه دے او د کانړو مقدار د ګلو بزو د پچو په اندازه دے په مستعمل شوے جمره باندے بیا ویشتل هم جائز دی.

۱۰- د اختر په اوله ورځ صرف جمره عقبه ویشتل کیږی د هغے وخت د اختر د نیمے شپے نه شروع کیږی په نیز د بعض علماؤ لیکن غوره دا ده چه د معذورو او کمزورو دپاره د صبا د راختلو نه شروع کیږی. او د روغو صحتمندو دپاره د نمر راختلو نه پس حکم دے. او آخری وخت ئے د یولسمے شپے صبا راختل دی لیکن جمره د ورځے ویشتل سنت دی او د شپے په غیر د ضرورت نه ویشتل ندی پکار، البته که سړی ته تکلیف وی نو د شپے ویشتل ورلره هم جائز دی او هیڅ پرے نشته.

۱۱- په یولسمه، دولسمه ورځ باندے د علماؤ په غوره قول کښے د زوال نه مخکښے شیطان ویشتل جائز نۀ دی که چا د زوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـه مخکښ اوویشتلو نو په هغه باندے اعاده (دوباره ویشتل) لازم دی او کـه خپـل کـلـی ته تلے وی نو بیا به توبه او استغفار اُوکړی او نور پرے هیڅ نشته۔

۱۲- څوك چه خپلو زنانه او ماشومانو سره مِنیٰ ته راشی نو دا هم د هغـوی په حکم کښې دے چه د نمر ختلو نه مخکښې جمرات ویشتلے شی۔

۱۳- کوم سړی چه یو کانړے اخوا دیخوا گذار کړلو او حوض ته ئے گذار نـکړے شو نـو بل کانړے به د هغه په ځائے باندے ورگذار کړی چه اوه کانړی صحیح پوره شی ځکه شیطان دغه جدا حوض ته وائی۔ دے نیغ بوخلی او دیوال ته نه وائی۔

۱٤- کـه څوك دریمے ورځے ته په منی کښې پاتے شو تردے چه شپـه پرے راشی نو په ده باندے واجب ده چه د زوال نه پس شیطان اولی مـخـکـښـے ئے نشی ویشتلے دا د رسول الله ﷺ طریقـه ده او فرمائیلے ئے دی:

خُذُوا عَنِّیْ مَنَاسِكَكُمْ- ما نه د حج طریقے زده کړئ!۔

۱۵- د شیـطـانـانـو په ویشتلو کښې نیابت نه دے جائز لیکن که یـوه زنانه ضعیفه (بیماره) وی یایو بوډئ زنانه یا بوډا سړے وی نو د هغوی دپاره بل څوك ویشتل کولے شی لیکن شرط پکښې دا دے چه هغـه بـل سړے به هم حاجی وی مکلف به وی نو د خپل ځان دپاره بـه اول شیطان اوولی بیا ډے مؤکل دپاره اوولی او که دا نه وی نـو په دهٔ بانـدے اعـاده لازم ده ځـکه دے انسان جمرات پریخوستے



دی۔

۱٦- په هیڅ طـواف کښې نیابت نـه دے جائز ځکه طواف په کجاوه (یا [wheel chair] ویـل چیئر) کښې هم کیږی نو که پخپله ئے نشی کولے نو په کجاوه یا لاس گاړی وغیره کښې ډے اوکړی۔ دارنگ په سعی کښې هم نیابت کول ندی جائز د هغے هم دغه حکم دے۔

۱۷- کـه چا د یولسمے ورځے د شیطان ویشتل دولسمے ورځے ته روسته کړل نو بیا هم پرے هیڅ نشته لیکن سنت دا دی چه په هره ورځ خپل خپل شیطان اوولی دا راجح قول دے بعض علماء پرے دم لازمـوی لیکن ظاهره دا ده چه روستنئ درے ورځے په منزله د یوے ورځ دی۔ کما فی (الجمرات ص: ۹۸)۔

۱۸- د شپے شیطانان ویشتل ندی پکار مگر د کمزرو، یا زنانو یا مـعـذورو خلقـو دپاره جائز دی چه د شپے ویشتل اوکړی دا قول راجح دے (الجمرات: ۱۰۵)۔

۱۹- په نجس کانړی د شیطان ویشتل جائز دی لیکن غوره خبره نـه ده ځکه دا یو عبادت دے او عبادت په پاکو شیانو پکار دے چا چه د درے کانړو نه زیات پریخودل په جمراتو کښې نو دم پرے لازم دے د جمهورو په قول باندے او دا یو قول دے او که د دریو نه کم وو نو بیا پرے صدقه لازم ده څومره چه ئے وسع کیږی هغومره ډے اُوکړی څه مقدار ئے نه دے معلوم۔

او صحیح دا ده چه اُوه کانړی واجب دی او لازم دی، قصداً دِ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کمے کول غلط دی، عبادت نهٔ دے۔

۲۰- د جمراتو پـه ويشتـلو کښې ويشتل ضروري دي هسے کانړي په حوض کښې د لاسه غورځول نه دي پکار۔

۲۱- د کانړو نه په غير په بل څه شيطان ويشتل ندی جائز لکه چه جارو يا پـه اوسپـنه يا په بلوريا په چپلو وغيره باندے ويشتل ندی جائز۔

۲۲- د جمراتو په ويشتلو کښې نيت کول ضروري دی ديکښې که د چا د لاسه کانړی پريوتل او په جمره واقع شول نو ديته ويشتل نه وائی بيا به ئے اولی۔

۲۳- کـلـه چـه د سړي غـالـب گمان وی چه کانړے حوض تـه پريوتلو نو دا کافی ده پدے کښې دا بهتره ده چه يقين پرے راشي چه حوض ته کانړے اورسيدلو ۔

( كتاب رمى الجمرات وما يتعلق بها من الاحكام مدللا ).

مونږ دلائل ددے وجه نه پريخودل چه کتاب اوږد نشي ورنه دا مسائل په احاديثو کښې او په نزد د علماؤ ثابت دی۔

۲۴- کلـه چـه يـو سړے د مريضتيا د وجه نه وکيل يعنے نائب اونيسی د جمراتو دپاره بيا د هغه سړي عذر ختم شي روغ شي نو ده لره مستحب ده چه د جمراتو ويشتل راوگرځوی که راوے نه گرځولو نو څه حرج پرے نشته۔

۲۵- کلـه چه نائب ووړوکے جمره يعنی شيطان د ځان دپاره اولی نو بيا ډيے ئے د موکل دپاره اوولی دا طريقه جائز ده او بهتره دا ده چه



اول درے واړه جمرات د ځان دپاره اوولی بيا چه راواپس شي نو درے واړه جمرات به د موکل دپاره اولی۔

۲۶- کـلـه چه يو سړے بے هوشه شو او نائب ئے اونه نيولو تردے چه د منـی ورځـے تـرے تيرے شوے نو پدے سړي اعاده لازم شوه او که وکيل ئے اونيولو بيا پرے بے هوشي راغله نو هيڅ حرج نشته۔

۲۷- طواف او سعی په لاندے چهت کښې کول افضل دی او په بره چهت کښې جائز دی ليکن د ضرورت په وخت کښې او که سعی په بره چهت کښې کوی نو دا کوشش به کوی چه په سعی کښې د صفا مروه د حدودو نه بهر نشي (مينځ مينځ کښې ډے سعی کوی)۔

۲۸- پـه عـمـرے والا باندے طواف وداع نشتـه پـه راجح قول د علماؤ کښې۔

( شرح مسلم ۱/۴۲۷- البيهقی ۵/ ۱۱۶ ).

او پـه سـنـن کبری کښې ورسره د ( الحاج ) قيد راغلے دے يعنی طواف وداع پـه حاجی باندے واجب دے او په عمرے والا باندے نه دے واجب۔

OOOOOOOO

## د هدی احکام

۱ – څوك چه تمتع یا قِران والا وی په دوئ هدی لازم ده چه په منی کښې به ذبح کولے شی په ورځ د اختر او حاجی ترے پخپله هم خوراك کولے شی۔ او حاجی مفرد باندے قربانی یعنی هدی نشته۔

۲ – دویم د هدی او اضحیه یعنی قربانی مینځ کښې فرق دے او هغه دا چه هدی فرض ده او قربانی په نزد د بعضے علماؤ واجب ده لیکن هغوی وائی چه په مسافر نشته۔ او اکثر علماء ورته سنت وائی او په مسافرئے هم واجبوی۔

۳ – دریم : څوك چه طاقت د هدی نه لری نو لس روژے به نیسی، درے د عرفے د ورځے نه مخکښې او اوه د حج نه روستو (سوره البقره ) او د اضحیه نه موندلو په صورت کښې روژے نیول نشته۔

٤ – د هدی په ځائے پیسے ورکول فقیرانو ته دا حرام دی او سخته ګناه ده دا د ځان نه شریعت جوړول دی۔

﴿ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰـكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ﴾ (سورة الحج)۔

٥ – د هدی ذبح کول په غیر د حرم نه بل ځائے کښې نه دی جائز که چا ذبح خارج د حرم نه اوکړه نو بیا به دوباره ذبح کوی اګرکه دا غوښه ئے حرم ته راوړی وی او په فقیرانو ئے تقسیم کړے وی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ – دارنګ د اختر د ورځ نه مخکښې هدی ذبح کول جائز ندی که چا د اختر د ورځے نه مخکښې ذبح اوکړه نو بیا به بله ذبح کوی۔

۷ – د چا نه چه هدیه د ناپوهئ نه پاتے وی نو روسته دے په حرم (مکه مکرمه) کښې ذبح کړی او که کورته راغلے وی نو مکه مکرمه کښې دے ځان له وکیل اونیسی چه دده دپاره ذبح اوکړی۔

۸ – که د یو سړی نه د هدی طاقت وی او نه ئے د روژے نیولو وسع وی ځکه چه بیمار دے نو چه کورته راغے لس روژے به اونیسی او نور څه پرے نشته۔

۹ – که یو سړے په شوال یا ذو العقده کښې عمره اوکړی او بیا واپس کورته لاړو بیا حج ته راغے نو راجح دا ده چه دا متمتع نه دے په ده هدیه نشته دا د عمر بن الخطاب او ابن عمر رضی الله عنه نه نقل ده او که کورته لاړ شی بلکه جدے یا طائف یا بل ځائے ته لاړو بیا حج ته راغے نو په ده باندے هدیه لازمه ده۔

## د حرم شریف حدود

یو مسجد حرام دے او بل حرم دے د حرم زمکه لویه ده او د حرم دپاره خپل احکام دی چه د هغے دپاره حدود د حرم معلومول ضروری دی د مکے مکرمے حرم د شمال جانب نه چه تنعیم دے شپږ کلو میټر دے او جنوبی جانب ئے اضات دے چه ددے او د کعبے شریفے ترمینځ دولس کلومیټره لاره ده او مشرقی جانب نه جعرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چه ددے ترمینځ شپاړس کلومیتره او د شمالی شرقی جانب نه وادی نخله ده چه ددے اومکے ترمینځ څوارلس کلومیتره فاصله ده ددے او د مغربے جانب نه الشمیسی دے چه هغے ته حدیبیه هم وائی ددے ترمینځ پنځلس کلومیتره دی کله چه انسان پدے لار ورتیریږی نو دوه کانړی د سرك په سر باندے ولاړ دی د یو میټر په مقدار چه هغه د حرم د حدودو نښه ده.
(فقه السنه ۱/۶۷ - الاعلاق النفیسه: ۶۰).

**پدے حدودو** کښې دننه ښکار کول جائز نه دی، بوټی گیاه کانے شو کول هم روا نه دی او پدے کښې گناهونه کول هم ډیره سخته سزا لری او پدے کښې د گناه اراده کول هم سبب د سزا دے ددے نه بهر قربانی یعنی ذبح کول جائز نه دی لکه مخکښې بیان شو. د مدینے طیبے حرم هم شته چه هغه د جبل عیر نه تر جبل ثور پورے دے او جبل ثور د احد نه شاته دے پدے کښې هم ښکار کول جائز ندی دارنگه ددے ونے بوټی وهل جائز ندی دے باره کښې ډیر احادیث بخاری، مسلم وغیره کښې لیدلے شی.

۲- په مکه مکرمه کښې یو مونځ په یو لاکهه دے باقی نورو اعمالو کښې صحیح روایت نه دے راغلے چه هغه هم په یو لاکهه دی صرف امید د الله تعالی نه کوو چه د فضیلت د دغه ځائے په وجه په ډیرو چندونو ئے قبول کړی نو هغه خلق چه هغوی پیسے روپئ حرم شریف ته لیږی د خیرات کولو دپاره نو د هغے نه دا بهتره ده چه خپلو خپلوانو یا گاونډیانو له ئے ورکړی.



## د عرفات، مزدلفے او منیٰ مسائل

۱- په حج کښې اهمه فریضه عرفات کښې حاضریدل دی د هغے وخت د عرفے د ورځے د زوال نه پس تر د اختر د ورځے د صبا راختلو پورے دے. پدے وخت کښې چه څوك لږ ساعت دپاره عرفات ته لاړ لو برابره ده که اوده وی که بے هوشه که هر حالت کښې وی نو دده فرض ادا شو لیکن صحیح وخت د عرفات دا دے چه د زوال نه پس به عرفات ته داخل شی او د غروب الشمس نه پس به راکوزیږی.

۲- د عرفے په ورځ حاجی دپاره روژه نیول غوره ندی بلکه پدے ورځ کښې ذکر، دعا له زور ورکول پکار دی.

۳- په عرفات کښې به جمع بین الصلاتین کوی او دارنگه قصر به کوی دا عمل د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه کرامو وو، څوك چه ددغه عمل خلاف کوی نو هغه د سنتِ محمدی نه خلاف کوی. دارنگ په مزدلفه کښې جمع بین الصلاتین کول پکار دی یعنی د ماښام او ماسخوتن مونځ به یو ځائے کوی سره د قصر نه یعنی دوه رکعاته به د ماسخوتن او درے رکعاته به د ماښام کوی. دارنگه د منی په درے ورځو کښې هم قصر کول پکار دی اگرکه ته مکه مکرمه کښې مقیم ئے. پدے باندے امام ابوداود باب اینبے دے (باب القصر لاهل مکه).

ابن عمر رضی الله عنه به مکه کښې مقیم وو خو کله به چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منی ته تللو نو بیا به ئے هلته قصر کولو (فقه السنه ۶۳۹/۱)۔

٤ - په عرفات مزدلفه او منی کښ د ذکر تلبیه، سکینه او آرام خیال ساتل پکار دی په مزدلفه کښے هر ځائے وقوف کولے شی سوی د وادی محسر نه ځکه دغه د اصحاب الفیل د عذاب ځائے دے ددے نه ځان ساتل پکار دی۔

٥ - **د اختر** په ورځ اعمال پدے ترتیب سره کول پکار دی :

۱ - اول شیطان ویشتل

۲ - بیا ذبح کول او سر خرئیل یا صرف سرخرئیل

۳ - بیا طواف زیارت کول او دا ترتیب سنت دے که چا پدے کښے بے ترتیبی اوکړه نو په ده باندے هیڅ نشته رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته فتوٰی ورکړے وه چه :

اِفْعَلْ وَلَا حَرَجَ - کوه څه گناه پکښ نشته یعنی کرامو د تقدیم او تاخیر متعلق تپوسونه کول چا وئیل چه ما طواف مخکښے اوکړو، چا اووئیل چه ما ذبح مخکښ اوکړه چا اووئیل ما سعی مخکښ اوکړه نو نبی ﷺ تولو ته اووئیل چه خیر دے پدے کښے څه حرج نشته خوك چه وائی دم پدے لازمیږی نو هیڅ صحیح دلیل ورسره نشته۔ (بخاری، مسلم)۔

٦ - حج قِران کول او ځان سره هدی نه بوتلل۔ حج قِران کښ د هدی څاروے بوتلل شرط دی او ډیر خلق دا مسئله نه پیژنی بلکه بعض مولیان ترے هم خبر ندی، دے باره کښے تفصیل بخاری، مسلم کښے د جابرؓ وغیره حدیث کښے ذکر دے۔



۷ - بعض خلق د عرفے شپه منی کښے نه تیروی سیده د مکے نه عرفات ته ځی دا کار غلط دے بلکه په مِنی کښے شپه تیرول سنت دی۔

قال النبی ﷺ : خُذُوا عَنِّیْ مَنَاسِکَکُمْ۔

او دا د رسول الله ﷺ فعل هم دے، د حج نه میله جوړول ندی پکار۔

۸ - دارنګه بعض خلق مزدلفه کښے د اختر شپه نه تیروی سیده منی ته ځی دا کار غلط دے بلکه شپه تیرول مزدلفه کښے ضروری دی تردے چه سحر مونځ دلته اوکړے بلکه بعض محققین علماء دیته رکن وائی یعنی فرض ئے گنړی۔ صرف کمزورو زنانو او ماشومانو او مریضانو ته اجازت دے چه د نیمے شپے نه روسته لاړ شی منی ته۔

۹ - بعض خلق په مسجد حرام او مسجد نبوی کښے د مونځ کونکی په مخکښے تیریږی او حال دا دے چه رسول الله ﷺ خو په مسجد نبوی کښے منع کړیده د تیریدلو نه په مخکښے د مونځ کونکی او فرمائیلی ئے دی :

لَوْ یَعْلَمُ الْمَارُّ بَیْنَ یَدَیِ الْمُصَلِّیْ مَا ذَا عَلَیْهِ لَکَانَ اَنْ یَقِفَ اَرْبَعِیْنَ خَیْرًا لَّهٗ مِنْ اَنْ یَمُرَّ بَیْنَ یَدَیْهِ. متفق علیه۔

دا حدیث عام دے شامل دے مسجد حرام او مسجد نبوی او نورو مساجدو ته۔ نو حتی الوسع د مونځ کونکی مخے ته مه تیریږه۔ چه گناه ځان سره رانه وړے او کوم حدیث کښے چه استثناء

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسجد حرام راغلی ده هغه ضعیف دے رواه ابن ماجه۔

۱۰- اهل علم لره پکار دی چه دعوت الی الله تعالی جاری اوساتی او خلق د کتاب او د سنت د عظمت نه خبر کړی او تعصب مذهبی او وطنی او لسانی او سیاسی پریدی صرف قرآن او حدیث ته دِ رجوع اوکړی دا صرف د کامیابۍ لاره ده۔

**۱۱- نا اشنا مسئله :**

بعض تاجران خلق د تجارت په ویزه لاړ شی نو بیا سعودی حکومت اجازت نه ورکوی چه حج دِے اوکړی او که بلا احرام مکے مکرمے ته ځی برائے تجارت نو اجازت ورکوی نو آیا دغه سړے که جامو کښے احرام اوتړی نو څه حکم به ئے وی ؟ دارنګه هغه خادمان چه د حجاجو خدمت له ځی نو هغوی احرام ته نه پریدی په میقات کښے او هغوی د حج اراده لری نو ددے حل دا دے – ان شاء الله – چه احرام دِے اوتړی یعنی نیت دِے اوکړی او خپلو جامو کښے دِے حرم ته داخل شی او طواف او سعی دِے اوکړی بیا دے حج اوکړی خپلو جامو کښے او یا که جامے اوباسی او احرام اچوی چه قادر شی نو په ده باندے دم (قربانی) لازم دے او که نه ؟۔ دوه قوله د علماؤ دی :

۱- **اول قول** دا دے چه دم به ورکوی ځکه ګنډلی جامے ئے اغوستی دی (کومے چه په حالت د احرام کښے اغوستل ناروا دی) اګر که معذور دے لیکن معذور باندے هم دم راځی لکه قرآن کښے دی ﴿ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا اَوْ بِهِ اَذًى مِنْ رَاْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ



اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ﴾ نو ګوره معذور باندے ئے فدیه راوستے ده۔ دارنګه دا به هم دم ورکوی۔

۲- قول ثانی دا دے چه په ده څه نشته ځکه د بخاری روایت کښے راځی : فَمَنْ لَمْ يَجِدْ اِزَارًا فَلْيَلْبَسِ السَّرَاوِيلَ۔ که لنګ نه وی نو پرتوګ اچول جائز دی، دا دِے واچوی۔ او پدے حدیث کښے ورسره فدیه او دم ندی ذکر شوی او نه بل روایت کښے راغلی دے او په قیاس باندے دم نه لازمیږی او هم دا قول صحیح دے او آسان دے والحمد لله۔

۱۲- **مسئله** : ملتزم د دروازے او حجر اسود مینځ مقام ته وائی پدے ځائے کښے دعا قبلیږی او نبی علیه السلام دلته سینه او مخ او لیچے مبارکے ایخوستی دی۔

اوګوره الصحیحه (۲۱۳۸/۵)

(لیکن دا خبره یاد ساتل پکار دی چه د ملتزم د طواف وغیره سره تعلق نشته بلکه دا د عام وخت خبره ده یا چه کله د حج نه واپس کیږی نو دلته دِے دعا اوغواړی)۔

۱۳- په حالت د حیض کښے طواف جائز ندے، ځکه طواف په مسجد کښے دے او مسجد ته د زنانه راتلل ندی جائز۔ دغه شان په بے اودسۍ کښے هم طواف ندے پکار۔

**۱۴- د ماشومانو د حج بیان۔**

۱- اوله مسئله دا ده چه د ماشومانو حج په اتفاق د علماؤ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحيح دې حديث د بخاري او مسلم کښې دی : (اَلِهٰذَا حَجٌّ ؟ قَالَ : نَعَمْ) يو زنانه رسول الله ﷺ ته اوفرمائيل چه ددې ماشوم دپاره حج اوکړم نو رسول الله ﷺ ورته جواب ورکړلو چه آؤ ! او ثواب به ستا کيږی [ مسلم ].

٢- او دا حج به نفلی حسابيږی او اجر به ئے د مور او پلار وی فرض حج به بيا کوی چه بالغ شو او وسع ئے کيدله، دا اجماعی مسئله ده۔

٣- : چه ماشوم کله څه جنايت اوکړی لکه عطر يا سر پټول يا نور محظورات د احرام شو نو آيا په ده فديه او جزاء شته او که نه ؟ دے کښې راجح قول دا دے چه هيڅ پرے نشته، ځکه نبی عليه السلام فرمائی :

رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ عَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَبْلُغَ۔ الحديث۔

نو په حقوق الله تعالى کښې په ده څه نه راځی هاؤ! که پردے مال هلاك کړی يا قتل وغيره اوکړی بيا د هغے بدله پرے شته۔ دا رأی د ډيرو علماؤ ده لکه احناف، اهل الظواهر اهل الحديث والسنه۔

بعض علماء پرے فديه وغيره واجبوی ځکه دده حج صحيح دے احرام ئے صحيح دے نو جنايت ئے معتبر دے، ليکن دا قياس دے او حديث باندے عمل پکار دے۔

٤- نيابت به د ماشوم د طرفه صرف په شيطان ويشتلو کښے وی باقی ټول احکام به خپله کوی او قربانی ترے بل څوك کولے شی۔



٥- که يو سړے ماشوم په اوګه کينوی او د خپل طواف نيت اوکړی او ورسره د ماشوم نيت هم اوکړی آيا دا صحيح ده او که نه ؟ نو ظاهر دا ده چه دواړو طواف اوشو او همدا خبره غوره ښکاری ځکه نبی عليه السلام د ماشوم دپاره جدا طواف باندے امر ندے کړے۔ په ( فتاوى اسلاميه ٢/١٨٢) کښے داسے دی۔

٦- د ماشوم د طرفه به څوك نيابت کوی چه احرام ورلره اوتړی او نيت ورلره اوکړی نو ظاهر دا ده چه هر ولی ئے کولے شی که مور ئے اوکړی هم صحيح ده (وَلَكِ أَجْرٌ) مسلم۔

٧- د ماشوم په حج کښے اجر هغه ته هم ملاويږی او مور پلار ته هم ملاويږی - کما فی المرعاة (٨/٣١٢)۔

## په حج کښې نائب نيول

١٥- پنځلسمه مسئله : په حج کښے نائب نيول جائز دی ليکن په څو شرطونو باندے :

١- اول شرط دا دے چه مؤکل به عاجز وی يا به مړ وی که طاقت لری نو نائب نشی نيولے۔

٢- دويم شرط دا دے چه بالغ مسلمان به وی۔

٣- دريم شرط دا دے چه مخکښے به نائب ځان دپاره حج کړے وی او که هغه حج نه وی کړے نو بيا نيابت نشی کولے ځکه صحيح حديث کښے راځی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



(حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ)

(رواه ابوداود وهو قول اکثر اهل العلم، سبل السلام (۲/۱۸٤)

اولا ځان دپاره حج اوکړه بیا د بل نه کوه۔

۱۶ - زنانه د سړی د طرفه حج کولے شی او سړے د زنانه د طرفه۔ کما فی البخاری۔

۱۷ - یو سړے فقیر وی بل مال ورکړو ځان له ئے پرے حج اوکړو بیا دا فقیر مالدار شو آیا دوباره په ده حج لازم دے؟

**جواب**: نه دے لازم بلکه یو حج کافی وی ځکه الله تعالی بیت الله ته تګ یو ځل لازم کړیدے او دا سړے غنی شو په مال د بل باندے۔ (السیل الجرار ۲/۱۶۱، فتاوی الدین الخالص)۔

۱۸ - څوك چه مونځ نه کوی د هغه د طرفه حج کول جائز ندی که مړ وی او که ژوندے، دارنګه څوك چه مونځ نه کوی او حج له ځی د هغه حج باطل دے ځکه تارك الصلاة (مونځ پریخودونکے) کافر دے مرتد دے او د مرتد عبادات قبول ندی تردے چه ایمان راوړی۔ دے مسئله کښے اختلاف شته لیکن دا قول احتیاطی دے۔ فتاوی اسلامیه (۲/۱۸۵)

۱۹ - څوك چه د بل نه حج کوی په مذکوره شرطونو باندے نو آیا حج قِران به ورته کوی او که تمتع او که افراد نو فقه حنفی کښے لیکی چه حج قِران به کوی ځکه چه تمتع خو بیا حج د مکے نه جوړیږی او دلته مؤکل ورته د پاکستان نه د حج پیسے ورکړیدی نو د هغه مخالفت راځی۔



(لکه عالمګیری، کفایة المفتی (٤/۳۳۳) کښے دی)۔

لیکن ظاهر دا ده چه حج قِران کښے د هدی بوتلل د میقات نه شرط دے او هغه اکثر خلق نه کوی او نه ئے کولے شی نو حج افراد دِے اوکړی او که تمتع کوی هم صحیح ده ځکه مؤکل د طرفه هغه حج اجازه ده چه کوم کیدے شی اوچه کوم نشی کیدے نو وکیل په هغے مکلف ندے۔

۲۰ - محرم بل محرم له سر د اختر په ورځ خرئیلے شی کله چه د شیطان ویشتلو او ذبح نه فارغ شی۔

اوګوره اللباب (۱٥٤) وابن ابی شیبه (٤/۱۲۳)۔

۲۱ - په طواف کښے موالات یعنی پرله پسے والے شرط دے او که نه؟ نو صحیح دا ده چه موالات په طواف کښے شرط ندے۔

قال النووی فی المجموع (۸/٤۸):

اَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلَى اَنَّ الْقُعُوْدَ الْيَسِيْرَ فِيْ اَثْنَاءِ الطَّوَافِ لِلْاِسْتِرَاحَةِ جَائِزٌ۔

[د مسلمانانو اجماع ده چه د استراحت دپاره طواف کښے لږ شان کیناستل جائز دی]۔

دارنګه که جَمعه اودریږی او طواف لا پوره نه وی نو مونځ به اوکړی او بیا به طواف د هغه ځای نه شروع کړی لیکن دا نیم ګردش دِے بیا د سره کړی او تول طواف دِے نه د سر نه کوی۔

(فتاوی هیئة کبار العلماء ١/٤٦٤، محلی: ٥)۔

لیکن که عبث او بلا ضرورت انقطاع ئے طواف کښے راوستله لکه تیلفون کوی یا روټئ ته کینی یا چا سره ګپ شپ دپاره کینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا طواف باطل دے۔

والتحقیق فی الدین الخالص، السیل الحرار ۱۹۲/۲ النیل ۱۱۰/۵

۲۲- حج تمتع او قِران اهل مکه نشی کولے لکه قرآن فرمائی :

﴿ ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ ۔

یعنی حج تمتع او قِران د آفاقی کسانو دپاره دی۔ دے باره کښے روایت د ابن عباسؓ بخاری کښے هم شته۔

۲۳- حج اکبر بعض خلق وائی هغه حج دے چه جُمعه او عرفه جمع شی، دا اصطلاح د قرآن او حدیث نده هاؤ ! د دغه حج فضیلت شته۔ لیکن حج اکبر هر یو حج ته وائی او حج اصغر عمرے ته وائی او کوم روایت کښے چه راغلی دی چه عرفه او جمعه جمع شی نو د اوویا (۷۰) حجونو نه زیات ثواب لری نو هغه ضعیف بلکه موضوعی حدیث دے۔

زاد المعاد ۱۷/۲، صحیح الجامع الصغیر ومقدمته ٥٤ ضعیفه ۳٤۱/۳

۲٤- د زنانه سفر په غیر د محرم نه د حج، عمرے دپاره روا ندے اګر که ډیرے زنانه ورسره وی، نبی علیه السلام فرمائی :

لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ اَنْ تُسَافِرَ يَوْمًا وَلَيْلَةً اِلَّا وَمَعَهَا مُحْرِمٌ۔ متفق علیه۔

(هیڅ یوے ښځے لره چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری دا روا نهٔ دی چه د یوے ورځے او د شپے سفر بغیر د محرم نه اُوکړی۔

۲۵- که محرم نه وی پدے حج فرض ندے۔

۲٤- که یوه زنانه خاوند حج ته نه پریدی نو دے له جاز دی چه



د ورور سره یا پلار سره لاړه شی او د خاوند اجازت ته ضرورت نشته۔ حدیث دے (لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ) د فرض حکم په مقابله کښے د مخلوق خبره منل نشته۔

۲۶- په حج یا عمره کښے زنانه د حیض د منع کولو ګولے خوړلے شی پدے شرط چه ضرر نه ورکوی۔

الفتاوی الاسلامیه (۱۸۵/۲)

۲۷- حج کول په هغه چا فرض دی چه په جهاز یا ګاړی کښے یا پیدل په اس وغیره تللے شی بیت الله ته او بدن ئے روغ وی، دومره نفقه ورسره وی چه خپله خرچه اوکړی او کور کښے هم خرچه پریدی (مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا – ای الزادُ والرَّاحِلَةُ الحدیث)۔

**بعضے** خلق ښه مالدار وی او بیا هم حج نه کوی ځکه چه مال په اسراف طریقه خرچ کول غواړی، د دنیا سامانونه راوړل یا خیراتونه کول وغیره، نو د فرض عمل نه په بدعت پاتے شی۔

۲۸- د پلار په مال بچے مالدار ندے هاؤ! که پلار اجازت ورکړی چه حج اوکړه زما په مال باندے بیا پرے حج فرض شو ځکه دا هم مالدار شو په هبه سره۔

۲۹- یو سړی د حج او عمرے هر کال نذر منلے وی لیکن اوس وسع نه کیږی نو څه به کوی؟ الجواب : که داسے حال وی چ یقینا معذور دے نو بیا به د قسم کفاره ورکړی نذر به ئے پوره شی

مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَا يُطِيْقُهُ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ الحدیث.

(ابن ماجه (۲۱۲۷) وهو موقوف علی ابن عباس وسنده صحیح -

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰- په یو مزدور یا پولیس چه اسلامی حکومت د حج اجازت نه ورکوی نو آیا حج پرے شته ؟

**جواب** : آؤ ! حج پرے فرض دے د الله تعالی د طرفه، د حکومت خبره یا د بل خبره په مقابل د الله کښې نه منل کیږی هاؤ ! که پریدے عمل او کار بربادیږی نو بیا به ضرور اجازت اخلی که نه ئے ورکوی کار به پریدی۔ (الفتاوی الاسلامیه ۲/۱۸۹).

۳۱- د قرض اداء کول مخکښې دی له حج کولو نه هاؤ! که مال ورسره د حج بیل وی او د قرض جدا نو بیا خیر دے، دارنګه که قرض په آسانئ سره خلاصولے شی نو بیا باك نشته۔

۳۲- په قرض پیسو حج کول صحیح دی لیکن که د قرض اداء کول ګران وی بیا ترے ځان ساتل پکار دی ځکه قرض معامله سخته ذمه واری ده۔

۳۴- مورپلار که مالداروی او حج ئے نه وی کړے او مړ شو او مال ترے پاتے وی نو واجب ده چه حج ترے اوشی او که مسکینان وی نو بیا په اولادو باندے واجب نه ده چه د هغوی د طرفه نه حج اوکړی هاؤ ! که تبرّعًا او احسانًا ئے کوی نو غوره ده۔

۳۵- کله چه نیت د احرام ځان دپاره اوتړی او بیا ئے بدلوی د پلار یا مور دپاره نو دا ټیك نده ځکه الله تعالی فرمائی :

﴿ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ﴾ اکثر اهل علم فرمائی : حج او عمره په شروع سره لازمیږی۔

۳۶- یو حج د دوه کسانو د طرف نه بالاتفاق نۀ صحیح کیږی۔



۳۷- جده میقات ندے که څوك جدی ته بلا احرام اورسیدو او د حج یا د عمرے اراده ئے وی نو په دۀ باندے میقات ته تلل لازم دی که ورله ممکن وی او که چرته ممکن نۀ وی نو د بعض علماؤ په نیز په دۀ باندے دم لازم دے۔

او که د حج یا عمرے اراده ئے نه وی روسته ئے اراده پیدا شی نو بیا د جده وغیره نه احرام تړلے شی ( بخاری)۔

۳۸- په هیره یا په خطاء سره ویخته یا نوکونه اخستلو باندے هیڅ نشته قال تعالی :

﴿ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا ﴾ قَالَ قَدْ فَعَلْتُ. اِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِیْ الْخَطَاَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوْا عَلَيْهِ.

ابن ماجه۔

۳۹- دارنګه که چا په احرام کښې سهوًا یا په خطا سره ښکار مړ کړو نو په ده باندے جزاء نشته علی القول الراجح۔ کوم اثر چه قرطبی یا تفسیر احسن الکلام ٤/ کښې لیکلے نو هغه مرفوع او صحیح حدیث ندے بلکه د صحابو اقوال دی د یو بل سره متعارض دی هلته ئے اوګوره، قرآن کښې ﴿ مُتَعَمِّدًا ﴾ قید راغلے دے په همدے عمل پکار دے۔

۴۰- بعض خلق طواف فرض مخکښې د عرفات د تللو نه کوی دا غلط کار دے طواف فرض د اختر د نیمے شپے نه مخکښې په اتفاق سره نه کیږی بلکه د اختر په ورځ یا په صبا له کول پکار دی۔

۴۱- **طواف وداع** - آخری طواف دے چه د هغے نه روسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حصاريدل نشته مګر که د رش (ګنړې) د وجه نه پاتې شي لږ وقت نو باك نشته۔ دارنګه که د طواف وداع نه بعد څه سامان مکه کښې اخلي نو خير دے۔

٤٢- په حرم شريف کښې يو شے چا اوموندلو نو لازما به ئې اعلان کوي هميشه دپاره، خو که دا کار ورته ګران وي نو حکومت ته ئې دې اوسپاري، ځکه لقطه د حرم هميشه حرامه ده۔ د باقي علاقو پشان حکم نه لري (بخاري، مسلم)

٤٣- شيطان ويشتلو کښې بعض خلق هغه عمود (ستنه، ديوال) ته شيطان وائي او حال دا دے چه شيطان ويشتل هغه حوض دے کوم کښې چه دغه ستنه ولاړه ده۔ دا ستنه نښه ده د شيطان، نو ته به کانړے د هغه حوض کښې اچوے دغه ولاړه ستنه، ديوال ويشتل نشته، هاؤ که هغه ډے اوويشتلو او کانړے حوض کښې واقع شو نو کار اوشو۔

٤٤- په تقديم او تاخير د طواف يا سعي يا شيطان ويشتلو يا ذبح کولو کښې څه نه لازميږي ليکن پدے ترتيب سره حج کول غوره او افضل عمل دے (رذح طس) يعني رمي، شيطان ويشتل، بيا ذبح کول، بيا سر خرئيل، بيا طواف بيا سعي کول۔

او هر چه اثر د ابن عباسؓ دے :

[مَنْ نَسِيَ مِنْ نُسُكِهٖ شَيْئًا اَوْ تَرَكَ فَلْيُهْرِقْ دَمًا].

نو دا د نبي ﷺ قول ندے او د ابن عباسؓ نه نقل شويدے په سنن کبرى کښې دارنګه ارواء الغليل (۱۱۰۰) باسناد صحيح



ليکن دا رأى د ابن عباسؓ ده او مرفوع حديث کښې خطا او نسيان معافي راغلې ده لکه الموسوعة الفقهية لحسين بن عوده کښې تفصيل دے (۲۹۸/٤)۔

000000

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاتمه د کتاب

**د مسجد نبوی او نبی ﷺ د قبر زیارت له** ( زما نفس دِے د هغه نه قربانی شی) **او دا رنگه غارِ حراء یا نورو مسجدونو ته د تللو بیان ۔**

اوله خبره داده : چه په حج کښے مدینے ته تلل نه فرض نه واجب او نه سنت دی۔ بلکه مدینے طیبے ته تلل د حج سره هیڅ تعلق نه لری بلکه مدینه طیبه ته تلل په غیر د حج نه سنت دی او اظهار محبت دے لیکن حاجیان ځکه په حج کښ مدینے ته ځی چه مدینے ته جدا سفر کول د پاکستان نه یا د بل ملك نه کول گران دی هر څوك چه دمدینے طیبے ته تلل غواړی نو هغه دِے اول دے حدیث باندے عمل کولو دپاره لاړ شی چه رسول الله ﷺ فرمائی : چه زما مسجد کښے یو مونځ کول په زرو (۱۰۰۰) مونځونو حسابیږی۔ [ بخاری، مسلم ]۔

او کوم روایت کښے چه پنځوس زره مونځونه راغلی دی هغه روایت ضعیف دے نو هرکله چه مدینے طیبے ته اورسیږی او په مسجد نبوی کښے تحیه مسجد اوکړی نو بیا به د رسول الله ﷺ د روضے مقدسے دپاره ورشی لیکن د اول نه به د محمد ﷺ د قبر زیارت اراده نه کوی دا خبره ځکه کوو چه بیا د حدیث د محمد



ﷺ نه خلاف راځی او داسے نه ده پکار چه محمد ﷺ سره مینه کوے او د هغه د وینا نه مخالفت کوے بیا به ددے مثال داسے شی لکه پښتانه وائی ( د خره مینه لغطه وی )۔

او د هغه په حدیث کښے دا دی :

عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَشُدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا اِلٰی ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ، اَلْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی وَمَسْجِدِیْ هٰذَا. متفق علیه۔

**ترجمه** : روایت دے د ابوسعید الخدریؓ نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه سفر به نه شی کولے او بل روایت کښ راځی چه سفر مه کوئ هیڅ ځائے ته مگر درے جماتونو ته ئے کوئ ځکه دا موجب د ثواب دی چه هغه مسجد حرام او بیت المقدس او مسجد نبوی دے۔

او بله وجه دا ده چه پدے باندے ټولو صحابو – رضی الله عنهم– اجماع کړیده چه یو ځائے ته یا یو قبر یا یو مسجد ته – سوا ددے درےو مسجدونو نه– سفر کول پدے نیت چه هلته ثواب ډیر ملاویږی دا ناروا او بدعت دے۔

او کوم صحابه چه بصره، کوفه، شام، مصر، اویمن وغیره کښ اوسیدل نو یو هم د رسول الله ﷺ د قبر زیارت نه دے کړے -

بلکه کوم خلق چه هغه حدیث پیش کوی چه بلال رضی الله عنه رسول الله ﷺ په خوب کښ اولیدلو چه ورته وے وئیل چه بلاله ! ولے مدینے طیبے ته نه راځی نو بلال رضی الله عنه مدینے ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغے او مسجد نبوی کښے ئے اذان اوکړلو او مدینه په لړزان شوه او ټول خلق په ژړا شو تردے چه ښځے د کورونو نه راووتلے۔ دا حدیث نه دے بلکه دروغ دی [ المنار المنیف]۔ اوګوره الموضوعات لابن جوزیؒ۔ او دا حدیث په اتفاق د علماؤ نه دے ثابت۔

**امام مالک**ؒ چه د مدینے طیبے اوسیدونکے عالم دے هغه به دا قول بد ګنړلو چه یو سړے اووائی : زرت قبر النبی ﷺ۔ ما د رسول الله ﷺ د قبر زیارت اوکړلو او همدارنګه پدے خبره باندے نور ډیر دلائل دی۔ بعضے خلق دا حدیث پیش کوی :

مَنْ زَارَنِیْ بَعْدَ وَفَاتِیْ فَکَاَنَّمَا زَارَنِیْ فِیْ حَیَاتِیْ۔

رسول الله ﷺ فرمائی : چا چه ځما زیارت زما د مرګ نه پس اوکړلو نو ګویا کښ ده زما په ژوند کښ زما زیارت اوکړلو دا حدیث موضوع دے، دروغژن دے یعنے چا رسول الله ﷺ باندے دروغ وئیلی او جوړ کړیدی۔ او بعضے بل غلط حدیث پیش کوی چه :

مَنْ حَجَّ فَلَمْ یَزُرْنِیْ فَقَدْ جَفَانِیْ – او – مَنْ زَارَنِیْ وَزَارَ اَبِیْ فِیْ عَامٍ وَاحِدٍ ضَمِنْتُ لَهٗ عَلَی اللّٰهِ الْجَنَّةَ۔

**ترجمه** : چا چه حج اوکړلو او زما زیارت ئے اونکړو نو ده زما سره جفا اوکړه او چا چه په یو کال کښے زما او زما د پلار یعنے ابراهیم علیه السلام زیارت اوکړو نو دا به جنتی وی۔ دا ټول روایتونه غلط دی اګر که مولیانو په خپلو کتابچو کښ لیکلی دی۔ ځکه دا حدیثونه په صحاح سته و کښ نشته۔ او نه په



مسند احمد کښ شته او نه په نورو مشهورو کتابونو د احادیثو کښ شته بلکه دا قسم روایتونه دارقطنی په موضوعی سندونو سره ذکر کړیدی نو دے قسم حدیثونو له هیڅ قسم اعتبار په دین کښے نشته۔ بعضے بے تحقیقه خلق وائی : چه دا خو صرف د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ قول دے او نور علماء داسے نه وائی۔

**زه وایم** چه ټول پیغمبران خصوصا نبی ﷺ او ټول صحابه او تابعین او ټول امتِ مسلمه پدے خبره کومه چه مخکښے بیان شوه متفق دی، سوا د څو بدعتیانو نه څه پکښے ځان ته محبانِ رسول الله وائی۔ او حال دا دے چه نه د هغه د سنت نه خبر دی او نه د هغه د طریقے نه خبر دی بلکه هسے بے ځایه دعویٰ کوی۔

نو اے مسلمانانو ! د صحیح دین تابعدار شئ ځکه محمد ﷺ مونږ په واضحه لار پریښی یو مونږ ته ئے پوره دین رارسولے دے ددے دین تابعداری کول ضروری دی نورو طریقو جوړولو ته حاجت نشته۔

**کله چه مدینے طیبے** ته اورسیږی نو اول به مسجد نبوی ته لاړ شی هلته به په سنت طریقه داخل شی یعنی درود به اووائی او دا دعا به اووائی :

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ۔

لکه حدیث د مشکات کښے راغلی دی بیا که د جمعے وخت نه وو نو دوه رکعته تحیة المسجد به کوی که چا په (روضة من ریاض الجنة) کښے اوکړل نو ډیره ښه ده بیا به د رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



روضے مبارکے تـه راشي او درود، سلام به اووائی، قبلے ته به ئے شا وی او حجرے ته به ئے مخ وی۔

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما به داسے سلام کولو :

السلام عليك يا رسول الله السلام عليك يا ابابكر، السلام عليك يا ابتِ۔

سلام دِے وی په تاباندے اے د الله رسوله۔ سلام دِے وی په تا باندے ابوبکره !۔ سلام دِے وی په تاباندے اے پلاره !۔ ځکه چه عمر رضی الله عنه دده پلار وو (موطا امام مالك) او همدارنګه سلام به نورو صحابه کرامو کولو۔

او کله چه مسجد ته داخل شی امام احمد، شافعی، مالك۔ رحمهم الله – وائی : چه په وقت د درود او سلام کښے به حجرے د رسول الله ﷺ ته مخ کوی او قبلے ته به شا کوی او د امام ابوحنيفةؒ قول دا دے چه حجرے ته به شا کوی او قبلے ته به مخ کوی او بعضے حنفی علماء وائی : چه حجره به چپ طرف ته ګرځوی۔

او که په سلام کښ سرے دا الفاظ زيات کړی : السلام عليك يا نبی الله ﷺ يا خير خلق الله يا کريم الخلق علی ربه، يا امام المتقين نو صحيح ده ځکه دا ټول صفات د رسول الله ﷺ دی ليکن په اتفاق د علماؤ سره به سړے د رسول الله ﷺ حجرے ته دعا نکوی بلکه قبلے ته به مخ کوی دا اتفاقی مسئله ده بيا به په ابوبکر رضی الله عنه سلام واچوی او بيا به په عمر فاروق رضی الله عنه باندے۔

نو کله چه فارغ شی نو قبلے ته دِے متوجه شی او دعا دِے ځان



دپاره غواړی مدينه طيبه کښے بل مسجد دے چه هغے ته مسجد قباء وائی او دا اول رسول الله ﷺ آباد کړے وو کله ئے چه مدينه طيبه ته هجرت اوکړلو او کله چه مسجد نبوی آباد شو نو بيا به د خالی ( هفتے ) په ورځ باندے کله په سورلئ او کله پياده ورتلو او دوه رکعاته مونځ به ئے پکښے کولو او دا به ئے فرمائيل : چه مسجد قباء کښ مونځ کول د عمرے هومره ثواب لری نو حاجی صاحب لره پکار دی چه مسجد قباء ته ددے سنت د اتباع دپاره لاړ شی او نور کوم جماتونه چه په مدينه طيبه کښے آباد دی د هغے حکم د ټولو جماتونو پشان دے، د هغے دپاره د عبادت په نيت تګ نشته او که انسان هسے چکر ته ځی نو جائز ده۔

بلکه دغه مساجد سبعه (اوه مسجدونه) او مسجد علیؓ او فاطمهؓ او مسجد ابوبکر او مسجد عمر رضی الله عنهم دا ټول جماتونه ترکيانو جوړ کړيدی۔ دے مساجدو ته تلل او دوه دوه رکعته مونځ کول په کښے بدعت دے۔

**او رسول الله** ﷺ به بقيع مقبرے ته تللو کومه چه مسجد نبوی ته نزدے ده نو حاجيانو صاحبانو له دغه مقبرے ته ورتلل پکار دی۔ پدے مقبره کښے بے شماره شهيدان صحابه رضی الله عنهم پراته دی او عبرت دِے ترينه واخلئ چه دا خو د ټولو اولياءِ کرامو سردران دی او بيا هم نه پرے جنډے شته او نه پرے شالونه شته او نه پرے ګنبدونه شته او نه ئے قبرونه پاخه دی۔

نو حاجيانو له ترے عبرت اخستل پکار دی او د دنيا نه بے

(c) ketabton.com: The Digital Library



رغبتي کول ورله پکار دي چه دا صحابه کرام رضی الله عنهم ددې فاني دنیا نه لاړل نو یو ورځ به مونږ هم ځو۔ بیا ډې مدینه طیبه کښې اوسیږي او مسجد نبوي کښې ډې مونځونه کوي چه ترې قضاء نشي۔

## مدینه طیبه ته په ورتللو کښ بدعات

۱ – اول بدعت : صرف د رسول الله ﷺ د قبر د زیارت دپاره اراده کول بدعت دې بلکه سنت طریقه دا ده چه اول به د مسجد نبوي نیت اوکړې بیا به خپله ورسره زیارت هم اوکړې۔

۲ – ځوك چه مسجد نبوي ته ځي هغوی ته درخواستونه (عریضې) ورکول چه محمد ﷺ ته زما دا عرض اوکړه او دا عرض اوکړه دا بدعت دې۔

۳ – مدینه طیبه ته د داخلیدو دپاره غسل کول بدعت دې۔

٤ – مدینه طیبه ته د داخلیدو په وقت هیڅ قسم دعا او ذکر نشته ۔ دې مقام کښې خاص دعا کول بدعت دې۔

٥ – د تحیة المسجد نه مخکښې زیارت کول بدعت دې۔ یعني اول به تحیة المسجد اوکړي بیا به زیارت اوکړي۔

٦ – د رسول الله ﷺ قبر مبارك ته په خشوع سره اودریدل اومونځ پشان ښې لاس په چپ لاس کیخودل دا عمل بدعت دې۔

٧ – په وخت د دعا کښې قبر ته مخ کول افضل نهٔ دي۔



۸ – ځوك چه وائي د قبر په خوا کښې دعا ښه قبلیږي دا غلط وائي۔

۹ – نبي علیه السلام ته په وسیله کښې پیش کول بدعت دې چه یو انسان اووائي اې الله ! دده په خاطر زما دا دعا قبوله کړې ځکه په انسانانو او نیك بندګانو باندې وسیله نیول نشته بلکه نبي علیه السلام باندې ایمان لرل او د هغه تابعداری کول دا ثویه وسیله ده۔

۱۰ – د نبي علیه السلام نه په دنیا کښې شفاعت طلب کول بدعت دې ځکه د هغه شفاعت به صرف قیامت کښې شروع کیږي۔

۱۱ – بعضې جاهلان رسول الله ﷺ غیبدان ګڼړي دا د مشرکانو عقیده ده۔

۱۲ – د تبرك حاصلولو دپاره د رسول الله ﷺ حجرې پورې لاس یا نور بدن راخکل غلط دي۔

۱۳ – د قبر یا د لرګی خکلول بدعت دې۔ دا ټول بدعات په السنن والمبتدعات، اغاثة اللهفان د ابن قیمؒ، الاعتصام د شاطبیؒ، فتاوی شیخ الاسلام او حجة النبي د البانيؒ کښې ذکر دي۔

۱٤ – امام غزاليؒ په احیاء العلوم کښې د درود او سلام څه خاص الفاظ ذکر کړیدي او حال دا دې چه پدې باب کښې صحیح څه ندي ثابت بلکه هغه درود غوره دې کوم چه په مانځه کښې لوستلې شي۔ او د ابن عمر طریقه مخکښې مونږ ذکر کړه۔

۱٥ – قبر شریف ته د مانځه دپاره مخامخ اودریدل ډیر لوی بدعت دې۔ بلکه غیر الله ته سجده ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶- بعضے په محراب کښے دوه دوه رکعاته کوی او دا وائی چه دا د رسول الله ﷺ محراب دے او حال دا دے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے محراب نه وو بلکه دا خو ترکیانو جوړ کړیدے۔

هاؤ ! روضة من رياض الجنة کښے مونځ شته۔

۱۷- د قبر نه گیر چاپیره د ذکر او تلاوت دپاره کیناستل بدعت دے۔ اقتضاء الصراط المستقيم-(۲۱۰)

۱۸- د هر مانځه نه روستو د رسول الله ﷺ قبر له ورتلل او په هغه باندے سلام وئیل بدعت دے۔

۱۹- د مانځه نه پس په اوچت آواز سره : السلام علیك یا رسول الله وئیل بدعت دے۔

۲۰- په روضه کښے په خاص کجورو سره - چه هغے ته صیحانی وائی - خیرات کول غلط عمل دے۔

۲۱- ددے التزام کول چه پخوانی مسجد کښے مونځ اوکړم کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے وو او حال دا دے چه د صفِ اول خیال نه ساتی داخبره غلطه ده بلکه ټول مسجد نبوی یو شان حکم لری یعنی کوم زیادت چه په مسجد نبوی کښے شویدے د هغے هم هغه شان اجر دے کوم چه قبل الزیادت دے۔

۲۲- څلویښت مونځونه کول په مسجد نبوی کښے ضروری نه دی بلکه یو ضعیف حدیث کښے راغلی دی۔ نو دا ضروری گڼړل بدعت دے۔

۲۳- د زیارت په ورځ د احد د شهیدانو زیارت کول او دا ورځ



ورله خاص کول بدعت دے۔

۲۴- د مسجد نبوی نه په شا راوتل بدعت دے۔ همدغسے نور بدعات هم شته۔ چه ځان ساتل ترے ضروری دی۔

**غارِ حراء یا غار ثور ته تلل** د چکر دپاره جائز دی لیکن د عبادت یا ثواب په نیت تلل بدعت دے ځکه رسول الله ﷺ ته چه کله وحی اوشوه او په تبلیغ ورته امر اوشو نو بیا هغه غارونو ته د عبادت دپاره ندے تلے او نه ئے چا ته امر کړیدے پدے خبره باندے۔ او نه یو صحابی دغه غارونو ته د عبادت دپاره تلے دے۔

نو هغه کسان جاهلان دی چه دغه غارونو ته بلاضرورته ځی او هلته په غارونو کښے دوه دوه رکعاته مونځ کوی هلته مونځ کول نشته دے۔ دا پکښے بل بدعت دے۔ تاسو به چرته عرب او نه وینئ چه هغه دغه غارونو ته ځی بلکه صرف ترکیان او بعض افغانان ورته روان وی۔ او بعض ناپوهه خلق د خپل ځان سره زنانه هم بوځی۔ دا هسے تکلف او مشقت کول دی۔

**بیت المقدس** ته سفر کول ثواب لری لکه حدیث کښے راځی رسول الله ﷺ فرمائی : چه په بیت المقدس کښے مونځ کول یو په پنځه سوه دے۔ او دا صحیح حدیث دے۔ او په بعض روایاتو کښې (۲۵۰) دوه نیم سوه مونځونو ثواب ذکر دے لکه په تمام المنه کښې ذکر دے۔

لیکن بیت المقدس ته دحج په ورځو کښې تلل څه ضروری نه دی۔

دا یو څو مسائل مونږ مختصراً ذکر کړل په مشوره د بعضے

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library